د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک اقتصادي او احصائیوي کلنی بولټن

( د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر له ۲۱ څخه د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبـر تر۲۰ پورې)

# اقتصادي او احصائيوي بولټن

د افغانستان بانک اقتصادي او احصائيوي کلنی بولټن

( د ۲۰۱۴ کال د ډيسمبر له ۲۱ څخه د ۲۰۱۵ کال د ډيسمبر تر۲۰ پورې)

ابن سینا واټ
کابل
افغانستان
ټلیفون ۲۱۰۳۹۳۲-۲۰-۹۳+
وب پاڼه: www.dab.gov.af
بریښنالیک: info@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د ټولو مطالبو د خپرولو حق خوندي دی؛ خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي.
د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان نوی مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ (د مرغومې لومړۍ نېټه) پیلیږي. دا کلنی بولټن د ۱۳۹۴ مالي کال ( د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر له ۲۱ څخه د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر ۲۰ پورې) اقتصادي او احصائیوي بدلونونه رانغاړي.

**د محتویاتو لړلیک**


**عمومي کتنه** ۱
**۱. نړیوال اقتصادي وضعیت** ۵
**۲. د پانګې او پولي بازار بدلونونه** ۹
۱. پولي پروګرام ۹
۲. د نقدینه ګی حجم ۱۰
۱.۲. خالصه نړیواله زېرمې ۱۳
**۳. د اسعارو د مبادلې بازار** ۱۳
۱.۳ د اسعارو د مبادلې نرخونه ۱۳
۲.۳ د اسعارو لیلام ۱۴
**۴. د پانګې بازارونه او د سیالیت شرایط** ۱۷
۱.۴ د پانګه ایزه پاڼو لیلام ۱۷
۲.۴ الزامي او اضافي زېرمې ۱۸
**۳. د انفلاسیون بهیر او لید لوری** ۲۷
**۱.۳ په افغانستان کې د مصرفي توکو بیې** ۲۷
۲.۳ د ملي عمومی مصرفي توکو د بیې د شاخص بدلونونه ۲۸
۳.۳ د کابل د مصرفي توکو د بیې په شاخص کې بدلونونه ۳۱
**۴.۳ د سیمې د انفلاسیون بهیر** ۳۵
۱.۴.۳ په پاکستان کې انفلاسیون ۳۵
۲.۴.۳ په هند کې انفلاسیون ۳۶
**۵.۳ د انفلاسیون لنډ مهاله لید لوری** ۳۶
۱.۵.۳ خطرونه ۳۶
**۴. د بهرني سکتور بدلونونه** ۳۹
۱.۴ د تادیاتو بیلانس ۳۹
۲.۴ د توکو سوداګري ۴۱
۳.۴ د سوداګرۍ لوری ۴۳
۴.۴ د سوداګرۍ ترکیب ۴۶
۵.۴ بهرنی پوراینې ۴۸
۶.۴ خالصه نړیواله زیرمې ۴۹

**۵. د حقیقي سکتور بدلونونه** ۵۳
۱.۵ کورني ناخالصه تولیدات د تولیدي سکتور پر اساس ۵۳
۱.۱.۵ کورني ناخالصه تولیدات د لګښتونو د کټګوریو پر اساس ۵۶
۲.۵ د ۱۳۹۴ کال لید لوری ۵۷
**۶ د مالي سکتور بدلونونه** ۶۱
۱.۶ د بودجې د اجراء نرخ ۶۱
۲.۶ د بودجې کسر ۶۱
۳.۶ د عوایدو راټولول ۶۱
۴.۶ د بسپنه ورکوونکو مرستې ۶۳
۵.۶ لګښتونه ۶۳
**۷. د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی** ۶۸
۱.۷ د بانکي نظام شتمنی ۶۷
۲.۷ ناخالص پورونه ۶۹
۳.۷ د بانکونو ترمنځ طلبات ۷۱
۴.۷ پانګه اچونه ۷۲
۷.۵ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۷۲
۶.۷ **پوراینې** ۷۲
۱.۶.۷ امانتونه ۷۳
۲.۶.۷ پور اخیستنې ۷۴
۷.۷ **نقدینګی (سیالیت)** ۷۴
۸.۷ **پانګه** ۷۴
۱.۸.۷ د سیالیت نسبت (پراخه کچه) ۷۴
۹.۷ **ګټورتیا (نافعیت)** ۷۵
۱۰.۷ **د اسعارو خطر** ۷۷
۱۱.۷ **د ټکټانې د نرخ خطر** ۷۷

**د ګرافونو لیست**


۱.۲ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره پولي زېرمې ۱۰
۲.۲ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره په ګردښت کې پیسې ۱۰
۳.۲ ګراف: جاري امانتونه د M2 د ونډې په توګه(٪) ۱۱
۴.۲ ګراف:د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه (٪) ۱۱
۵.۲ ګراف: ۱۳۹۴ مالي کال لپاره حقیقي او ټاکلې خالصه نړیواله زېرمې (په میلیون ډالرو) ۱۳
۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ۱۳۹۴ مالي کال ۱۴
۷.۲ ګراف: د بریتانیایي پاونډ او یورو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال ۱۴
۸.۲ ګراف: د هندي روپۍ او پاکستاني روپۍ په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال ۱۴
۹.۲ ګراف: د ایراني رېال په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال ۱۴
۱۰.۲ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال ناتصفیه شوې پانګه ایزې پاڼې ـ ۱۳۹۴ مالي کال ۱۷
۱۱.۲ ګراف: د ۷ ورځنیو پانګه ایزه پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوي مبلغ ۱۸
۱۲.۲ ګراف: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزه پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ۱۸
۱۳.۲ ګراف: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزه پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ۱۸
۱۴.۲ ګراف: د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ ۱۸
۱.۳ ګراف: د ملي عمومی مصرفي توکو د بیې شاخص ۲۸
۲.۳ ګراف: اصلي انفلاسیون (۳۰ سلنه د قیچي کارۍ میتود یا Trimmed Mean) ۲۸
۳.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بیو شاخص( ربعه په ربعه) ۳۰
۴.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بیو د شاخص انفلاسیون ۳۲
۵.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بیې شاخص (ربعه په ربعه) ۳۴
۶.۳ ګراف: د پاکستان د مصرفي توکو د بیو عمومي شاخص (کال په کال) ۳۶
۷.۳ ګراف: د هند د مصرفي توکو د بیو د شاخص عمومي انفلاسیون (کال په کال) ۳۶
۱.۴ ګراف: جاري حساب، توکو، خدمتونو، عوایدو او جاري لیږدونو حساب (په میلیون ډالر) ۴۰
۲.۴ ګراف: پانګه ایز او مالي حسابونه ۴۱
۳.۴ ګراف: د افغانستان د بهرنیو مستقیمو پانګونو جریانونه ۴۱
۴.۴ ګراف: د صادراتو، وارداتو او د سوداګرۍ بیلانس(په میلیون ډالر) ۴۱
۵.۴ ګراف: د سوداګرۍ فعالیت او د سوداګرۍ بیلانس(په میلیون ډالر) ۴۳
۶.۴ ګراف: د وارداتو لوری( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال ۴۴
۷.۴ ګراف: د صادراتو لوری( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۳ مالي کال ۴۴

۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال ۴۵
۹.۴ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۳ مالي کال ۴۵
۱۰.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۳ مالي کال ۴۷
۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال ۴۷
۱۲.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۳ مالي کال ۴۷
۱۳.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال ۴۸
۱۴.۴ ګراف:د بهرنۍ پوراینې پرتله، د ۱۳۹۳ مالي کال دریمه ربعه او د ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه ۴۹
۱۵.۴ ګراف: د تیرو دورې په اوږدو کې خالصه نړیواله زېرمې( په میلیون افغانۍ) ۵۰
۱.۵ ګراف: په کورني ناخالصه تولیداتو کې د سکتورونو ونډه (په سلنه) ۵۳
۲.۵ ګراف: د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( د سلنې له بدلونونه) ۵۶
۱.۶ ګراف: د ۱۳۹۳ کال په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال کورني عواید ۶۱
۲.۶ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال د ټولیزه عوایدو ترکیب ۶۲
۳.۶ ګراف: د مالیاتي عوایدو پرتله ۶۲
۴.۶ ګراف: دکورني عوایدو ترکیب: د ۱۳۹۴ مالي کال له پیل څخه تر اوسه (حقیقي) ۶۲
۵.۶ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال د ملي بودجې مالي سرچینې ۶۳
۶.۶ ګراف:د بسپنه ورکوونکو د ونډې پرتله ۶۳
۷.۶ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال د ملي بودجې ترکیب ۶۳
۱.۷ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه ۶۸
۲.۷ ګرتف: د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه ۶۹
۳.۷ ګراف: د پورونو د کیفیت پورتوفولیو ۷۱
۴.۷ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د خپل منځي طلباتو ونډه ۷۲
۵.۷ ګراف: پوراینې ۱۹.۳۳ میلیارده افغانۍ یا ۸.۵۳ سلنه زیاتې شوي ۷۲
۶.۷ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکیب ۷۳
۷.۷ ګراف: په افغانۍ ایښودل شوي امانتونه ۷۳
۸.۷ ګراف: امانتونه ۸.۲۹ سلنه یا ۱۸.۱۵میلیارده افغانۍ زیات شوي دي ۷۴
۹.۷ ګراف: د امانتونو ډله بندي ۷۴
۱۰.۷ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا (نافعیت) ۷۶
۱۱.۷ ګراف: له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه ۷۶
۱۲.۷ ګراف: د بانکي نظام نهایي خالصه ټکټانه ۷۶

**د جدولونو لیست**


۱.۲ جدول: د ۱۳۹۴ مالي کال د نقدینه ګی حجم ۱۲

۲.۲ جدول: د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره د بهرني اسعارو د لیلام لنډیز (په میلیون ډالر) ۱۵

۳.۲ جدول: د ۷ ورځنیو پانګه ایزه پاڼو لیلام (په میلیون افغانی) ۲۰

۴.۲ جدول: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام (په میلیون افغانی) ۲۱

۵.۲ جدول: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام( په میلیون افغانی) ۲۲

۶.۲ جدول: د۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام ( په میلیون افغانی) ۲۳

۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه ( کال په کال) ۲۹

۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاوو وېشنه ( ربعه په ربعه) ۳۱

۳.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (کال په کال) ۳۳

۴.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د ربعې په ربعې بدلونونه ۳۵

۱.۴ جدول: د جاري حساب بیلانس ۴۰

۲.۴ جدول: پانګه ایز او مالي حسابونه ۴۰

۳.۴ جدول: د توکو د سوداګرۍ اجزاوې (په میلیون ډالر) ۴۲

۴.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لوری، ۱۳۹۴ مالي کال (په میلیون ډالر) ۴۵

۵.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لوری، ۱۳۹۳ مالي کال (په میلیونه ډالر) ۴۶

۶.۴ جدول: د ۱۳۹۳ مالي کال د بهرنیو پوراینو د اجزاوې ۴۸

۷.۴ جدول: د ۱۳۹۴ مالي کال خالصه نړیواله زېرمې( په میلیون ډالر) ۵۰

۱.۵ جدول: د سکتورونو له مخې کورني ناخالصه تولیدات (GDP) (د سلنې له مخې) ۵۴

۲.۵ جدول: د تولیداتو د سکتورونو لخوا د حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو وده (د سلنې له مخې) ۵۵

۳.۵ جدول: د لګښت د کټګوریو له مخې اسمي کورني ناخالصه تولیدات (کال په کال) ۵۷

۱.۷ جدول: د بانکي نظام د شتمنی او پوراینې ترکیب ۶۸

۲.۷ جدول: د کریډټ سکتوري وېش ۷۰

۳.۷ جدول: د بانکي نظام د مالي ټینګښت مهم شاخصونه ۷۵

۴.۷ جدول: د بانکي نظام ګټه/ زیان ۷۶

# د افغانستان بانک مشر تابه پلاوی



خلیل صدیق

د افغانستان بانک لوی رئیس



خان افضل هډه وال

د افغانستان بانک لومړی مرستیال



محمد قسیم رحیمي

د افغانستان بانک دویم مرستیال



## د لوی رئیس پیغام

"د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه د ټولنې د ډېرو زیانمنونکو برخو ساتنه ده چې دا چاره د سالم او اغیزناکه پولي سیاست د تطبیقولو له لارې چې تمرکز یې د بیو پر ثبات (د بانک لومړني هدف) باندې دی، ترسره کیږي."

**عمومي کتنه**

د افغانستان بانک د ۱۳۹۴ مالي کال احصائیوي بولټن په ۱۳۹۴ مالي کې د هېواد د اقتصاد هر اړخیزه بدلونونه رانغاړي.

دا بولټن په ۱۳۹۴ مالي کال کې د هېواد د ټولو سکتورونو وروستي بدلونونه او همدا ډول د دې سکتورونو پر وړاندې ننګونو څېړنه او ارزونه تر بحث لاندې نیسي.

د افغانستان اقتصاد په ۱۳۹۴ مالي کال کې له ګڼ شمېر ننګونو او خنډونو سره مخ ؤ چې د دې ننګونو اصلي لاملونه نورو هېوادونو ته د افغانانو ډله ایز مهاجرت، د پانګې تېښته، خراب امنیتي وضعیت او له ټولو مهم په هېواد کې سیاسي او اقتصادي بې ثباتي ګڼل کیږي.

په پایله کې یې د هېواد اقتصاد له رکود سره مخ او کورنی ناخالصه تولیدات منفي ۲.۲ سلنې ته راکم شو. د وړاند وینو پر بنسټ، په ۱۳۹۴ مالي کال کې د هېواد د درې واړو اقتصادي سکتورنو کړنې ښې نه وې، له دې ډلې د کرنې سکتور چې د هېواد د اقتصاد اصلي محرک ګڼل کیږي د ۱۳۹۳ مالي کال د ۳.۷ سلنې ودې په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې منفي ۱۶.۹ سلنه وده ثبت کړې ده. په همدې ترتیب د صنعت او خدمتونو سکتورنو په ترتیب سره ۱ سلنه او ۱.۳ سلنه مثبته وده درلوده. په ورته وخت کې اصلي انفلاسیون چې د اوسط مونډنې د میتود (۳۰٪ قیچې کاری یاTrimmed Mean) پر بنسټ محاسبه کیږي، د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې راټیټ شوی دی. اصلي انفلاسیون (کال په کال) ۲.۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۴.۳ سلنې په پرتله کموالی ښکاره کوي.

د افغانستان بانک د پیسو د نړیوال صندوق د پروګرام ( د کارکوونکو د کړنو د ارزونې پروګرام یا SMP) ټولې مقداري موخې ترلاسه کړي او د جوړښتي معیارونو په برخه کې یې لازم اقدامات ترسره کړي دي.

په ۱۳۹۴ مالي کال کې پولي زیرمې (د افغانستان بانک د عملیاتي هدف) په توګه ۳.۱۶ سلنه وده کړې ده چې ارزښت یې د ارزونې لاندې کال په پای کې ۲۳۲،۳۲۳.۵ میلیونه افغانی ته رسیږي. د حقیقی پولي زیرمو د ودې نرخ د کال د پای له ۷ سلنه ټاکلي هدف څخه راټیټ شوی دی. په ګردښت کې پیسې د افغانستان بانک د ضمني هدف په توګه د ارزونې لاندې کال کې ۲.۶۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې ارزښت یې ۲۰۲،۱۶۹.۳ میلیونه افغانی ته رسیږي.

د هېواد د کړکیچن اقتصادي او سیاسي وضعیت له امله بهرنی سکتور هم اغیزمن شوی دی. شته شمېرې ښکاره کوي چې د جاري حساب کسر د تیر کال د ۴،۰۲۰.۲۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴،۸۰۹.۹۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته زیات شوی دی. په ورته وخت کې د پانګه ایزه حسابونو د ادراینو بیلانس د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۵۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې د دې ټیټوالي اصلی لامل هېواد ته د پانګې کمه لیږدونه ګڼل کیږي.

د نوي مالیاتي اقداماتو او اداري سمونونو د پلي کولو په پایله کې کورني عواید ( مالیاتي عواید او غیر مالیاتي عواید) لوړ شوي دي. ټولیزه راټول شوي عواید په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱۲۳.۴ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د ۱۱۴.۲ میلیارده افغانی ټاکل شوي هدف په پرتله ۲۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

بانکي نظام په ۲۰۱۵ زیږدیز کال ( ۱۳۹۴ مالي کال) کې ۵۲۲ میلیونه افغانی خالصه ګټه کړې ده چې د تیر کال د ۲.۰۲ میلیارده افغانی خالصې ګټې په پرتله کموالی ښکاره کوي. خصوصي بانکونه او د بهرنیو بانکونو نمایندګی د

ارزونې لاندې کال له ګټې سره پای ته رسولی دی، حـال دا چې دولتي بانکونه په همدې موده کې زیانمن شـوي دي. د یادونې وړ ده چې د بانکي نظام شتمنۍ په **۱۳۹۴** مالـي کـال کې **۵.۴۸** سلنې یا **۱۳.۹۹** میلیارده افغانۍ ته زیاته شوې ده.



# ۱

# وضعيت اقتصادي ايران

۱

## نړیوال اقتصادي وضعیت

د ۲۰۱۵ کال په اوږدو کې د نړۍ اقتصاد په ډېرى هېوادونو او سیمو کې د نا انډوله کړنو له امله په معتدله توګه وده کړې ده. په ۱۳۹۴ مالي کال کې د نړۍ اقتصادي وده شاوخوا ۳.۱ سلنې ته رسیده چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۳.۴ سلنې په پرتله لږ څه ټیټوالی ښکاره کوي. د پرمختللو اقتصادونو د ودې نرخ د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې ښه شوی دی، حال دا چې د راغوړیدلو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو اقتصادي ودې ټیټیدونکې بهیر درلوده چې اصلي لاملونه یې د څینو سترو راغوړیدلو اقتصادونو او د تیلو د صادرونکو هېوادونو کمزوره اقتصادي کړنې په ګوته شوي دي. که چېرې د چین اقتصادي ودې د پام وړ کموالې په لاندې اقتصادونو اغیز ونکړي، تمه کیږي چې نړیواله اقتصادي وده به په ۱۳۹۵ مالي کال کې د پرمختللو اقتصادونو د معتدلې رغاونې او د راغوړیدلو او پرمختګ په حال کې اقتصادونو د تمې زیاتې ودې له امله ۳.۶ سلنې ته زیاته شي. د پرمختللو اقتصادونو د ودې نرخ په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲ سلنه ؤ، خو تمه کیږي چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲.۲ سلنې ته لوړ شي. همدا ډول د راغوړیدلو اقتصادونو د ودې نرخ په ۱۳۹۴ مالي کال کې شاوخوا ۴ سلنه اټکل شوی چې د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله ۰.۰۰۶ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي او تمه کیږي چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۴.۵ سلنې ته زیات شي.

د متحدو ایالتونو د ودې نرخ په ۱۳۹۴ مالي کال کې شاوخوا ۲.۶ سلنه اټکل شوی دی او تمه کیږي چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲.۸ سلنې ته زیاتوالی ومومي. د یورو په سیمه کې په پراخه توګه اقتصادي رغاونه لیدل کیږي چې له امله یې په ټولیزه توګه کورنۍ تقاضا او د انفلاسیون زیاتوالي پیاوړې رغاونه کړې ده. د یورو په سیمه کې د مناسبې اقتصادي رغاونې د رامنځ ته کیدو ترڅنګ کورنۍ تقاضا زیات شوې او د ودې نرخ یې په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱.۵ سلنه اټکل شوی دی.

د یورو د سیمې د ډېرو اقتصادونو د ودې لوړې وړاندوینې بیا کټل شوي دي، خو په یونان کې څرګنده بدلونونه په زیات احتمال سره د مخکنیو تمو په پرتله په اقتصادي کړنو باندې د خورا ستر باج اخیستلو له امله راغلي دي.

په جاپان کې د ۱۳۹۴ مالي کال په لومړۍ ربعه کې اقتصادي وده له تمې زیاته وه چې ۰.۶ سلنې ته رسیږي او اصلي لامل یې د پانګې د پانګونې زیاتوالی دی.

همدا ډول د مصرفوونکو وده ټیټه پاتې ده او د یوې ربعې له نیمایي زیاته وده یې د توکو په موجودۍ کې له بدلونونو څخه ترلاسه کیږي.

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د راغوړیدلو بازارونو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو اقتصادي وده راکمه شوې ده چې اصلي لاملونه د توکو ټیټې بیې، د پانګې ورو بهیدنې (جریانونه)، په یو شمېر هېوادونو کې سوداګریز بندیزونه او مخالفتونه او د چین په اقتصادي وده کې دوامداره ټیټوالی ګڼل کیږي.

د دې ټیټوالي اصلي لاملونه د توکو د ټیټې بیې د تعدیل اغیز، ټینګ بهرني مالي شرایط په ځانګړې توګه په لاتینه امریکا او د نفتو په صادروونکو هېوادونو کې، د چین بیا بیلانس کیدل او جوړښتي خنډونه دي. همدا ډول دې ټیټوالي د جیوپولټیکي عواملو په پام کې نیولو سره څینې اقتصادي

ستونزې په ځانګړې توګه د ګډو کټو په خپلواکه هېوادونو او د منځني ختیځ او شمالي افریقا په ځینو هېوادونو کې راولاړې کړي دي.

د چین د ودې نرخ د ۱۳۹۳ مالي کال له ۷.۳ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۶.۸ سلنې ته راکم شوی دی. د هند اقتصادي وده په ۱۳۹۴ مالي کال کې تقریباً ثابته پاتې شوې ده او د ۱۳۹۵ مالي کال لپاره ۷.۵ سلنه اټکل شوې ده چې عمده لامل یې په دې وروستیو کې د پالیسۍ سمون او د پانګه اچونې دوامداره زیاتوالی ښودل شوی دی.

د مصرفي توکو بیې په پرمختللو اقتصادونو کې د ۱۳۹۳ مالي کال له ۱.۴ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې کابو ۰.۳ سلنې ته راټیټې شوي دي.

د دې خلاف د مصرفي توکو بیې په غوړیدلو او د پرمختګ په حال اقتصادونو کې د ۱۳۹۳ مالي کال له ۵.۱ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې شاوخوا ۵.۶ سلنې ته زیاتې شوي دي. همدا ډول تمه کیږي چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې به د تیلو او نورو سوداګریزو توکو د بیو د ټیټیدونکي بهیر له امله د مصرفي توکو عمومي بیې له ۰.۰۰۵ سلنه ټیټوالی سره بیا هم ۵.۱ سلنې ته لوړې شي.

د نړۍ د سوداګرۍ وده د ۱۳۹۳ مالي کال له ۳.۳ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۳.۲ سلنې ته راښکته شوې ده. د پرمختللو اقتصادونو د سوداګرۍ بیلانس په ۱۳۹۴ مالي کال کې ښه بهیر نه درلوده چې د همدې مودې په اوږدو کې د وارداتو د ودې په پرتله د صادراتو وده کمزوره وه. د پرمختللو اقتصادونو د وارداتو د ودې نرخ د ۱۳۹۳ مالي کال له ۳.۴ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۴ سلنې ته لوړ شوی دی. په غوړیدلو بازارونو او د پرمختګ په حال اقتصادونو کې د ودې نرخ د ۱۳۹۳ مالي کال له ۳.۶ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱.۳ سلنې ته راټیټ شوی دی. د پرمختللو اقتصادونو صادرات په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۳.۱ سلنه زیات شوي دي، حال دا چې د غوړیدلو بازارونو او د پرمختګ په حال کې اقتصادونو صادرات د همدې کلونو په اوږدو کې له ۳.۹ سلنې څخه ۴.۸ سلنې ته زیات شوي دي.



# ۲

# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

## ۲
# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

د پانګې او پولي بازار بدلونونه؛ پولي پروګرام، د نقدینه ګـې حجم، د اسعارو د مبادلې نرخ، خالصه نړیواله زېرمې او د دې ترڅنګ د آزاد بازار عملیات تر ارزونې لاندې نیسي. په ۱۳۹۴ مالي کال کې ( د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر له ۲۲ څخه د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر تر ۲۱ پورې) پولي زېرمې د افغانستـان بانک د عملیاتي هدف په توګه 3.16 سلنه وده کړې ده چې ارزښت یې د ارزونې لاندې کال په پای کې ۲۳۲،۳۲۳.۵ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. د حقیقي پولي زېرمو وده د کـال د پای له ۷ سلنه ټاکلي هدف څخه راټیټه شوې دی. په ګردښت کې پیسې د افغانستان بانک د ضمني هدف په توګه د ارزونې لاندې کال کې ۲.۶۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې ارزښت یې ۲۰۲،۱۶۹.۳ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. همـدا ډول د افغانستان بانک په خپلو خالصه نړیواله زېرمو کې ۳.۲۶ سلنه د پام وړ ټیټوالی تجربه کړی دی چې معادل یې ۲۱۹.۷۶ میلیونه ډالره کیږي.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د ارزونې لاندې کال په پای کې ۳۸۹،۹۱۶ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۱.۵ سلنه کلنۍ وده یې ( کال په کال) ثبت کړې ده. د پراخه مفهوم په توګه پیسې هم ورته بهیر درلودلی دی چې ۳.۳۰ سلنه (کال په کال) وده ښکاره کوي او کچه یې د ۱۳۹۴ مالي کال په پای کې ۴۱۴،۸۱۹ میلیونه افغانۍ ته رسیږي.

د افغانستان بانک د پولي زېرمو د ودې د کنټرول لپاره د آزاد بازار تر عملیاتو لاندې د اسعارو د لیلام او د پانګه ایزو پاڼو د پلور له پولي ابزارونو څخه کار اخلي.

د افغانستان بانک په ۱۳۹۴ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۲،۷۹۷.۳ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړي دي څو په بازار کې د سیالیت د مدیریت ترڅنګ د اسعارو په وړاندې د افغانۍ بې ځایه او له حده زیات نوسانات راکم کړي. د پانګه ایزو پاڼو ناترلاسه شوی مبلغ د ارزونې کال په پای کې ۳۲.۶۷۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

حال دا چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې د ډالرو په وړاندې د افغانۍ ارزښت ۱۷.۱۶۶ سلنه راکم شوی دی.

### ۱. پولي پروګرام


د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت د پولي سیاست د کاري اړانې له مخې، پولي زیرمو د ارزونې لاندې کال( ۱۳۹۴ مالي کال) کې د یو مهم عملیاتي هدف (د کړنې د معیار) په توګه عمل کړی، په داسې حال کې چې په ګردښت کې پیسې د ضمني هدف په توګه د افغانستـان بانک د لومړنۍ موخې یعنې د کورنیو بیو ټیکاو لپاره طرحه شوي دي.

د پولي زیرمو (RM) کره مبلغ چې د کورنې بیو د ثبات او د افغانستان بانک د لومړنۍ موخې په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، د پیسو د مقداري تیورۍ په کارولو سره ټاکل کیږي. له همدې امله د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو د ودې لپاره کلني هدفونه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د اقتصادي ودې او انفلاسیون د تمو پر بنسټ ټاکل کیږي. ۱۳۹۴ مالي کال لپاره د پولي زېرمو او په ګردښت کې د پیسو د ودې کلني هدفونه ۱۱ سلنې ته رسیږي، خو د همدې کال په اوږدو کې یې د ودې نرخ ۷ سلنې ته تجدید شوی دی چې اصلي لامل یې د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې کمې اقتصادي کړنې او د افغانۍ لپاره کمه تقاضا ګڼل کیږي.


د پولي زېرمو (RM) حقيقي وده ۳.۱۶ سلنې او په ګردښت کې د پيسو حقيقي وده ۲.۶۳ سلنې ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال له ټاکل شوي هدف څخه ټيټ دي. د حقيقي پولي زېرمو (RM) او په ګردښت کې د پيسو د ودې د ټيټېدو اصلي لامل د امنيتي انديښنو او له هېواد څخه د مهاجرت د کچې د زياتيدو له کبله کمزوره اقتصادي کړنې ګڼل کيږي. همدا ډول د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د ماليې وزارت لخوا د زياتو عوايدو د راټوليدو له امله د پولي زېرمو او په ګردښت کې د پيسو وده محدوده شوې ده. په ورته وخت کې د افغانستان بانک په ۱۳۹۴ مالي کال کې د نقدينه ګۍ او د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانی د اسمي نرخ د زياتو نوساناتو د مخنيوی په موخه ټينګ پولي سياست تر لاس لاندې نيولی دی.

۱.۲ او ۲.۲ ګرافونه په ۱۳۹۴ مالي کال کې د حقيقي پولي زېرمو او په ګردښت کې د پيسو کچه وړاندې کوي.

۱.۲ ګراف :د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره پولي زېرمې (له ۲۰۱۴ ډيسمبر څخه د ۲۰۱۵ تر ډيسمبر پورې)




۲.۲ ګراف :د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره په ګردښت کې پيسې (له ۲۰۱۴ ډيسمبر څخه د ۲۰۱۵ تر ډيسمبر پورې)




## ۲. د نقدينګۍ حجم

د پولي سياست د لوی آمريت پولي څانګه د نقدينګۍ حجم د محدوده مفهوم په توګه پيسې (M1) او د پراخه مفهوم په توګه پيسې(M2) د پولي او مالي احصائيې(MFS) د ميتودولوژۍ او تعريف له لارې محاسبه کوي.

د محدوده مفهوم په توګه پيسې(M1) ټول بانکنوټونه، سکې او جاري امانتونه او د سوداګريزو بانکونو نورې نقدي شتمنۍ چې د افغانستان بانک او سوداګريزو بانکونو سره ساتل کيږي، رانغاړي. حال دا چې د پراخه مفهوم په توګه پيسې (M2) په ترکيب کې د محدوده مفهوم په توګه د پيسو اجزاوې او داسې نورې لږې سيالې شتمنۍ شاملې دي. د ۱.۲ جدول ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پيسو (M1) د ۱۳۹۳ مالي کال د ۹.۵ سلنې ودې په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱.۵ سلنه وده کړې ده چې ۵،۷۶۴ ميليونه افغانی توپير ښکاره کوي. هغه پيسې چې د امانت ايښودونکو شرکتونو څخه بهر دي يا په ګردښت کې پيسې (CIC) د محدوده مفهوم په توګه پيسو (M1) تر ټولوستره برخه (۵۰.۳ سلنه) جوړوي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۱۶.۴ سلنې په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۴.۰۸ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. هغه پيسې چې د امانت اېښودونکو شرکتونو څخه بهر دي د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۷،۶۸۳ ميليونه افغانی توپير ښکاره کوي. جاري امانتونه کوم چې د محدوده مفهوم په توګه پيسو (M1) بله برخه جوړوي د ۱۳۹۴ مالي کال په پای کې منفي (۰.۹۸ ) سلنه وده تجربه کړې ده، حال دا چې تير کال يې ۳.۷ سلنه وده درلوده چې د اوسني کال په پرتله ۹۱۹ ميليونه افغانی زياتوالی ښکاره کوي.

د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) عرضه د تیر کال له ۴۰۱،۵۸۳ میلیونه افغانۍ څخه د ارزونې لاندې کال کې ۴۱۴،۸۱۹ میلیونه افغانۍ ته زیاته شوې ده چې ۱۳،۲۳۷ میلیونه افغانۍ توپیر په ګوته کوي. په ۱۳۹۴ مالي کال د (M2) عرضه د تیر کال له ۸.۳ سلنې څخه ۳.۳ سلنه ته راټیټه شوې ده. د اوسنۍ دورې شمېرې ښکاره کوي چې د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د پراخه مفهوم په توګه د پیسو تر ټولو ستره برخه (۹۴ سلنه) جوړوي.


پیسه وزمه (Qusi Money) یا د سوداګریزو بانکونو موده ایزه (میعادي) امانتونه چې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) بله برخه جوړوی، د ۱۳۹۴ مالي کال په پای کې ۴۲.۸۷ سلنه (کال په کال) وده کړې ده. د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې پیسه وزمه یوازې د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) ۶ سلنه جوړوي؛ که څه هم د ۱۳۹۳ مالي کال له ۴.۳۴ سلنه څخه لوړ دی، نو له همدې کبله د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) باندې د هغه بدلونونه اغیزه ډېره کمه ده. په افغانۍ موده ایزه امانتونو توپیر (کال په کال) ۲،۳۹۷ میلیونه افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې پر اسعارو د موده ایزه امانتونو ارزښت ۵،۰۷۶ میلیونه او ۴۵.۹۸ افغانۍ او ۴۱.۵۵ سلنه ثبت شوی دی چې د تیر کال په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په افغانۍ موده ایز امانتونه د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) ۱.۸۳ سلنه جوړوي، حال دا چې د اسعارو د امانتونو ونډه د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) کې ۴.۱۷ سلنې ته رسیږی.

په ورته وخت کې د جاري امانتونو ونډه د پراخه مفهوم په توګه پیسو (M2) کې د ارزونې لاندې کال کې ۴۶.۷۱ سلنې ته راښکته شوې ده چې د تیر کال د ۴۸.۷۳ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي (۳.۲ ګراف)

۳.۲ ګراف: جاري امانتونه د M2 د ونډې په توګه(٪)




۴.۲ ګراف: د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه (٪)




*سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک*

۱.۲ جدول: د ۱۳۹٤ مالي کال لپاره د نقدینه ګی حجم ( د ۲۰۱٤ کال له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۵ کال تر ډیسمبر پورې)

ارقام په میلیون افغانی، خو دا چې په بل ډول ښودل شوي وي

| په میلیون افغانی | د ۱۳۹۲ کال خلورمه ربعه (مبلغ) | د ۱۳۹۳ کال خلورمه ربعه (مبلغ) | کال په کال بدلون | توپیر | د ۱۳۹٤ کال خلورمه ربعه (مبلغ) | کال په کال بدلون | توپیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **۱ـ خالصه بهرنی شتمنی** | 483,924 | 487,005 | 0.6 % | 3,081 | 532,494 | 9.34 % | 45,489 |
| (الف) بهرنی شتمنی | 513,630 | 514,730 | 0.2 % | 1,100 | 563,699 | 9.51 % | 48,969 |
| د افغانستان بانک اسعاري زیرمې | 421,774 | 427,621 | 1.4 % | 5,847 | 467,588 | 9.35 % | 39,967 |
| سره زر | 60,424 | 47,509 | - 21.4 % | 0.000 | 51,513 | 8.43 % | 0.000 |
| نور | 361,350 | 380,112 | 5.2 % | 18,762 | 416,075 | 9.46 % | 35,962 |
| نورې بهرنی شتمنی | 91,856 | 87,109 | - 5.2 % | - 4,747 | 96,111 | 10.33 % | 9,002 |
| (ب) بهرنی پوراینې | 29,706 | 27,725 | - 6.7 % | - 1,981 | 31,205 | 12.55% | 3,480 |
| **۲. خالصه کورنی شتمنی** | - 113,243 | - 85,422 | - 24.6 % | 27,821 | - 117,552 | 37.61% | - 32,130 |
| (الف) خالصه کورنی کریډېټ | - 45,675 | -28,672 | - 37.2 % | 17,003 | 2,013 | - 107.02 % | 30,685 |
| د غیر مالي عامه سکتور لپاره خالص کریډېټ | - 91,139 | -71,216 | -21.9% | 19,923 | - 43,155 | - 39.40 % | 28,061 |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کریډېټ | - 90,929 | - 71,099 | - 21.8 % | 19,830 | - 43,249 | - 39.17 % | 27,850 |
| د مرکزي حکومت لپاره کریډېټ | 33,709 | 32,899 | - 2.4 % | - 810 | 61,206 | 86.04 % | 28,306 |
| د مرکزي حکومت لپاره پوراینې | 124,638 | 103,999 | - 16.6 % | - 20,639 | 104,455 | 0.44 % | 457 |
| د مرکزي او سیمه ایز حکومت لپاره خالص کریډېټ | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 |
| د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډېټ | - 210.020 | -116.324 | 0.000 | 94 | 94.346 | 0.000 | 211 |
| د خصوصي سکتور لپاره کریډېټ | 46,813.544 | 43,943.424 | 0.000 | - 2,870 | 46,646.260 | 0.000 | 2,703 |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالصه کریډېټ | -1,349 | - 1,400 | 3.7% | - 50 | - 1,478.30 | 5.62 % | - 79 |
| (ب) د پانګې حسابونه | 110,484 | 100,220 | - 9.3 % | - 10,263 | 151,120 | 50.79% | 50,899 |
| (ت) نور خالص اقلام | 42,916 | 43,471 | 1.3 % | 554 | 31,555 | - 27.41% | - 11,915 |
| **۳. د پراخه مفهوم په توګه پیسې** | 370,684 | 401,583 | 8.3 % | 30,899 | 414,819 | 3.30% | 13,237 |
| د محدوده مفهوم په توګه پیسې | 350,696 | 384,152 | 9.5 % | 33,456 | 389,916 | 1.50% | 5,764 |
| په ګردښت کې پیسې (CIC) (هغه پیسې چې د امانتونه ایښودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | 161,944 | 188,451 | 16.4% | 26,507 | 196,134 | 4.08% | 7,683 |
| جاري امانتونه | 188,751 | 195,701 | 3.7 % | 6,950 | 193,782 | - 0.98 % | -1,919 |
| نور امانتونه (پیسه وزمه) | 19,988 | 17,431 | -12.8 % | - 2,557 | 24,904 | 42.87 % | 7,473 |
| په افغانی امانتونه | 7,867 | 5,214 | -33.7 % | -2,653 | 7,611 | 45.98% | 2,397 |
| په بهرنیو اسعارو امانتونه | 12,121 | 12,217 | 0.8 % | 96 | 17,293 | 41.55 % | 5,076 |
| له ونډو (سهام) پرته په دولتي او غیر دولتي پورونو کې د پانګې اچونې پاڼې (securities) | | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 | 0.000 |

سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت، پولي سروې

### ۱.۲ خالصه نړیواله زیرمې


د افغانستان بانک په نړیوالو زیرمو کې سره زر، د پیسو نړیوال صندوق سره د پور زیرمه او ونډه، د برداشت ځانګړی حق (SDR) او همدا ډول مهم اسعار لکه امریکایي ډالر، یورو او انګلیسي پاونډ، شامل دي. د افغانستان نړیواله زیرمې چې په امریکایي ډالرو څرګندیږي، د شتمنۍ هغه زېرمې دي چې د پوراینې زېرمې ترې منفي شوي دي.

خالصه نړیواله زېرمې (NIR) په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۳.۲۸ سلنه، ۲۱۹.۷۶ میلیونه ډالره راکمې شوي، حال دا چې په ۱۳۹۳ مالي کال کې یې ۳۹۴ میلیونه ډالره زیاتوالی درلوده.

د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره د خالصه نړیواله زیرمو د حجم هدف ۱۵۰ میلیونه ډالره ټاکل شوی ؤ او د کال په اوږدو کې یې کچه له بیا کتنې وروسته ۱.۲۵ میلیونه ډالرو ته راکمه شوه، خو په حقیقت کې مونږ د ۱۳۹۴ مالي کال په پای کې د حقیقي خالصه نړیواله زېرمو په کچه کې په زیاته اندازه ټیټوالی تجربه کړی دی. خالصه نړیواله زیرمې د ۱۳۹۴ مالي کال په پای کې ۶۴۷۰.۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې د همدې کال په پیل کې یې کچه ۶۶۹۰.۴۷ میلیونه وه.

۵.۲ ګراف د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د حقیقي خالصه نړیواله زېرمې او د هغه د هدف بهیر ښکاره کوي.

۵.۲ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره حقیقي او ټاکلې خالصه نړیواله زېرمې (په میلیون ډالرو)




د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت، پولي سروې

## ۳. د اسعارو د مبادلې بازار

### ۱.۳ د اسعارو د مبادلې نرخونه


د افغانستان بانک لومړنۍ موخه د بیو د ټیکاو ساتل دي، خو د افغانستان بانک د خپل لومړني هدف ترڅنګ د اسعارو د مبادلې په بازارونو کې د اسعارو د مبادلې نوسانونو ته هم متوجې وي. همدا ډول د افغانستان بانک د دې لپاره چې دا هدف ترلاسه او وساتي د پالیسۍ د سالمه تطبیق ترڅنګ له خپل پولي ابزارونو څخه په ګټوره توګه کار اخلي.

د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د افغانۍ ارزښت د امریکایي ډالرو، یورو او داسې نورو اسعارو پر وړاندې راټیټ شوی دی. د افغانۍ د کمزوره کیدو ستر لاملونه د جاري حساب دوامداره لوړ کسر، د متحده ایالاتو د اقتصادي ودې او د پولي اسانتیا د پالیسۍ له کبله د ډالرو د بیو نړیواله زیاتوالی او همدا ډول سیاسي او امنیتي وضعیت له امله کورنۍ عوامل ګڼل کیږي.

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې د اوسط نرخ ورځنۍ شرحه په لاندې ګراف کې ښودل شوې ده.


د افغانۍ ارزښت د امریکایي ډالرو په وړاندې ۱۷.۱۷ سلنه راکم شوی دی چې د ارزونې لاندې کال په پای کې یو ډالر په ۶۸.۰۵ افغانۍ مبادله کیده. همدا ډول د افغانۍ ارزښت د هندي او پاکستانۍ روپۍ په وړاندې په ترتیب سره ۹.۵۷ او ۱۰.۵ سلنه راکم شوی دی. په ورته وخت کې افغانۍ د یورو، بریتانیایي پاونډ او ایراني ریال په وړاندې په ترتیب سره ۳.۶۱ سلنه، ۱۱.۸۶ سلنه او ۱۲.۰۵ سلنه ټیټوالی ثبت کړی دی.

۶.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال (د ۲۰۱۴ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۵ کال تر ډیسمبر پورې)





سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت د پولي سروې

۷.۲ ګراف: د بریتانیایي پاونډ او یورو په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال (د ۲۰۱۴ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۵ تر ډیسمبر پورې)





سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت د پولي سروې

۸.۲ ګراف: د هندي روپی او پاکستانی روپی په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال (د ۲۰۱۴ له ډیسمبر څخه د ۲۰۱۵ تر ډیسمبر پورې)




سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت د پولي سروې

۹.۲ ګراف: د ایراني ریال په وړاندې د افغانی د مبادلې ورځنی اوسط نرخ ـ ۱۳۹۴ مالي کال (د ۲۰۱۴ ډیسمبر ـ ۲۰۱۵ ډیسمبر)



سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت د پولي سروې

## ۲.۳ د اسعارو لیلام

د پیسو د عرضې د کنټرولولو په موخه د افغانستان بانک په اونۍ کې دوه ځلي د اسعارو لیلام ( د افغانستان بانک په دې وروستیو کې په اونۍ کې درې ځلې ډالر لیلاموي) او په اونۍ کې یو ځلې د پانګه ایزو پانو لیلام ترسره کوي چې د افغانستان بانک ورڅخه د عمده پولي ابزارونو په توګه کار اخلي. د افغانستان بانک په دوامداره توګه د اسعارو لیلام ترسره کوي څو له بازار څخه اضافه نقدینه ګی لرې کړي او د بهرنیو اسعارو په ځانګړې توګه د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلوي نرخ د زیاتو نوساناتو مخه ونیسي. د افغانستان بانک د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۲.۷۹۳ میلیارده امریکایي ډالره لیلام کړي دي. دا په داسې حال کې ده چې په همدې موده کې ټولیزه تقاضا ۳.۹۲۴ میلیارده امریکایي ډالره وه. په اوسط ډوله په هر لیلام کې ۳۸ داوطلبانو ګډون کړی دی او له دې ډلې ۳۲ داوطلبان ګټونکي اعلان شوي دي چې په هر داوطلب باندې په اوسط ډول ۲۷.۷ میلیونه امریکایي ډالره پلورل شوي دي. په ۱۳۹۳ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۳.۳۴۱ میلیارده امریکایي ډالره لیلام شوي دي، حال دا چې په هغه موده کې ټولیزه تقاضا ۴.۶۹۸ میلیارده ډالره وه چې په اوسط ډول په هر لیلام کې ۳۷ داوطلبانو ګډون کړی ؤ چې له دې ډلې ۳۲ تنه ګټونکي اعلان شوي چې په اوسط ډول په هر یو بانـدې ۳۴.۸۱ میلیونه امریکایي ډالره پلورل شوي ؤ.

**۲.۲ جدول: د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره د اسعارو د لیلام لنډیز (په میلیون امریکایي ډالره)**

| د لیلام نیټه | د داوطلبانو شمیر | تر ټولو لوړه بیه | تر ټولو ټیټه بیه | د بازار د مبادلې نرخ | کسر شوې بیه | اعلان شوی مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | ټولیزه تقاضا |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳دسمبر-۱۴ | 38.0 | 58.1 | 57.9 | 58.1 | 58.1 | 40.0 | 40.2 | 65.5 |
| ۲۷ دسمبر – ۱۴ | 38.0 | 58.3 | 58.0 | 58.3 | 58.3 | 40.0 | 40.8 | 65.6 |
| ۳۰ دسمبر-۱۴ | 37.0 | 58.3 | 58.1 | 58.3 | 58.3 | 50.0 | 52.4 | 63.5 |
| ۴ جنوری-۱۵ | 33.0 | 58.1 | 57.8 | 58.1 | 58.0 | 50.0 | 44.4 | 47.8 |
| ۶ جنوری-۱۵ | 35.0 | 58.0 | 57.5 | 58.1 | 57.9 | 50.0 | 50.2 | 61.8 |
| ۱۰ جنوری-۱۵ | 35.0 | 58.0 | 57.8 | 58.0 | 58.0 | 45.0 | 45.2 | 56.3 |
| ۱۳ جنوری-۱۵ | 34.0 | 57.6 | 57.3 | 57.6 | 57.6 | 40.0 | 34.6 | 48.2 |
| ۱۷ جنوری-۱۵ | 38.0 | 57.8 | 57.6 | 57.8 | 57.8 | 40.0 | 42.6 | 47.7 |
| ۲۰ جنوری-۱۵ | 34.0 | 57.5 | 57.4 | 57.7 | 57.5 | 40.0 | 35.2 | 44.0 |
| ۲۴ جنوری-۱۵ | 33.0 | 57.2 | 56.8 | 57.3 | 57.1 | 40.0 | 27.8 | 38.4 |
| ۲۷ جنوری-۱۵ | 33.0 | 57.3 | 56.8 | 57.3 | 57.2 | 35.0 | 31.5 | 41.3 |
| ۳۱ جنوری-۱۵ | 30.0 | 57.3 | 57.0 | 57.3 | 57.3 | 30.0 | 28.0 | 35.8 |
| ۳ فبروری-۱۵ | 31.0 | 57.2 | 57.1 | 57.2 | 57.2 | 30.0 | 30.5 | 39.2 |
| ۷ فبروری-۱۵ | 36.0 | 57.4 | 57.0 | 57.4 | 57.4 | 25.0 | 26.9 | 39.6 |
| ۱۰ فبروری-۱۵ | 32.0 | 57.3 | 57.1 | 57.3 | 57.2 | 30.0 | 29.7 | 37.3 |
| ۱۴ فبروری-۱۵ | 34.0 | 57.3 | 57.1 | 57.3 | 57.3 | 30.0 | 23.4 | 35.6 |
| ۱۷ فبروری-۱۵ | 36.0 | 57.4 | 57.1 | 57.3 | 57.4 | 25.0 | 24.5 | 37.8 |
| ۲۱ فبروری-۱۵ | 33.0 | 57.3 | 57.0 | 57.3 | 57.3 | 25.0 | 22.6 | 30.3 |
| ۲۴ فبروری-۱۵ | 33.0 | 57.4 | 57.3 | 57.4 | 57.3 | 20.0 | 18.0 | 24.0 |
| ۲۸ فبروری-۱۵ | 38.0 | 57.3 | 57.1 | 57.2 | 57.2 | 20.0 | 13.8 | 21.4 |
| ۳ مارچ-۱۵ | 38.0 | 57.3 | 57.0 | 57.3 | 57.3 | 15.0 | 13.2 | 24.6 |
| ۷ مارچ-۱۵ | 31.0 | 57.5 | 57.4 | 57.4 | 57.4 | 10.0 | 10.0 | 15.5 |
| ۱۰ مارچ – ۱۵ | 34.0 | 57.7 | 57.5 | 57.7 | 57.7 | 15.0 | 14.8 | 25.0 |
| ۱۴ مارچ-۱۵ | 34.0 | 57.8 | 57.4 | 57.8 | 57.8 | 20.0 | 25.3 | 30.4 |
| ۱۷ مارچ-۱۵ | 36.0 | 57.8 | 57.6 | 57.8 | 57.8 | 25.0 | 25.2 | 31.0 |
| ۲۴ مارچ – ۱۵ | 34.0 | 57.8 | 57.3 | 57.8 | 57.7 | 35.0 | 33.0 | 42.3 |
| ۲۸ مارچ-۱۵ | 35.0 | 57.8 | 57.5 | 57.9 | 57.8 | 25.0 | 25.4 | 32.8 |
| ۳۱ مارچ-۱۵ | 36.0 | 57.9 | 57.4 | 57.9 | 57.9 | 25.0 | 35.1 | 41.1 |
| ۴ اپریل – ۱۵ | 30.0 | 57.8 | 57.5 | 57.9 | 57.8 | 35.0 | 32.9 | 45.7 |
| ۷ اپریل-۱۵ | 33.0 | 57.9 | 57.3 | 57.9 | 57.8 | 35.0 | 35.0 | 42.7 |
| ۱۱ اپریل-۱۵ | 32.0 | 57.9 | 57.8 | 58.0 | 57.9 | 35.0 | 35.1 | 38.3 |
| ۱۴ اپریل-۱۵ | 33.0 | 57.9 | 57.5 | 57.9 | 57.8 | 35.0 | 35.2 | 43.5 |
| ۱۸ اپریل-۱۵ | 34.0 | 57.9 | 57.7 | 57.9 | 57.9 | 30.0 | 30.5 | 40.5 |
| ۲۱ اپریل-۱۵ | 36.0 | 57.9 | 54.8 | 57.9 | 57.8 | 30.0 | 30.7 | 41.2 |
| ۲۵ اپریل-۱۵ | 33.0 | 57.9 | 57.8 | 57.9 | 57.9 | 30.0 | 30.1 | 42.1 |
| ۲ می – ۱۵ | 33.0 | 58.1 | 56.5 | 58.1 | 58.1 | 30.0 | 22.3 | 40.4 |
| ۵ می – ۱۵ | 35.0 | 58.6 | 58.3 | 58.5 | 58.5 | 20.0 | 20.1 | 32.1 |
| ۹ می-۱۵ | 36.0 | 58.8 | 58.1 | 58.8 | 58.8 | 25.0 | 25.0 | 35.8 |
| ۱۲ می-۱۵ | 39.0 | 59.1 | 58.0 | 59.1 | 59.1 | 35.0 | 33.4 | 52.1 |
| ۱۶ می – ۱۵ | 38.0 | 59.6 | 58.6 | 59.6 | 59.6 | 30.0 | 29.8 | 46.7 |
| ۱۹ می-۱۵ | 38.0 | 60.9 | 59.5 | 60.8 | 60.8 | 30.0 | 35.5 | 47.9 |
| ۲۳ می – ۱۵ | 41.0 | 60.5 | 59.8 | 60.4 | 60.4 | 33.0 | 33.3 | 48.2 |
| ۲۶ می – ۱۵ | 39.0 | 59.1 | 58.1 | 59.5 | 59.1 | 30.0 | 29.8 | 43.3 |
| ۳۰ می – ۱۵ | 40.0 | 59.8 | 59.3 | 59.7 | 59.7 | 25.0 | 24.7 | 38.8 |
| ۲ جون – ۱۵ | 40.0 | 59.9 | 58.8 | 59.8 | 59.8 | 28.0 | 26.2 | 38.1 |
| ۶ جون – ۱۵ | 36.0 | 60.1 | 59.6 | 60.0 | 60.0 | 26.0 | 24.1 | 34.1 |
| ۹ جون – ۱۵ | 36.0 | 60.0 | 59.6 | 60.0 | 60.0 | 24.0 | 18.1 | 33.7 |
| ۱۳ جون – ۱۵ | 39.0 | 60.6 | 60.2 | 60.5 | 60.6 | 18.0 | 18.7 | 31.7 |
| ۱۶ جون – ۱۵ | 39.0 | 60.6 | 60.0 | 60.5 | 60.5 | 18.0 | 18.4 | 27.7 |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 44.8 | 32.0 | 35.0 | 60.7 | 60.7 | 60.4 | 60.7 | 36.0 | ۲۲ جون– ۱۵ |
| 40.2 | 26.3 | 25.0 | 60.8 | 60.8 | 60.7 | 60.8 | 37.0 | ۲۷ جون–۱۵ |
| 35.0 | 20.7 | 25.0 | 60.7 | 60.7 | 60.1 | 60.7 | 36.0 | ۳۰ جون– ۱۵ |
| 28.6 | 19.7 | 20.0 | 60.5 | 60.5 | 60.2 | 60.5 | 35.0 | ۴ جولای– ۱۵ |
| 27.9 | 17.8 | 20.0 | 60.5 | 60.5 | 60.0 | 60.6 | 33.0 | ۷ جولای– ۱۵ |
| 25.7 | 18.1 | 20.0 | 60.3 | 60.4 | 59.1 | 60.4 | 32.0 | ۱۱ جولای– ۱۵ |
| 27.2 | 18.1 | 18.0 | 60.6 | 60.6 | 60.3 | 60.6 | 34.0 | ۱۴ جولای– ۱۵ |
| 28.7 | 18.4 | 18.0 | 61.1 | 61.1 | 60.5 | 61.1 | 36.0 | ۲۵ جولای– ۱۵ |
| 42.0 | 30.1 | 30.0 | 61.1 | 61.1 | 60.1 | 61.1 | 35.0 | ۲۸ جولای– ۱۵ |
| 46.8 | 30.7 | 30.0 | 61.3 | 61.3 | 61.3 | 61.4 | 39.0 | ۱ اگست– ۱۵ |
| 45.2 | 29.5 | 30.0 | 61.7 | 61.7 | 61.0 | 61.8 | 40.0 | ۴ اگست– ۱۵ |
| 38.9 | 38.9 | 30.0 | 62.1 | 62.5 | 62.1 | 62.7 | 42.0 | ۸ اگست– ۱۵ |
| 53.9 | 38.2 | 30.0 | 62.6 | 62.8 | 62.1 | 62.8 | 48.0 | ۱۱ اگست– ۱۵ |
| 58.2 | 35.7 | 35.0 | 63.0 | 63.4 | 62.1 | 63.3 | 41.0 | ۱۵ اگست– ۱۵ |
| 66.4 | 40.8 | 40.0 | 63.1 | 63.3 | 62.8 | 63.3 | 52.0 | ۱۸ اگست –۱۵ |
| 75.9 | 40.5 | 40.0 | 63.4 | 63.5 | 63.0 | 63.5 | 40.0 | ۲۲ اگست– ۱۵ |
| 72.4 | 50.1 | 40.0 | 64.3 | 64.3 | 63.1 | 64.4 | 42.0 | ۲۵ اگست– ۱۵ |
| 61.8 | 40.2 | 40.0 | 64.7 | 64.4 | 63.1 | 64.9 | 51.0 | ۲۹ اگست– ۱۵ |
| 48.8 | 38.2 | 40.0 | 64.1 | 64.4 | 63.1 | 64.4 | 47.0 | ۱ سپتمبر– ۱۵ |
| 57.8 | 35.7 | 35.0 | 63.4 | 63.4 | 63.0 | 63.5 | 50.0 | ۷ سپتمبر– ۱۵ |
| 38.0 | 26.7 | 35.0 | 63.5 | 63.8 | 62.0 | 63.7 | 34.0 | ۱۲ سپتمبر– ۱۵ |
| 46.7 | 32.4 | 30.0 | 63.9 | 63.9 | 63.4 | 63.9 | 42.0 | ۱۵ سپتمبر– ۱۵ |
| 41.5 | 30.4 | 30.0 | 64.1 | 64.2 | 63.2 | 64.2 | 44.0 | ۱۹ سپتمبر– ۱۵ |
| 29.3 | 20.0 | 20.0 | 63.8 | 63.9 | 63.1 | 63.9 | 34.0 | ۲۲ سپتمبر– ۱۵ |
| 34.5 | 30.6 | 25.0 | 64.5 | 64.5 | 64.1 | 64.6 | 37.0 | ۲۹ سپتمبر– ۱۵ |
| 28.8 | 21.6 | 25.0 | 64.1 | 64.1 | 63.3 | 64.2 | 37.0 | ۳ اکتوبر– ۱۵ |
| 28.5 | 20.35 | 25.0 | 64.3 | 64.4 | 64.1 | 64.4 | 30.0 | ۶ اکتوبر– ۱۵ |
| 29.0 | 20.8 | 25.0 | 64.4 | 64.4 | 64.0 | 64.4 | 29.0 | ۱۰ اکتوبر– ۱۵ |
| 26.0 | 17.8 | 20.0 | 64.4 | 64.4 | 64.0 | 64.4 | 32.0 | ۱۳ اکتوبر– ۱۵ |
| 22.3 | 16.3 | 20.0 | 64.4 | 64.5 | 64.1 | 64.5 | 27.0 | ۱۷ اکتوبر– ۱۵ |
| 23.5 | 16.5 | 20.0 | 64.5 | 64.5 | 64.2 | 64.5 | 28.0 | ۲۰ اکتوبر– ۱۵ |
| 22.6 | 15.5 | 20.0 | 64.4 | 64.5 | 64.3 | 64.5 | 29.0 | ۲۵ اکتوبر- ۱۵ |
| 29.4 | 20.2 | 22.0 | 64.6 | 64.6 | 64.5 | 64.6 | 37.0 | ۲۷ اکتوبر– ۱۵ |
| 31.5 | 20.8 | 22.0 | 64.7 | 64.7 | 64.3 | 64.7 | 39.0 | ۳۱ اکتوبر– ۱۵ |
| 36.2 | 24.7 | 25.0 | 65.0 | 65.0 | 64.8 | 65.0 | 39.0 | ۳ نومبر–۱۵ |
| 30.4 | 22.0 | 25.0 | 65.1 | 65.2 | 65.0 | 65.2 | 34.0 | ۷ نومبر– ۱۵ |
| 43.7 | 27.9 | 25.0 | 66.1 | 65.4 | 65.1 | 66.2 | 33.0 | ۱۰ نومبر– ۱۵ |
| 38.9 | 27.2 | 30.0 | 66.6 | 66.6 | 65.7 | 66.7 | 42.0 | ۱۴ نومبر– ۱۵ |
| 57.5 | 38.1 | 40.0 | 67.6 | 67.6 | 66.6 | 67.7 | 46.0 | ۱۷ نومبر– ۱۵ |
| 47.5 | 37.2 | 40.0 | 68.3 | 68.3 | 67.1 | 68.4 | 46.0 | ۲۱ نومبر– ۱۵ |
| 32.7 | 30.5 | 30.0 | 66.3 | 66.8 | 65.0 | 67.0 | 30.0 | ۲۳ نومبر– ۱۵ |
| 40.4 | 30.8 | 30.0 | 65.6 | 65.9 | 62.2 | 65.8 | 42.0 | ۲۵ نومبر– ۱۵ |
| 42.2 | 25.5 | 25.0 | 67.0 | 67.0 | 66.1 | 67.1 | 45.0 | ۲۸ نومبر– ۱۵ |
| 37.0 | 26.8 | 25.0 | 66.5 | 66.6 | 65.0 | 67.0 | 46.0 | ۳۰ نومبر– ۱۵ |
| 33.3 | 26.2 | 25.0 | 66.8 | 67.0 | 66.5 | 66.9 | 47.0 | ۲ دسمبر– ۱۵ |
| 24.5 | 23.9 | 18.0 | 66.5 | 66.8 | 66.1 | 66.7 | 36.0 | ۵ دسمبر– ۱۵ |
| 24.2 | 18.1 | 15.0 | 66.6 | 66.7 | 66.4 | 66.7 | 42.0 | ۷ دسمبر– ۱۵ |
| 23.4 | 16.1 | 16.0 | 66.3 | 66.4 | 66.2 | 66.4 | 50.0 | ۹ دسمبر– ۱۵ |
| 18.1 | 11.3 | 12.0 | 67.0 | 67.0 | 66.8 | 67.1 | 51.0 | ۱۲ دسمبر– ۱۵ |
| 23.1 | 14.3 | 14.0 | 67.2 | 67.2 | 67.1 | 67.3 | 55.0 | ۱۴ دسمبر– ۱۵ |
| 24.0 | 16.5 | 15.0 | 67.8 | 67.8 | 67.1 | 67.8 | 57.0 | ۱۶ دسمبر– ۱۵ |
| 23.2 | 16.1 | 15.0 | 68.3 | 68.2 | 67.3 | 68.3 | 56.0 | ۱۹ دسمبر– ۱۵ |
| **3924.1** | **2793.6** | **2,842** | | | | | | **مجموع** |

## ۴.د پانګې بازارونه او د سیالیت شرایط

### ۱.۴. د پانګه ایزه پاڼو لیلام

د افغانستان بانک له پانګه ایزو پاڼو څخه د دویم پولـي ابـزار په توګه کار اخلي څو د پیسو د عرضې وده مدیریت کـړي. له پانګه ایزو پاڼو څخه د سوداګریزو بانکونو د زیات سیالیت د مخنیوی په موخه کار اخیستل کیږي.

پانګه ایزې پاڼې د افغانی لنډ مهاله بیه لرونکي پاڼې دي چې د افغانستان بانک لخوا د لومړني بازار مشتریانو او ډېری جواز لرونکي سوداګریزو بانکونو باندې په اوونـۍ کـې یـو ځـل پلورل کیږي.

اوس مهال د افغانستان بانک څلور ډوله؛ اووه ورځنـي، یـوه میاشتني، شپږ میاشتني او یو کلن پانګه ایزې پـاڼې وړانـدې کوي. د یوې اونۍ بیه لرونکي پاڼې په دې وروستیو کې بازار ته معرفي شوي دي څو د دې پولي ابزار کاروني ته پراختیـا ورکړي.


د ۱۳۹۴ مالي کال په پای کې د پانګـه ایـزو پـاڼو ټـولیـزه ناترلاسه شوې کچه ۳۲.۷ میلیارده افغانۍ ته رسېدلې چې د ۱۳۹۳ مالي کال د پای د ۳۷.۸ میلیارده افغانۍ په پرتلـه ۱۳.۵ سلنه ټیټوالي ښکاره کوي. د بیه لرونکو پاڼو په کچه کـې د دې ټیټوالي عمده لامل د بانکي سکتور لخوا د افغـانـۍ د تقاضا کموالی دی چې د افغانستان بانک د دې وړ ګـرځـوي څو د بهرنیو اسعارو د لیلام کچه زیاتـه او خـپـلـې زېـرمـې راکمې کړي.

د اوو ورځنیو پاڼو ناترلاسه شوې کچه چې په دې وروستیو کې د افغانستان بانک لخوا په بیه لرونکو پاڼو کې زیاته شوې ده، ۱۰۰ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د ارزونې لاندې کـال په لومړۍ نیمایي کې یې لوړه کچه او د ارزونې لاندې کـال په دویمه نیمایي کې یې ټیټه کچه تجربه کـړې ده. د ۱۳۹۴ مالي کال په دویمه نیمایي کې د ۲۸ ورځنیو بیه لرونکو پـاڼـو ناترلاسه شوې کچه د تقاضا او ورکړل شوې مبلغ د کچې له ټیټوالي سره ۶۵۰ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. د ۱۸۲ ورځنیو پاڼو ناترلاسه شوې کچه د ۱۳۹۴ مالي کال په پـای کـې ۷.۴۹۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ۳۶۴ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو ناترلاسه شـوې کـچـه ۲۴.۴۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

۱۰.۲ ګراف د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د ټـولـیـزه سررسید مودو ناتصفیه شوې کچـو د اجـزاوو ویشـنـه ښکاره کوي.


همدا ډول د ارزونې لاندې موده کې، د اوو ورځـنـیـو پانګه ایزو پاڼو د عیار شوې ټکټانې اوسط نرخ ۱.۸ سلنه او د ۲۸ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو نرخ ۳.۵۴۴ سلنه ؤ، پـه داسې حال کې چې د ۱۸۲ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو نـرخ ۵.۱۷۲ سلنې ته رسیږي او د ۳۶۴ ورځنیو پاڼو نرخ ۶.۷۰ سلنه ثبت شوی دی.

۱۰.۲ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال ناترلاسه شوې پانګه ایزې پاڼې په میلیون افغانی





سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۱.۲ گراف: د ۷ ورځنیو پانگه ایزه پاڼو لپاره تقاضا او ورکړل شوی مبلغ





سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۲.۲ گراف: د ۲۸ ورځنیو پانگه ایزو پاڼو تقاضا او ورکړل شوی مبلغ





سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۳.۲ گراف: د ۱۸۲ ورځتیو پانگه ایزو پاڼو تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

۱۳.۲ گراف: د ۳۶۴ ورځتیو پانگه ایزو پاڼو تقاضا او ورکړل شوی مبلغ




سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۴ الزامي او اضافي زیرمې

سوداگریز بانکونه اړ دي چې د خپلو ټولو امانتونو ۸ سلنه د افغانستان بانک سره د الزامي زیرمې په توگه وساتي، چې د خدمتونو په بدل کې یې یوه سلنه ځانته گرځوي چې د تیرو ۲۸ ورځو پانگه ایزو پاڼو د لیلام د کسر شوي نرخ څخه لاندې یا د امانتونو د اسانتیا د نرخ سره برابر دی. د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک، بانکي نظام ته ۱۹۳.۷۴۵ میلیونه افغانۍ د الزامي زېرمو ټکتانه ورکړې ده. د افغانستان بانک د ۲۰۱۵ کال د جون د ۲۸ نېټې له وروستیو بدلونونو مخکې د الزامي زېرمو لپاره د ټکتانې ورکړه ودرولې وه.

د دې لپاره چې سوداگریزو بانکونو ته اسانتیاوې برابرې شي چې خپل سیالیت په سمه توگه مدیریت کړي او ورته فرصت ورکړل شي چې د پانگه ایزو پاڼو ترڅنگ په خپلو اضافي زېرمو باندې هم پانگونې وکړي، د افغانستان بانک په ۱۳۸۵ کال ( ۲۰۰۶ـ۲۰۰۷) کې **د شپې دایمي اسانتیاوې** (Overnight Standing Facilities) معرفي کړې دي. که څه هم دغه نوښت د لنډې مودې لپاره لغوه شوی ؤ څو

د پولي ابزار په توګه د هغه اغیزناکي وځاري چې دا کار د غوره پولي سیاست لپاره لاره هواروي. د پولي سیاست د ابزار په توګه د شپې د دایمي اسانتیاوو د اغیزناکی له ارزونې وروسته د افغانستان بانک د شپې دایمي اسانتیاوې (Overnight Standing Facility) تر لاس لاندې ونیولې او د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې یې د دې اسانتیا په بدل کې ۱۰.۱۲۲ میلیونه افغانۍ ټکټانه ورکړې ده.

**د شپې پور اسانتیا:** د دې اسانتیا کارونه سوداګریزو بانکو ته په هغه صورت کې اجازه ورکوي چې په خپل لنډ مهاله سیالیت کې له کمښت سره مخ شي او اړتیا ولري چې د شپې په اساس د افغانستان بانک څخه په افغانۍ پور ترلاسه کړي. کوم مبلغ چې له بانکونو څخه د دې اسانتیا په بدل کې ګرځول کیږي د تیرو ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د لیلام له مبلغ څخه ۳.۵ سلنه پورته دی. دا پور اخیستنه د پانګه ایزو پاڼو د نا تصفیه شوي مبلغ په مرسته تضمین کیږي. د ټکټانې د نرخ د دې ډول لوړوالي اصلي لامل د بانکونو ترمنځ د پور ورکړې لپاره د سوداګریزو بانکونو هڅول دی.

## ۳.۲ جدول: د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام (په میلیون افغانی)

| نېټه | د لیلام مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبی ټولیز مبلغ | د ټولو داوطلبیو شمیر | د ګټل شویو داوطلبیو شمیر | کسر شوی نرخ (٪) | د داوطلبی تر ټولو ټیټ نرخ (٪) | د داوطلبی ترټولو لوړ نرخ (٪) | عیار شوی اوسط(٪) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳-دسمبر-۱۴ | | | | | | | | | |
| ۳۰-دسمبر-۱۴ | | | | | | | | | |
| ۶-جنوری-۱۵ | 2000 | 270 | | | | | 3 | | |
| ۱۳-جنوری-۱۵ | 2000 | 100 | 100 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۰-جنوری-۱۵ | 1500 | 50 | 50 | 2 | 1 | 1.8 | 1.85 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۷-جنوری-۱۵ | 1000 | 150 | 100 | 2 | 1 | 1.8 | 1.83 | 1.8 | 1.8 |
| ۳-فبروری-۱۵ | 1000 | 250 | 250 | 3 | 3 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۰-فبروری-۱۵ | 1000 | 100 | 100 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۷-فبروری-۱۵ | 500 | 150 | 150 | 2 | 2 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۴-فبروری-۱۵ | 300 | 150 | 150 | 2 | 2 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۳-مارچ-۱۵ | 300 | 300 | 300 | 2 | 2 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۰-مارچ-۱۵ | 500 | 350 | 350 | 2 | 2 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۷-مارچ-۱۵ | 1000 | 585 | 585 | 4 | 4 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۴-مارچ-۱۵ | 500 | 870 | 870 | 5 | 5 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۳۱-مارچ-۱۵ | 1500 | 510 | 510 | 3 | 3 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۷-اپریل-۱۵ | 1000 | 810 | 810 | 5 | 5 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۴-اپریل-۱۵ | 1000 | 520 | 520 | 3 | 3 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۱-اپریل-۱۵ | 1000 | 970 | 970 | 6 | 6 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۵-می-۱۵ | 1000 | 1150 | 1150 | 6 | 6 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۲-می-۱۵ | 1500 | 720 | 720 | 4 | 4 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۹-می-۱۵ | 1500 | 1100 | 1100 | 5 | 5 | 1.799 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۶-می-۱۵ | 2000 | 700 | 700 | 3 | 3 | 1.797 | 1.8 | 1.8 | 1.798 |
| ۲-جون-۱۵ | 1500 | 250 | 250 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۹-جون-۱۵ | 250 | 150 | 150 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۶-جون-۱۵ | 500 | 300 | 300 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۳-جون-۱۵ | 750 | 100 | 100 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۳۰-جون-۱۵ | 500 | 108 | 108 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۷-جولای-۱۵ | 250 | 50 | 50 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۴-جولای-۱۵ | 500 | 100 | 100 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۸-جولای-۱۵ | 500 | 250 | 250 | 2 | 2 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۴-اګست-۱۵ | 500 | 250 | 250 | 2 | 2 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۱-اګست-۱۵ | 500 | 450 | 450 | 3 | 3 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۸-اګست-۱۵ | 1000 | 50 | 50 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۵-اګست-۱۵ | 200 | 50 | 50 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱-سپتمبر-۱۵ | 1000 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| ۸-سپتمبر-۱۵ | 250 | 200 | 200 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۵-سپتمبر-۱۵ | 200 | 100 | 100 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۲-سپتمبر-۱۵ | 100 | 100 | 100 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۹-سپتمبر-۱۵ | 500 | 15 | 15 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۶-اکتوبر-۱۵ | 250 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| ۱۳-اکتوبر-۱۵ | 100 | 300 | 300 | 2 | 2 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۰-اکتوبر-۱۵ | 500 | 100 | 100 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۷-اکتوبر-۱۵ | 250 | 300 | 300 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۳-نومبر-۱۵ | 500 | 50 | 50 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۰-نومبر-۱۵ | 500 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | |
| ۱۷-نومبر-۱۵ | 500 | 200 | 200 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۲۴-نومبر-۱۵ | 500 | 100 | 100 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱-دسمبر-۱۵ | 500 | 150 | 150 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۸-دسمبر-۱۵ | 650 | 50 | 50 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ۱۵-دسمبر-۱۵ | 500 | 100 | 100 | 1 | 1 | 1.8 | 1.8 | 1.8 | 1.8 |
| ټولیز | **35,850** | **13,678** | **13,358** | | | | | | |

**۴.۲ جدول: د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام ( په میلیون افغانی)**

| نیټه | د لیلام مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبی تولیز مبلغ | د تولو داوطلبیو شمیر | د ګټل شویو داوطلبیو شمیر | کسر شوی نرخ (٪) | د داوطلبی تر ټولو ټیټ نرخ (٪) | د داوطلبی ترټولو لوړ نرخ (٪) | عیار شوی اوسط(٪) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳-دسمبر-۱۴ | 2000 | 1580 | 1580 | 7 | 7 | 3.558 | 3.56 | 3.56 | 3.56 |
| ۳۰-دسمبر-۱۴ | 2000 | 1300 | 1300 | 5 | 5 | 3.556 | 3.56 | 3.56 | 3.559 |
| ۶-جنوری-۱۵ | 2000 | 1030 | 1030 | 6 | 6 | 3.55 | 3.56 | 3.56 | 3.56 |
| ۱۳-جنوری-۱۵ | 2000 | 300 | 300 | 2 | 2 | 3.56 | 3.56 | 3.56 | 3.56 |
| ۲۰-جنوری-۱۵ | 2000 | 650 | 650 | 2 | 2 | 3.56 | 3.56 | 3.56 | 3.56 |
| ۲۷-جنوری-۱۵ | 1500 | 350 | 350 | 3 | 3 | 3.559 | 3.56 | 3.56 | 3.56 |
| ۳-فبروری-۱۵ | 1500 | 250 | 250 | 2 | 2 | 3.559 | 3.56 | 3.56 | 3.559 |
| ۱۰-فبروری-۱۵ | 1000 | 350 | 350 | 2 | 2 | 3.56 | 3.56 | 3.56 | 3.56 |
| ۱۷-فبروری-۱۵ | 1000 | 450 | 450 | 2 | 2 | 3.56 | 3.56 | 3.56 | 3.56 |
| ۲۴-فبروری-۱۵ | 500 | 750 | 300 | 5 | 1 | 3.559 | 3.56 | 3.559 | 3.559 |
| ۳-مارچ-۱۵ | 500 | 400 | 150 | 3 | 1 | 3.55 | 3.559 | 3.55 | 3.55 |
| ۱۰-مارچ-۱۵ | 1000 | 950 | 750 | 5 | 4 | 3.545 | 3.57 | 3.55 | 3.548 |
| ۱۷-مارچ-۱۵ | 1000 | 650 | 650 | 4 | 4 | 3.54 | 3.55 | 3.55 | 3.549 |
| ۲۴-مارچ-۱۵ | 1000 | 365 | 365 | 4 | 4 | 3.55 | 3.55 | 3.55 | 3.549 |
| ۳۱-مارچ-۱۵ | 1000 | 550 | 550 | 4 | 4 | 3.49 | 3.55 | 3.55 | 3.546 |
| ۷-اپریل-۱۵ | 1500 | 785 | 785 | 6 | 6 | 3.546 | 3.55 | 3.55 | 3.549 |
| ۱۴-اپریل-۱۵ | 1000 | 250 | 250 | 2 | 2 | 3.55 | 3.55 | 3.55 | 3.55 |
| ۲۱-اپریل-۱۵ | 1000 | 380 | 380 | 5 | 5 | 3.55 | 3.55 | 3.55 | 3.55 |
| ۵-می-۱۵ | 1500 | 1250 | 300 | 8 | 1 | 3.549 | 3.55 | 3.549 | 3.549 |
| ۱۲-می-۱۵ | 1250 | 1850 | 1850 | 7 | 7 | 3.5 | 3.549 | 3.549 | 3.529 |
| ۱۹-می-۱۵ | 1500 | 675 | 675 | 5 | 5 | 3.53 | 3.549 | 3.549 | 3.541 |
| ۲۶-می-۱۵ | 1000 | 200 | 200 | 1 | 1 | 3.549 | 3.549 | 3.549 | 3.549 |
| ۲-جون-۱۵ | 1500 | 450 | 450 | 2 | 2 | 3.54 | 3.548 | 3.548 | 3.545 |
| ۹-جون-۱۵ | 2000 | 750 | 750 | 4 | 4 | 3.546 | 3.549 | 3.549 | 3.547 |
| ۱۶-جون-۱۵ | 1500 | 740 | 740 | 6 | 6 | 3.53 | 3.549 | 3.549 | 3.543 |
| ۲۳-جون-۱۵ | 750 | 150 | 150 | 1 | 1 | 3.549 | 3.549 | 3.549 | 3.549 |
| ۳۰-جون-۱۵ | 500 | 250 | 250 | 2 | 2 | 3.542 | 3.549 | 3.549 | 3.543 |
| ۷-جولای-۱۵ | 1000 | 770 | 770 | 4 | 4 | 3.545 | 3.549 | 3.549 | 3.548 |
| ۱۴-جولای-۱۵ | 1000 | 120 | 120 | 2 | 2 | 3.549 | 3.549 | 3.549 | 3.549 |
| ۲۸-جولای-۱۵ | 1000 | 700 | 700 | 4 | 4 | 3.547 | 3.549 | 3.549 | 3.548 |
| ۴-اگست-۱۵ | 1000 | 1200 | 1200 | 5 | 5 | 3.53 | | 3.549 | 3.49 |
| ۱۱-اگست-۱۵ | 500 | 450 | 450 | 2 | 2 | 3.53 | 3.549 | 3.549 | 3.538 |
| ۱۸-اگست-۱۵ | 500 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| ۲۵-اگست-۱۵ | 1000 | 350 | 350 | 3 | 3 | 3.547 | 3.548 | 3.548 | 3.548 |
| ۱-سپتمبر-۱۵ | 1500 | 300 | 300 | 2 | 2 | 3.547 | 3.548 | 3.548 | 3.547 |
| ۸-سپتمبر-۱۵ | 500 | 50 | 50 | 1 | 1 | 3.548 | 3.548 | 3.548 | 3.548 |
| ۱۵-سپتمبر-۱۵ | 500 | 50 | 50 | 1 | 1 | 3.547 | 3.548 | 3.48 | 3.48 |
| ۲۲-سپتمبر-۱۵ | 500 | 300 | 300 | 2 | 2 | 3.54 | 3.548 | 3.548 | 3.546 |
| ۲۹-سپتمبر-۱۵ | 750 | 750 | 75 | 1 | 1 | 3.54 | 3.54 | 3.54 | 3.54 |
| ۶-اکتوبر-۱۵ | 250 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| ۱۳-اکتوبر-۱۵ | 250 | 250 | 250 | 2 | 2 | 3.54 | 3.54 | 3.54 | 3.54 |
| ۲۰-اکتوبر-۱۵ | 750 | 210 | 210 | 2 | 2 | 3.54 | 3.54 | 3.54 | 3.54 |
| ۲۷-اکتوبر-۱۵ | 500 | 475 | 475 | 4 | 4 | 3.53 | 3.54 | 3.54 | 3.54 |
| ۳-نومبر-۱۵ | 500 | 100 | 100 | 1 | 1 | 3.54 | 3.54 | 3.54 | 3.54 |
| ۱۰-نومبر-۱۵ | 500 | 300 | 300 | 3 | 3 | 3.52 | 3.54 | 3.54 | 3.533 |
| ۱۷-نومبر-۱۵ | 1000 | 150 | 150 | 2 | 2 | 3.52 | 3.54 | 3.54 | 3.527 |
| ۲۴-نومبر-۱۵ | 1250 | 250 | 250 | 2 | 2 | 3.53 | 3.535 | 3.535 | 3.534 |
| ۱-دسمبر-۱۵ | 500 | 100 | 100 | 1 | 1 | 3.535 | 3.535 | 3.535 | 3.535 |
| ۸-دسمبر-۱۵ | 800 | 100 | 100 | 1 | 1 | 3.535 | 3.535 | 3.535 | 3.535 |
| ۱۵-دسمبر-۱۵ | 500 | 200 | 200 | 2 | 2 | 3.535 | 3.535 | 3.535 | 3.535 |
| **ټولیز** | **51,550** | **24,830** | **22,305** | | | | | | |

سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۵.۲ جدول: د ۱۸۲ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام (په میلیون افغانی)**

| نېټه | د لیلام مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبی تولیز مبلغ | د ټولو داوطلبیو شمیر | د کټل شویو داوطلبیو شمیر | کسر شوی نرخ (٪) | د داوطلبی تر ټولو ټیټ نرخ (٪) | د داوطلبی تر ټولو لوړ نرخ (٪) | عیار شوی اوسط نرخ (٪) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳-دسمبر-۱۴ | 1500 | 1747.338 | 718.338 | 7 | 6 | 5.226 | 7.1 | 0.05227 | 5.227 |
| ۳۰-دسمبر-۱۴ | 1500 | 635.496 | 635.496 | 4 | 4 | 5.22 | 5.227 | 0.05227 | 5.223 |
| ۶-جنوری-۱۵ | 1500 | 1208.456 | 700 | 3 | 3 | 5.227 | 5.23 | 0.05227 | 5.227 |
| ۱۳-جنوری-۱۵ | 1000 | 1110 | 852.705 | 4 | 4 | 5.227 | 5.228 | 0.05227 | 5.227 |
| ۲۰-جنوری-۱۵ | 1000 | 150 | 0 | 2 | 0 | 0 | 5.227 | 0.05227 | 0 |
| ۲۷-جنوری-۱۵ | 1000 | 470 | 200 | 3 | 1 | 5.2 | 5.227 | 0.052 | 5.2 |
| ۳-فبروری-۱۵ | 1000 | 550 | 550 | 3 | 3 | 5.16 | 5.2 | 0.052 | 5.185 |
| ۱۰-فبروری-۱۵ | 1500 | 519.131 | 519.131 | 3 | 3 | 5.19 | 5.2 | 0.052 | 5.19 |
| ۱۷-فبروری-۱۵ | 1000 | 587.904 | 443.952 | 5 | 5 | 5.198 | 5.21 | 0.052 | 5.198 |
| ۲۴-فبروری-۱۵ | 1000 | 607.64 | 607.64 | 4 | 4 | 5.19 | 5.2 | 0.052 | 5.2 |
| ۳-مارچ-۱۵ | 1000 | 862.295 | 415 | 5 | 3 | 5.18 | 5.21 | 0.0519 | 5.184 |
| ۱۰-مارچ-۱۵ | 1000 | 1822.295 | 1442.295 | 8 | 6 | 5.18 | 5.2 | 0.0519 | 5.189 |
| ۱۷-مارچ-۱۵ | 1000 | 903.382 | 903.382 | 5 | 5 | 5.18 | 5.195 | 0.0518 | 5.195 |
| ۲۴-مارچ-۱۵ | 1000 | 385.202 | 385.202 | 4 | 4 | 5.19 | 5.195 | 0.0519 | 5.19 |
| ۳۱-مارچ-۱۵ | 1000 | 185 | 160 | 4 | 3 | 5.194 | 5.2 | 0.05195 | 5.194 |
| ۷-اپریل-۱۵ | 1000 | 635 | 635 | 3 | 3 | 5.19 | 5.195 | 0.05195 | 5.195 |
| ۱۴-اپریل-۱۵ | 500 | 300 | 300 | 3 | 3 | 5.195 | 5.195 | 0.0595 | 5.195 |
| ۲۱-اپریل-۱۵ | 500 | 385 | 385 | 3 | 3 | 5.195 | 5.195 | 0.05195 | 5.195 |
| ۵-می-۱۵ | 500 | 2320 | 100 | 5 | 1 | 5.18 | 5.195 | 0.0518 | 5.18 |
| ۱۲-می-۱۵ | 750 | 2195 | 720 | 6 | 4 | 5.15 | 5.18 | 0.05179 | 5.174 |
| ۱۹-می-۱۵ | 1000 | 2110 | 2110 | 6 | 6 | 5.17 | 5.179 | 0.05179 | 5.177 |
| ۲۶-می-۱۵ | 1500 | 550 | 550 | 4 | 4 | 5.174 | 5.179 | 0.05179 | 5.177 |
| ۲-جون-۱۵ | 1000 | 225 | 225 | 2 | 2 | 5.178 | 5.179 | 0.05179 | 5.177 |
| ۹-جون-۱۵ | 500 | 1000 | 1000 | 4 | 4 | 5.175 | 5.179 | 0.05179 | 5.178 |
| ۱۶-جون-۱۵ | 1500 | 535 | 535 | 4 | 4 | 5.178 | 5.179 | 0.05179 | 5.179 |
| ۲۳-جون-۱۵ | 1000 | 200 | 200 | 2 | 2 | 5.178 | 5.179 | 0.05179 | 5.179 |
| ۳۰-جون-۱۵ | 1500 | 100 | 100 | 1 | 1 | 5.175 | 5.175 | 0.05175 | 5.175 |
| ۷-جولای-۱۵ | 1000 | 645 | 645 | 3 | 3 | 5.174 | 5.175 | 0.05175 | 5.175 |
| ۱۴-جولای-۱۵ | 500 | 270 | 270 | 2 | 2 | 5.174 | 5.175 | 0.05175 | 5.175 |
| ۲۸-جولای-۱۵ | 1000 | 316.502 | 316.502 | 2 | 2 | 5.175 | 5.175 | 0.05175 | 5.175 |
| ۴-اگست-۱۵ | 1000 | 1034.245 | 1034.245 | 6 | 6 | 5.174 | 5.175 | 0.05175 | 5.175 |
| ۱۱-اگست-۱۵ | 1000 | 305.207 | 305.207 | 2 | 2 | 5.175 | 5.175 | 0.05175 | 5.175 |
| ۱۸-اگست-۱۵ | 1000 | 171.813 | 171.813 | 1 | 1 | 5.175 | 5.175 | 5.175 | 5.18 |
| ۲۵-اگست-۱۵ | 1000 | 258.333 | 258.333 | 2 | 2 | 5.175 | 5.175 | 5.175 | 5.18 |
| ۱-سپتمبر-۱۵ | 1000 | 301.422 | 301.422 | 2 | 2 | 5.175 | 5.175 | 5.175 | 5.175 |
| ۸-سپتمبر-۱۵ | 1500 | 704.238 | 704.238 | 3 | 3 | 5.175 | 5.175 | 5.175 | 5.175 |
| ۱۵-سپتمبر-۱۵ | 1000 | 470.412 | 470.412 | 3 | 3 | 5.174 | 5.175 | 5.175 | 5.175 |
| ۲۲-سپتمبر-۱۵ | 500 | 177.727 | 177.727 | 3 | 3 | 5.174 | 5.175 | 5.175 | 5.175 |
| ۲۹-سپتمبر-۱۵ | 750 | 115.648 | 115.648 | 2 | 2 | 5.17 | 5.175 | 5.175 | 5.175 |
| ۶-اکتوبر-۱۵ | 1000 | 0.399 | 0 | 1 | 0 | 0 | 5.175 | 0 | 0 |
| ۱۳-اکتوبر-۱۵ | 500 | 662.752 | 0 | 4 | 4 | 5.18 | | 0 | 5.18 |
| ۲۰-اکتوبر-۱۵ | 500 | 395 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| ۲۷-اکتوبر-۱۵ | 500 | 85 | 35 | 2 | 1 | 5.15 | 5.175 | 5.15 | 5.15 |
| ۳-نومبر-۱۵ | 750 | 80 | 80 | 1 | 1 | 5.15 | 5.15 | 5.15 | 5.15 |
| ۱۰-نومبر-۱۵ | 750 | 710 | 710 | 3 | 3 | 5.13 | 5.15 | 5.15 | 5.147 |
| ۱۷-نومبر-۱۵ | 1500 | 800 | 800 | 3 | 3 | 5.15 | 5.15 | 5.15 | 5.15 |
| ۲۴-نومبر-۱۵ | 1250 | 250 | 250 | 2 | 2 | 5.149 | 5.15 | 5.15 | 5.15 |
| ۱-دسمبر-۱۵ | 1000 | 100 | 100 | 1 | 1 | 5.15 | 5.15 | 5.15 | 5.15 |
| ۸-دسمبر-۱۵ | 1500 | 200 | 200 | 1 | 1 | 5.15 | 5.15 | 5.15 | 5.15 |
| ۱۵-دسمبر-۱۵ | 1000 | 250 | 250 | 2 | 2 | 5.149 | 5.15 | 5.15 | 5.15 |
| **تولیز** | **49,750** | **30,602** | **22,588** | | | | | | |

سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۶.۲ جدول: د ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام (په میلیون افغانی)**

| نېټه | د لیلام مبلغ | ورکړل شوی مبلغ | د داوطلبی ټولیز مبلغ | د ټولو داوطلبیو شمیر | د ګټل شویو داوطلبیو شمیر | کسر شوی نرخ (٪) | د داوطلبی تر ټولو ټیټ نرخ (٪) | د داوطلبی ترټولو لوړ نرخ (٪) | عیار شوی اوسط (٪) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳-دسمبر-۱۴ | 1500 | 765 | 765 | 6 | 6 | 7.09 | 7.1 | 7.1 | 7.1 |
| ۳۰-دسمبر-۱۴ | 1000 | 195 | 195 | 3 | 3 | 7.099 | 7.1 | 7.1 | 7.099 |
| ۶-جنوری-۱۵ | 500 | 225 | 0 | 4 | 0 | 0 | 7.1 | 0 | 0 |
| ۱۳-جنوری-۱۵ | 500 | 250 | 0 | 2 | 0 | 0 | 7.1 | 7.08 | 0 |
| ۲۰-جنوری-۱۵ | 500 | 241.57 | 0 | 2 | 0 | 7.05 | 7.1 | 0 | 0 |
| ۲۷-جنوری-۱۵ | 500 | 110 | 0 | 2 | 0 | 7 | 7.04 | 0 | 0 |
| ۳-فبروری-۱۵ | 500 | 176.57 | 0 | 2 | 0 | 0 | 6.9 | 6.9 | 0 |
| ۱۰-فبروری-۱۵ | 500 | 5 | 0 | 1 | 0 | 0 | 6.8 | 6.8 | 0 |
| ۱۷-فبروری-۱۵ | 500 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| ۲۴-فبروری-۱۵ | 500 | | 0 | 1 | 0 | 6.75 | 6.75 | | 0 |
| ۳-مارچ-۱۵ | 500 | 25 | 0 | 0 | 0 | 6.75 | 6.75 | 0 | 0 |
| ۱۰-مارچ-۱۵ | 1000 | 10 | 0 | 0 | 0 | 6.75 | 6.75 | 0 | 0 |
| ۱۷-مارچ-۱۵ | 1000 | 2025 | 0 | 1 | 0 | 6.73 | 6.75 | 0 | 0 |
| ۲۴-مارچ-۱۵ | 500 | 2374 | 2374 | 2 | 2 | 6.69 | 6.7 | 6.69 | 6.7 |
| ۳۱-مارچ-۱۵ | 500 | 470 | 470 | 4 | 4 | 6.69 | 6.7 | 6.7 | 6.699 |
| ۷-اپریل-۱۵ | 500 | 283 | 283 | 3 | 3 | 6.7 | 6.7 | 6.7 | 6.7 |
| ۱۴-اپریل-۱۵ | 1000 | 1643 | 1643.5 | 4 | 4 | 6.7 | 6.7 | 6.7 | 6.7 |
| ۲۱-اپریل-۱۵ | 1000 | 1016 | 1016 | 4 | 4 | 6.7 | 6.699 | 6.7 | 6.7 |
| ۵-می-۱۵ | | | | | | | | | |
| ۱۲-می-۱۵ | 250 | 2360 | | 5 | 0 | 0 | 6.7 | 6.68 | 0 |
| ۱۹-می-۱۵ | 500 | 1520 | 1520 | 3 | 3 | 6.6 | 6.68 | 6.68 | 6.663 |
| ۲۶-می-۱۵ | 1500 | 600 | 600 | 3 | 3 | 6.65 | 6.68 | 6.68 | 6.664 |
| ۲-جون-۱۵ | 1500 | 642.471 | 642.471 | 3 | 3 | 6.67 | 6.68 | 6.68 | 6.674 |
| ۹-جون-۱۵ | 1500 | 1195.217 | 1145.217 | 7 | 6 | 6.675 | 6.685 | 6.68 | 6.68 |
| ۱۶-جون-۱۵ | 1000 | 1210 | 1210 | 7 | 6 | 6.675 | 6.68 | 6.68 | 6.68 |
| ۲۳-جون-۱۵ | 500 | 927.894 | 405 | 3 | 1 | 6.679 | 6.68 | 6.679 | 6.679 |
| ۳۰-جون-۱۵ | 500 | 631.232 | 531.232 | 2 | 2 | 6.675 | 6.68 | 6.679 | 6.676 |
| ۷-جولای-۱۵ | 500 | 638.798 | 638.798 | 4 | 4 | 6.678 | 6.679 | 6.679 | 6.679 |
| ۱۴-جولای-۱۵ | 500 | 457.199 | 300.199 | 2 | 2 | 6.679 | 6.68 | 6.679 | 6.679 |
| ۲۸-جولای-۱۵ | 500 | 890 | 890 | 4 | 4 | 6.67 | 6.679 | 6.679 | 6.676 |
| ۴-اگست-۱۵ | 500 | 875 | 875 | 3 | 3 | 6.679 | 6.679 | 6.679 | 6.676 |
| ۱۱-اگست-۱۵ | 500 | 590 | 590 | 3 | 3 | 6.676 | 6.679 | 6.679 | 6.676 |
| ۱۸-اگست-۱۵ | 500 | 240 | 240 | 2 | 2 | 6.679 | 6.679 | 6.679 | 6.676 |
| ۲۵-اگست-۱۵ | 500 | 50 | 50 | 1 | 1 | 6.679 | 6.679 | 6.679 | 6.689 |
| ۱-سپتمبر-۱۵ | 1000 | 825 | 825 | 3 | 3 | 6.679 | 6.679 | 6.679 | 6.679 |
| ۸-سپتمبر-۱۵ | 1500 | 1300 | 1300 | 4 | 4 | 6.679 | 6.679 | 6.679 | 6.679 |
| ۱۵-سپتمبر-۱۵ | 700 | 450 | 450 | 2 | 2 | 6.679 | 6.679 | 6.679 | 6.679 |
| ۲۲-سپتمبر-۱۵ | 500 | 200 | 200 | 2 | 2 | 6.679 | 6.679 | 6.679 | 6.679 |
| ۲۹-سپتمبر-۱۵ | 1000 | 530 | 530 | 3 | 3 | 6.678 | 6.679 | 6.679 | 6.679 |
| ۶-اکتوبر-۱۵ | 1000 | 60 | 60 | 1 | 1 | 6.679 | 6.679 | 6.679 | 6.679 |
| ۱۳-اکتوبر-۱۵ | 500 | 505 | 505 | 4 | 4 | 6.678 | 6.679 | 6.679 | 6.679 |
| ۲۰-اکتوبر-۱۵ | 1000 | 790.994 | 0 | 4 | 0 | 0 | 6.679 | 0 | 0 |
| ۲۷-اکتوبر-۱۵ | 500 | 500 | | 1 | 0 | 0 | 6.679 | 0 | 0 |
| ۳-نومبر-۱۵ | 1000 | 369.19 | 369.19 | 3 | 3 | 6.654 | 6.679 | 6.679 | 6.674 |
| ۱۰-نومبر-۱۵ | 1000 | 478.916 | 478.916 | 4 | 4 | 6.675 | 6.679 | 6.679 | 6.677 |
| ۱۷-نومبر-۱۵ | 1500 | 731.196 | 731.196 | 4 | 4 | 6.675 | 6.679 | 6.679 | 6.679 |
| ۲۴-نومبر-۱۵ | 1000 | 435 | 435 | 4 | 4 | 6.678 | 6.679 | 6.679 | 6.679 |
| ۱-دسمبر-۱۵ | 1500 | 458.712 | 258.712 | 3 | 3 | 6.678 | 6.679 | 6.679 | 6.679 |
| ۸-دسمبر-۱۵ | 800 | 1092.319 | 1092.319 | 5 | 5 | 6.677 | 6.679 | 6.679 | 6.678 |
| ۱۵-دسمبر-۱۵ | 1000 | 813.172 | 813.172 | 5 | 5 | 6.678 | 6.68 | 6.68 | 6.679 |
| **ټولیز** | **38,50** | **32,181** | **24,432** | | | | | | |

# ۳

# د انفلاسیون بهیر او لید لوری

د نړۍ اقتصادي وده نسبتاً کمه شوې ده چې اصلي لامل یې د توليزي تقاضا کموالی، د توکو د بيو ټیټوالی او د ټولو سترو اقتصادونو په مالي بازارونو کې د بې ثباتۍ زیاتوالی دی. د ۱۳۹۴ مالي کال د پای لپاره د نړۍ اقتصادي وده شاوخوا ۲.۴ سلنه اټکل شوې وه چې د تیر اټکل ۲.۸ سلنې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. په چین او د پرمختګ او بدلون په حال کې نورو سترو اقتصادونو لکه؛ د برازيل او روسيې د فدراسیون له پام وړ رکود څخه وروسته تمه کیده چې پرمختللي اقتصادونه به د ډيفلاسیون د خطر د کموالي او د پانګه اچونې د هڅونې او د ټوليزي تقاضا له لارې د نړۍ له اقتصادي ودې سره مرسته وکړي. په ۱۳۹۴ مالي کال کې پرمختللو اقتصادونو ښې اقتصادي کړنې درلودې حال دا چې د غوړیدلو اقتصادونو اقتصادي کړنې کمزورې وې.

د نړیوالو توکو بیې په ۱۳۹۴ مالي کال کې راغورځیدلي دي. د نفتو بیې شاوخوا ۴۸ سلنه راټیټې شوې دي چې د دې ټیټوالي اصلي لاملونه د نفتو ډېره عرضه، د چین اقتصادي کمزورتیا، د امریکایي ډالرو زیاتیدل او د سیالیت د بازارونو رالویدل په ګوته شوي دي. د اټکل شوي تقاضا کموالی د نفتو په ټیټوالی کې هم ونډه لري.

د توکو د ټیټې بیې له امله نړیوال انفلاسیون په دوامداره توګه راکم شوی دی. په ۱۳۹۴ مالي کال کې د مصرفي توکو بیې ۲.۶ سلنه اټکل شوي دي چې د ۱۳۸۸ کال راهیسې تر ټولو ټیټه کچه ښکاره کوي.

د نړۍ په کچه د انفلاسیون ټیټیدونکی بهیر همدا ډول د افغانستان په کورنیو بیو هم اغیز کوي. د عمومي مصرفي توکو د بيې د شاخص انفلاسیون له ۱.۳ سلنې څخه ۰.۱ سلنې ته (کال په کال) راکم شوی دی. د عمومي انفلاسیون نرخ چې د ربعې په ربعې پر بنسټ اټکل کیږي، د ۱۳۹۴ مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې ۳.۴ سلنې ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ثبت شوې ۰.۸ سلنې په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.


**۱.۳ په افغانستان کې د مصرفي توکو بيې**

په ۱۳۹۳ مالي کال کې د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته، د افغانستان اقتصاد د سیاسي او امنیتي نا ډاډمنتیا په پام کې نیولو سره د پام وړ ټیټیدونکی رکود درلوده چې له امله یې د عامه خدمتونو وړاندې کول، شخصي پانګه اچونې، شخصي خوندیتوب او سوداګریزه اعتماد له کړکیچ سره مخ شو. په پایله کې د ټولیزه مصرف په کمیدو سره د بیو کچه هم راټیټه شوه.

د ۱۳۹۴ مالي کال د څلورمې ربعې په پای کې د عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص انفلاسیون د تیر کال د څلورمې ربعې د ۱.۳ سلنې څخه ۰.۱ سلنې ته راکم شوی دی. د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ راکم شوی دی چې له امله یې د عمومي مصرفي توکو د بیو په شاخص باندې دیفلاسیوني فشارونه زیات شوي دي، حال دا چې ناخوارکي توکو د تیر کال د ورته مودې په پرتله د انفلاسیون لوړ نرخ ثبت کړی دی.

د عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص خلاف، په کابل کې د عمومي بيو کچه زیاته شوې ده. عمومي انفلاسیون د تیر کال له منفي ۱.۱ سلنې څخه منفي ۰.۶ سلنې ته زیات شوی دی. د ۱۳۹۴ مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې، د خوراکي توکو انفلاسیون راکم شوی دی، حال دا چې د ناخوراکي توکو په کټګورۍ کې یې زیاتوالی موندلی دی چې له امله یې د عمومي انفلاسیون نرخ لوړ شوی دی.


۱.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

اصلي انفلاسیون چې د ۳۰ سلنه قیچي کارئ میتود ( د اوسط پیدا کولو میتود) په مرسته محاسبه کیږي، په ۱۳۹۴ مالي کال کې (کال په کال) ۲.۲ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ۴.۳ سلنې په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

۲.۳ ګراف: اصلي انفلاسیون ( ۳۰ سلنه قیچي کارئ میتود)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۳ د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص بدلونونه

#### ۱.۲.۳ کلني بدلونونه

په افغانستان کې د دوو پر له پسې کلونو لپاره د توکو د بیو نړیواله کموالی؛ د عمومي بیو د بدلونونو د محاسبې په مرسته سنجول کیږي. عمومي انفلاسیون د تیر مالي کال په اوږدو کې له ۱.۳ سلنې څخه ۰.۱ سلنې ته (کال په کال) ټیټوالی موندلی دی. د ۱۳۹۴ مالي کالي په اوږدو کې د عمومي انفلاسیون د راکمیدو اصلي لامل د خوراکي توکو ټیټه بیه ښودل شوې ده، حال دا چې د ناخوراکي توکو فرعي شاخص د تیر کال په پرتله لوړه بیه تجربه کړې ده.

د کال د پای له مخې د خوراکي توکو انفلاسیون ( کال په کال) له ۲.۹ سلنې څخه منفي ۰.۳ سلنې ته راکم شوی دی. د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ډوډۍ او حبوباتو د بیې اوسط راکم شوی دی چې د انفلاسیون نرخ یې له ۸.۰ سلنې څخه ۰.۵ سلنې ته رسیږي. سربېره پر دې، د تازه او وچې میوې د انفلاسیون نرخ له ۱۱.۵ سلنې څخه ۰.۵ سلنې ته د خوراکي توکو د فرعي شاخص د ټیټ انفلاسیون له امله راښکته شوی دی. په همدې ترتیب، دا غیزې په یو ډول نه یو ډول د سبزیجاتو د بیو په لوړیدو سره ( له ۹.۶ سلنه ډیفلاسیوني نرخ څخه ۶.۳ سلنه ډیفلاسیوني نرخ ته رسیږي) جبرانوي. د خوراکي توکو د نورو فرعي برخو په بدلون کې عمومي شاخص هیڅ ډول برخه نه لري.

د مصرفي توکو د بیو شاخص د ناخوراکي توکو د فرعي برخو د انفلاسیون نرخ د تیر کال د منفي ۰.۵ سلنې په پرتله ۰.۵ سلنې ته زیاتوالی موندلی دی. د انفلاسیون په نرخ کې تر ټولو ډېر کلني زیاتوالی پوښاک ( له ۴.۲ سلنې څخه ۸.۶ سلنه)، ورپسې کور جوړونې، برېښنا، اوبه او غاز (له منفي ۹.۷ سلنې څخه منفي ۶.۶ سلنه) ښکاره کوي. له بلې خوا، د ټرانسپورټ اوسط نرخ د پام وړ کموالی موندلی دی او (کال په کال) له ۱۱.۳ سلنه انفلاسیوني نرخ څخه ۳.۴ سلنه ډیفلاسیونې نرخ ته راغورځیدلی دی. همدا ډول د اثاثیې او کورنیو توکو د بیې اوسط له ۸.۴ سلنې څخه ۵.۷ سلنې ته راکم شوی دی.

۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د اجزاوو وېشنه

(د کال پر اساس د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ کال مارچ میاشت = ۱۰۰)

| | وزن | ۱۳۹۲ | | | | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړی ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | 100.0 | 6.4 | 7.6 | 8.0 | 7.3 | 5.6 | 5.6 | 4.2 | 1.3 | -0.7 | -2.8 | -1.9 | 0.1 |
| **خوراکي توکي او څښاک** | 52.0 | 5.2 | 6.9 | 9.1 | 9.6 | 10.0 | 9.7 | 6.8 | 2.9 | -0.6 | -3.3 | -2.6 | -0.3 |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 12.8 | 13.7 | 14.6 | 9.1 | 9.5 | 11.4 | 11.0 | 8.0 | 1.9 | -3.4 | -2.3 | 0.5 |
| غوښه | 7.2 | 6.0 | 5.3 | 6.6 | 5.0 | 2.6 | 3.4 | 3.7 | 3.4 | 2.4 | -0.2 | -1.5 | 0.8 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 4.8 | 4.9 | 4.1 | 7.8 | 5.0 | 6.5 | 6.1 | 2.1 | 3.4 | 1.4 | 1.0 | 1.5 | 1.3 |
| غوړي او شحمیات | 4.0 | -0.5 | -2.3 | -0.4 | 0.3 | 1.8 | 1.7 | 0.9 | -1.7 | -6.2 | -7.2 | -6.5 | -6.6 |
| تازه او وچه میوه | 4.8 | -3.2 | -2.0 | -0.1 | 4.7 | 8.5 | 9.9 | 9.2 | 11.5 | 6.6 | 7.9 | 2.0 | 0.5 |
| سبزیجات | 7.9 | -3.3 | 6.6 | 15.3 | 30.7 | 30.3 | 24.3 | 7.1 | -9.6 | -11.7 | -15.9 | -12.4 | -6.3 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | 3.4 | 4.7 | 2.8 | 2.4 | 2.5 | -1.6 | -0.2 | -1.0 | -1.1 | 0.5 | 0.4 | 6.0 |
| اچار، ترشي او... | 0.9 | 8.8 | 10.2 | 5.6 | 8.1 | 10.5 | 9.4 | 12.0 | 5.9 | 1.0 | -1.0 | 0.3 | 6.6 |
| غیر الکولي مشروبات | 1.8 | 7.6 | 8.5 | 6.8 | 6.6 | 7.4 | 3.7 | 4.0 | 2.1 | 1.3 | 3.1 | 4.6 | 5.3 |
| **نا خوراکي** | 48.0 | 7.7 | 8.4 | 6.8 | 4.9 | 1.1 | 1.4 | 1.4 | -0.5 | -0.8 | -2.2 | -1.2 | 0.5 |
| تمباکو | 0.4 | 11.5 | 19.5 | 21.2 | 10.9 | 8.4 | 3.0 | 0.6 | 6.7 | 2.8 | 12.8 | 25.0 | 22.4 |
| پوښاک | 7.0 | 8.0 | 10.3 | 8.9 | 8.8 | 8.3 | 8.1 | 6.9 | 4.2 | 2.9 | 2.0 | 6.6 | 8.6 |
| کور جوړونه (استوګنځی) | 20.7 | 11.8 | 11.1 | 6.8 | 2.1 | -8.5 | -9.1 | -8.8 | -9.7 | -5.1 | -7.0 | -7.4 | -6.6 |
| فرنیچر او کورني توکي | 7.0 | 3.9 | 6.0 | 6.5 | 8.7 | 8.5 | 10.4 | 10.3 | 8.4 | 4.9 | 2.1 | 3.3 | 5.7 |
| روغتیا | 3.3 | 11.3 | 13.0 | 11.2 | 8.0 | 8.8 | 9.0 | 10.3 | 8.5 | 7.7 | 7.4 | 6.9 | 9.4 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | -2.5 | -1.5 | 3.6 | 5.8 | 16.6 | 20.1 | 19.5 | 11.3 | -6.9 | -10.0 | -7.8 | -3.4 |
| اړیکې | 1.1 | -6.7 | -6.4 | -4.5 | -2.5 | -1.5 | -4.1 | -2.0 | -3.4 | -4.7 | -3.3 | -2.2 | -1.3 |
| زده کړه | 0.7 | 7.1 | 1.7 | 1.8 | 1.8 | 1.9 | 5.0 | 4.0 | 2.8 | 2.0 | -2.7 | -3.7 | -5.1 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 3.2 | 3.5 | 2.6 | 2.3 | 6.5 | 5.4 | 7.1 | 7.0 | 1.2 | 3.8 | 5.2 | 6.3 |
| ریستورانتونه او هوټلونه | 1.0 | 2.4 | 2.8 | 3.7 | 1.8 | 2.6 | 2.4 | 4.6 | 3.2 | 2.2 | 4.2 | -0.8 | -0.3 |
| متفرقه | 1.8 | 5.5 | 5.2 | 6.6 | 8.0 | 7.6 | 10.2 | 8.2 | 7.6 | 7.3 | 7.2 | 10.6 | 9.5 |
| **اصلي انفلاسیون (۳۰ سلنه د قیچي کارۍ میتود پر اساس)** | | 4.9 | 5.8 | 5.8 | 5.6 | 6.4 | 6.3 | 5.6 | 4.3 | -0.1 | 0.5 | 0.5 | 2.2 |
| **اصلي انفلاسیون (د ډوډۍ او حبوبات، غوړي او شحمیاتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسیون)** | | 5.9 | 7.4 | 7.2 | 7.2 | 4.3 | 3.6 | 1.7 | -0.8 | -0.7 | -1.9 | -1.2 | -1.0 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه


### ۲.۲.۳د ملي مصرفي توکو د بیې په شاخص کې درې میاشتني بدلونونه

د ۱۳۹٤ مالي کال د لومړۍ ربعې وروسته، د عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص انفلاسیون چې کچه یې د ربعو له مخې ټاکل کیږي، زیاتوالی موندلی دی. د څلورمې ربعې په اوږدو کې، انفلاسیون په وروستیو دوو کلونو کې تر ټولو لوړ نرخ ثبت کړی دی چې کچه یې د تیر کال لـه ۰.۸ سلـنـې څخه ۳.۴ سلنې ته زیاته شوې ده. د انفلاسیون د دې زیاتوالي ستر لامل د پانګې بهرني جریانونه، د تیرې ربعې په پـرتلـه د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانی شاوخوا ۶.۶ سلنه ټیټوالـی

په ګوته شوی دی. همدا ډول په پاکستان کې د خوراکي توکو (په ځانګړې توګه د اوړو) د بیو زیاتوالی په افغانستان کې د خوراکي توکو بیې تر خپل اغیز لاندې راوستي دي.
د انفلاسیون نرخ په دواړو د مصرفي توکو د بیو د شاخص په اصلي توکو کې لوړ شوی دی، خو د ناخوراکي توکو د کټګورۍ په پرتله د خوراکي توکو بیې په لوړه کچه زیاتې شوي دي.

د مصرفي توکو د بیو د شاخص د خوراکي توکو برخه چې د دې شاخص شاوخوا ۵۲ سلنه جوړوي له ۰.۳ سلنه ډیفلاسیوني نرخ څخه ۴.۴ سلنه انفلاسیوني نرخ ته راګرځیدلی دی. په دې توکو باندې د فشارونو د زیاتیدو اصلي لامل د تازه او وچو میوو او سبزیجاتو لوړه بیه ښودل شوې ده. تازه او وچې میوې په تیر کال کې د ۷.۱ سلنه ډیفلاسیونې نرخ له ثبتیدو وروسته د ۱۳۹۴ مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې ۱.۵ سلنې ته بدل شوی دی. په ورته وخت کې د سبزیجاتو د انفلاسیون نرخ د تیرې ربعې د منفي ۱۱.۲ سلنې په پرتله ۱۷.۴ سلنې ته لوړ شوی دی. بر خلاف د ډوډۍ او حبوباتو منځنی بیه ۰.۸ سلنې ته راټیټ شوې ده. د خوراکي توکو دا فرعي برخه د ټول شاخص کابو ۱۷ سلنه جوړوي. څکه نو په دې برخه کې کوچنی بدلون کولای شي ټولیزه شاخص اغیزمن کړي.

۳.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بیو شاخص( ربعه په ربعه)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

همدا ډول د ناخوراکي توکو کټګورۍ په ټولیزه شاخص کې ورته بهیر لري. د ناخوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د تیرې ربعې د ۱.۹ سلنې په پرتله ۲.۲ سلنې ته لوړ شوی دی. د ناخوراکي توکو د فرعي شاخص د انفلاسیون په نرخ کې تر ټولو ډېر زیاتوالی کور جوړونې، برېښنا، اوبو او غازو (له ۰.۰ سلنې څخه ۱.۹ سلنه)، ورپسې اثاثیې او کورني توکو (له ۲.۴ سلنې څخه ۳.۰ سلنه) ثبت کړی دی. په همدې ترتیب، په دې برخو باندې انفلاسیوني فشارونه تر یوه بریده پورې د ټرانسپورټ د انفلاسیون ( له ۴.۹ سلنې څخه ۱.۱ سلنې) ته ټیټوالي، جبرانوي.

**۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه**

(د ربعې له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشت)

| | ۱۳۹۲ | | | ۱۳۹۲ | | | | ۱۳۹۴ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړی ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | 0.6 | 1.2 | 1.1 | 4.2 | -1.0 | 1.2 | -0.2 | 1.3 | -2.9 | -0.9 | 0.8 |
| **خوراکي توکي او څښاک** | 0.5 | 1.3 | 1.7 | 5.9 | 0.8 | 1.0 | -1.0 | 2.0 | -2.7 | -1.7 | -0.3 |
| ډوډۍ او حبوبات | 0.2 | 2.4 | 3.0 | 3.2 | 0.6 | 4.1 | 2.7 | 0.4 | -5.1 | -1.3 | 4.0 |
| غوښه | 2.6 | 0.0 | 1.8 | 0.6 | 0.3 | 0.7 | 2.1 | 0.3 | -0.7 | -1.9 | 0.8 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 0.4 | -1.4 | 4.8 | 1.2 | 1.9 | -1.8 | 0.8 | 2.5 | -0.1 | -2.1 | 1.2 |
| غوړي او شحمیات | -2.3 | -0.2 | 0.7 | 2.1 | -0.9 | -0.2 | -0.1 | -0.5 | -5.4 | -1.3 | 0.6 |
| تازه او وچه مېوه | 2.7 | 2.0 | -1.0 | 0.9 | 6.5 | 3.4 | -1.7 | 3.1 | 1.8 | 4.6 | -7.1 |
| سبزیجات | 0.0 | 1.7 | -1.0 | 29.9 | -0.3 | -3.0 | -14.7 | 9.7 | -2.7 | -7.6 | -11.2 |
| بوره او خواږه توکي | -2.3 | 1.3 | 1.9 | 1.5 | -2.1 | -2.8 | 3.3 | 0.7 | -2.3 | -1.2 | 3.3 |
| اچار، ترشي او... | 1.0 | 3.8 | -2.1 | 5.3 | 3.3 | 2.7 | 0.3 | -0.5 | -1.5 | 0.7 | 1.7 |
| غیر الکولي مشروبات | -0.2 | 3.0 | 1.6 | 2.1 | 0.5 | -0.6 | 1.9 | 0.3 | -0.3 | 1.1 | 3.4 |
| **نا خوراکي توکي** | 0.8 | 1.1 | 0.6 | 2.4 | -2.9 | 1.4 | 0.6 | 0.5 | -3.3 | 0.0 | 1.9 |
| تمباکو | 2.1 | 7.5 | -0.5 | 1.5 | -0.2 | 2.2 | -2.8 | 7.6 | -3.8 | 12.1 | 7.8 |
| پوښاک | 1.7 | 2.1 | 0.9 | 3.8 | 1.2 | 1.9 | -0.2 | 1.3 | -0.1 | 1.1 | 4.3 |
| کور جوړونه (استوګنځی) | 0.1 | 0.4 | -0.4 | 2.0 | -10.3 | -0.3 | -0.1 | 1.1 | -5.7 | -2.2 | 0.0 |
| فرنیچر او کورني توکي | 1.9 | 2.8 | 1.2 | 2.5 | 1.8 | 4.6 | 1.1 | 0.7 | -1.5 | 1.7 | 2.4 |
| روغتیا | 3.4 | 1.8 | 1.3 | 1.2 | 4.2 | 2.0 | 2.5 | -0.4 | 3.4 | 1.8 | 2.0 |
| ټرانسپورټ | -1.0 | 0.2 | 2.9 | 3.6 | 9.1 | 3.2 | 2.4 | -3.5 | -8.7 | -0.2 | 4.9 |
| اړیکې | -1.1 | -1.4 | -0.7 | 0.7 | -0.1 | -1.3 | -1.3 | -0.7 | -1.4 | 0.1 | -0.3 |
| زده کړه | 1.7 | -0.6 | 0.8 | 0.0 | 1.8 | 2.4 | -0.2 | -1.2 | 1.0 | -2.2 | -1.3 |
| معلومات او کلتور | 1.3 | 0.1 | 0.0 | 0.9 | 5.5 | -1.0 | 1.6 | 0.8 | -0.2 | 1.5 | 2.9 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 0.2 | 0.6 | 1.1 | -0.1 | 0.9 | 0.4 | 3.3 | -1.5 | 0.0 | 2.3 | -1.6 |
| متفرقه | 1.6 | 0.3 | 2.0 | 4.0 | 1.2 | 2.8 | 0.1 | 3.3 | 1.0 | 2.6 | 3.3 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

* د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ پیلیږي او د ډیسمبر په ۲۰ پای ته رسیږي. د ۱۳۹۱ نوی مالي کال د همدې بدلون له امله ۹ میاشتې رانغاړي.

## ۳.۳ د کابل د مصرفي توکو د بیې په شاخص کې بدلونونه

### ۱.۳.۳ کلنی بدلونونه

که څه هم په کابل کې عمومي انفلاسیون د یو کال په اوږدو کې لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي، خو بیا هم په منفي محدوده کې پاتې دی. د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص انفلاسیون د تیر کال د ورته ربعې د ثبت شوې منفي ۱.۱ سلنې په پرتله منفي ۰.۶ سلنې ته لوړ شوی دی چې اصلي لامل د ناخوراکي توکو د بیو زیاتوالی په ګوته شوی دی، حال دا چې د خوراکي توکو د کټګورۍ بیې د تیرې دورې په پرتله راکمې شوې دي.

د ډوډۍ او حبوباتو، تازه او وچې میوې او سبزیجاتو د ټیټې بیې په منځ کې د مصرفي توکو د بیو د شاخص د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ (کال په کال) له ۱.۸ سلنې څخه صفر

ته راښکته شوی دی. د ډوډۍ او حبوباتو بيې چې د خوراکي توکو د شاخص تر ټولو لویه برخه جوړوي له ۳.۰ سلنه انفلاسیوني نرخ څخه ۰.۷ سلنه ډیفلاسیوني نرخ ته په اوسط ډول بدلون موندلی دی. په ورته وخت کې د تازه او وچې میوې د انفلاسیون نرخ له ۱۲.۹ سلنې څخه ۳.۱ سلنې او د سبزیجاتو د انفلاسیون نرخ له منفي ۵.۶ سلنې څخه منفي ۱۱.۵ سلنې ته راکم شوی دی. د خوراکي توکو د شاخص نورو فرعي برخو د انفلاسیون لوړ نرخ ثبت کړی دی چې له دې ډله تر ټولو ډېر زیاتوالی غوښه (له ۲.۶ سلنې څخه ۴.۳ سلنې) ته ښکاره کوي. په همدې ترتیب دا بدلونونه دومره د پام وړ نه دي چې د بیو په عمومي کچې باندې اغیزه واچوي.

د پوښاک، کور جوړونې، برېښنا، اوبو او غازو، اثاثیې او کورنیو توکو د لوړې بیې له امله د ناخوراکي توکو د انفلاسیون نرخ له منفي ۳.۱ سلنې څخه منفي ۰.۹ سلنې ته زیات شوی دی. په دې توکو کې تر ټولو ډېر کلنی زیاتوالی کور جوړونه، برېښنا، اوبه او غاز ( له منفي ۱۳.۴ سلنې څخه منفي ۹.۶ سلنې پورې) ښکاره کوي. دا برخه په یوازې توګه د ټولیزه شاخص کابو۲۱ سلنه جوړوي؛ ځکه نو د ناخوراکي توکو په بیو کې هر ډول بدلون کولای شي په عمومي انفلاسیون کې د پام وړ بدلونونه راولي. سربېره پر دې د پوښاک د انفلاسیون منځنی بیه له ۱۰.۳ سلنې څخه ۱۳.۸ سلنې او د اثاثیې او کورنیو توکو له ۱۲.۵ سلنې څخه ۱۴.۰ سلنې ته زیاته شوې ده. په ورته وخت کې په نړیواله بازارونو کې د تیلو د بیو د کمیدو له امله د ټرانسپورټ د انفلاسیون نرخ له ۱۹.۴ سلنې څخه منفي ۳.۴ سلنې ته راکم شوی دی.

د قیچي کارۍ میتود (۳۰ ٪) چې په افغانستان کې د اصلي انفلاسیون د حجم د پیدا کولو تر ټولو زیات کارونکی میتود دی د تیر کال د ورته ربعې د ۴.۴ سلنې په پرتله ۴.۷ سلنې ته ډېر کم زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول د مصرفي توکو د بیې شاخص چې ډوډۍ او حبوبات، غوړي او شحمیات او تمباکو رانغاړي له منفي ۳.۱ سلنې څخه (کال په کال) منفي ۱.۴ سلنې ته لوړ شوی دی.

۴.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بیې شاخص انفلاسیون




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۳.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بيې شاخص د اجزاوو وېشنه**

(د کال له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ کال د مارچ مياشت = ۱۰۰)

| | | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | وزن | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه |
| ټولیز شاخص | 100.0 | 1.2 | 1.2 | -1.1 | -2.0 | -3.6 | -2.5 | -0.6 | 1.2 |
| خوراکي توکي او څښاک | 52.0 | 5.5 | 5.4 | 1.8 | -1.0 | -1.3 | -2.1 | 0.0 | 5.5 |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 4.8 | 6.6 | 3.0 | -1.9 | -2.9 | -3.2 | -0.7 | 4.8 |
| غوښه | 7.2 | -1.4 | 3.8 | 2.6 | 0.5 | 1.1 | 0.7 | 4.3 | -1.4 |
| شيدې، پنير او هګۍ | 4.8 | 9.9 | 8.7 | 5.9 | 2.7 | 6.1 | 8.5 | 7.1 | 9.9 |
| غوړي او شحميات | 4.0 | -3.1 | -5.1 | -5.5 | -12.6 | -7.7 | -7.5 | -5.5 | -3.1 |
| تازه او وچه ميوه | 4.8 | 8.8 | 7.4 | 12.9 | 5.1 | 8.3 | 3.0 | 3.1 | 8.8 |
| سبزيجات | 7.9 | 15.8 | 8.9 | -5.6 | -2.3 | -10.2 | -12.6 | -11.5 | 15.8 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | -6.9 | -3.5 | -5.1 | -2.8 | 1.4 | 2.6 | 13.9 | -6.9 |
| اچار، ترشي او... | 0.9 | 7.0 | 9.2 | 7.2 | 1.4 | 3.6 | 9.3 | 19.8 | 7.0 |
| غير الکولي مشروبات | 1.8 | 2.1 | 2.6 | 3.2 | -0.8 | 3.0 | 5.3 | 9.5 | 2.1 |
| نا خوراکي توکي | 48.0 | -1.7 | -1.6 | -3.1 | -2.8 | -5.2 | -2.8 | -0.9 | -1.7 |
| تمباکو | 0.4 | 13.3 | 11.5 | 15.5 | 12.9 | 9.1 | 22.6 | 20.1 | 13.3 |
| پوښاک | 7.0 | 11.5 | 11.3 | 10.3 | 5.6 | 0.8 | 9.8 | 13.8 | 11.5 |
| کور جوړونه، برېښنا، اوبه او ګاز | 20.7 | -13.2 | -13.1 | -13.4 | -6.4 | -9.7 | -10.0 | -9.6 | -13.2 |
| فرنيچر او کورني توکي | 7.0 | 13.4 | 13.2 | 12.5 | 7.2 | 3.9 | 8.5 | 14.0 | 13.4 |
| روغتيا | 3.3 | 7.3 | 8.7 | 4.1 | 4.1 | 3.5 | 0.2 | 0.3 | 7.3 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | 33.2 | 32.1 | 19.4 | -14.7 | -15.4 | -7.4 | -3.4 | 33.2 |
| اړيکې | 1.1 | -2.2 | -4.0 | -5.0 | -5.7 | -3.6 | -1.6 | -0.2 | -2.2 |
| زده کړه | 0.7 | 2.8 | 1.9 | 2.1 | 1.6 | -3.8 | -5.8 | -7.3 | 2.8 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 14.6 | 19.1 | 18.3 | 1.8 | 5.6 | 6.8 | 9.8 | 14.6 |
| ريسټورانټونه او هوټلونه | 1.0 | 2.3 | 5.2 | 3.1 | 1.7 | 5.5 | -0.6 | 0.0 | 2.3 |
| متفرقه | 1.8 | 7.9 | 3.8 | 5.0 | 4.5 | 8.3 | 17.8 | 17.9 | 7.9 |
| اصلي انفلاسيون (۲۸ سلنه د قيچي کارۍ ميتود پر اساس) | | 5.7 | 6.2 | 4.4 | 0.7 | 1.2 | 1.9 | 4.7 | 5.7 |
| اصلي انفلاسيون (د ډوډۍ او حبوبات، غوړي او شحمياتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسيون) | | -1.3 | -3.8 | -3.1 | -0.5 | -2.6 | -1.7 | -1.4 | -1.3 |


سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۲.۳.۳ د کابل د مصرفي توکو د بیو د شاخص درې میاشتنی بدلونونه**

د ۲۰۱۵ کال په ډیسبمر کې د خوراکي توکو د بیو د پام وړ زیاتوالي له امله په کابل کې د مصرفي توکو د بیو د شاخص درې میاشتني بدلونونه زیات شوي دي. په ورته وخت کې د مصرفي توکو د بیو شاخص د ناخوراکي توکو د برخې بیې راټیټې شوي دي. عمومي انفلاسیون د دوو کلونو په اوږدو کې خپلې لوړې کچې یعنې د تیر کال له ۱.۶ سلنې څخه ۳.۶ سلنې ته رسیدلی دی.

په زیاته کچه د تازه او وچې میوې او سبزیجاتو د بیو د زیاتوالي له امله د خوراکي توکو د انفلاسیون نرخ د تیرې ربعې له منفي ۰.۸ سلنې ۵.۵ سلنې ته لوړ شوی دی. د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د سبزیجاتو د انفلاسیون منځنی بیه د تیرې ربعې له منفي ۱۳.۴ سلنې څخه ۱۹.۸ سلنې ته لوړه شوې ده. په ورته وخت کې د تازه او وچې میوې د انفلاسیون نرخ له منفي ۹.۲ سلنې څخه ۲.۴ سلنې ته لوړ شوی دی. همدا ډول د غوښې د انفلاسیون نرخ (له ۳.۹ سلنې څخه ۴.۹ سلنې ) ته زیاتوالی ښکاره کوي. له بلې خوا ډوډۍ او حبوباتو او شیدې، پنیر او هګیو د انفلاسیون ټیټ نرخ ثبت کړی دی. د ناخوراکي توکو منځنی بیه د تیرې ربعې د ۳.۵ سلنې په پرتله ۲.۳ سلنې ته راکمه شوې ده. د ناخوراکي توکو د برخې د انفلاسیون د ټیټیدو اصلي لامل د پوښاک، روغتیا او د ټرانسپورت په ترتیب سره ( له ۸.۸ سلنې څخه ۶.۴ سلنې)، ( له ۴.۴ سلنې څخه منفي ۲.۰ سلنې) او ( له ۱۱.۴ سلنې څخه ۰.۰ سلنې) ته انفلاسیونی ټیټوالی په ګوته شوی دی. بر خلاف د کور جوړونې د انفلاسیون نرخ له ۰.۵ سلنې څخه ۱.۰ سلنې او د اثاثیې او کورنې توکو له ۵.۸ سلنې څخه ۶.۴ سلنې ته لوړ شوی دی.

۵.۳ ګراف: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص ( ربعه په ربعه)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې د شاخص د ربعې په ربعې بدلونونه**

(د ربعې له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشت = ۱۰۰)

| | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوېمه ربعه | درېمه ربعه | څلورمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | -3.8 | 1.0 | 0.3 | 1.6 | -4.7 | -0.6 | 1.6 | 3.6 |
| **خوراکي توکي او څښاك** | -1.2 | -0.2 | 0.0 | 3.3 | -3.9 | -0.5 | -0.8 | 5.5 |
| ډوډۍ او حبوبات | -2.8 | 2.0 | 5.1 | -1.1 | -7.4 | 1.0 | 4.8 | 1.4 |
| غوښه | -0.5 | -2.5 | 4.4 | 1.3 | -2.6 | -1.9 | 3.9 | 4.9 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 2.0 | -1.5 | 2.5 | 3.0 | -1.1 | 1.7 | 4.7 | 1.6 |
| غوړي او شحمیات | -2.6 | -1.6 | -0.8 | -0.6 | -9.9 | 3.9 | -0.5 | 1.5 |
| تازه او وچه میوه | 9.9 | 5.1 | -4.5 | 2.3 | 2.3 | 8.3 | -9.2 | 2.4 |
| سبزیجات | -6.6 | -3.9 | -11.0 | 18.2 | -3.4 | -11.7 | -13.4 | 19.8 |
| بوره او خواږه توکي | -5.2 | -5.6 | 6.0 | 0.0 | -3.0 | -1.5 | 7.3 | 11.1 |
| اچار، ترشي او... | 3.1 | 0.9 | 1.8 | 1.1 | -2.4 | 3.2 | 7.4 | 10.8 |
| غیر الکولي مشروبات | 2.0 | -2.6 | 2.3 | 1.5 | -2.0 | 1.2 | 4.6 | 5.5 |
| **نا خوراکي** | -5.6 | 1.9 | 0.5 | 0.3 | -5.3 | -0.7 | 3.5 | 2.3 |
| تمباکو | 1.9 | 7.4 | 0.5 | 5.0 | -0.4 | 3.8 | 12.9 | 2.8 |
| پوښاک | 2.2 | 5.2 | -0.1 | 2.6 | -2.2 | 0.5 | 8.8 | 6.4 |
| کور جوړونه | -14.0 | 0.1 | -0.1 | 0.6 | -7.0 | -3.4 | 0.5 | 1.0 |
| فرنیچر او کورني توکي | 1.4 | 8.2 | 1.3 | 1.3 | -3.3 | 4.8 | 5.8 | 6.4 |
| روغتیا | 1.6 | 0.8 | 3.7 | -2.0 | 1.7 | 0.2 | 0.4 | -2.0 |
| ټرانسپورټ | 21.9 | 0.5 | 1.7 | -4.1 | -12.9 | -0.4 | 11.4 | 0.0 |
| اړیکې | -0.1 | -2.1 | -1.9 | -1.0 | -0.8 | 0.1 | 0.1 | 0.4 |
| زده کړه | 1.0 | 2.0 | 0.1 | -1.1 | 0.5 | -3.3 | -1.9 | -2.8 |
| معلومات او کلتور | 14.0 | -0.3 | 3.6 | 0.5 | -1.9 | 3.4 | 4.8 | 3.2 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 1.5 | 0.8 | 2.9 | -2.0 | 0.0 | 4.6 | -3.1 | -1.3 |
| متفرقه | 0.4 | 3.2 | -1.9 | 3.3 | -0.1 | 7.0 | 6.8 | 3.4 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۴.۳ د سیمې د انفلاسیون بهیر

دا برخه د سویلي آسیا د هېوادونو د انفلاسیون په نـرخ کې وروستي بدلونونه رانغاړي. د څلورمې ربعې په اوږدو کې د انفلاسیون نرخ تر ټولو ټیټه کچه ثبت کړې ده. د تـوکـو او خوراکي توکو د بیو د ټیټوالي او په (هند او سریلانکا) کې د بیو د مدیریت د کمیدو له امله په سیمه کې د انفلاسیون نرخ د پام وړ راغورځیدلی دی. په دې برخه کې سویلي آسیا یـو له هغه سیمو څخه ده چې د نړۍ په کچه د انفـلاسیـون تـر ټولو ټیټ نرخ لري.

### ۱.۴.۳ په پاکستان کې انفلاسیون

د پاکستان د مصرفي توکو د بیو شاخص عمومي انفلاسیون په دوامداره توګه ټیټیدونکی بهیر درلوده. د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر په اوږدو کې د ۱۲ میاشتو منځنی انفلاسیون ۴.۵ سلنې ته رسیږي چې د تیرو ۱۱ کلونو په اوږدو کې تر ټولو ټیټه کچه په ګوته کوي. همدا ډول اصلي انفلاسیون چې ( د قیچې کارۍ میتود) له لارې محاسبه کیږي ۲.۷ سلنې ته رالویدلی دی، حال دا چې په ۱۳۹۳ مالی کال کې یې کچه ۵.۲ سلنه وه. د انفلاسیون د ټیټې کچې په پام کې نیولو سره، د پاکستان مرکزي بانک هڅه کوي چې د خپلې پالیسۍ هدف په بریالیتوب سره ترلاسه کړي.

په پاکستان کې د ډیفلاسیوني فشارونو د رامنځ ته کیدو اصلي لامل د نفتو او خوراکي توکو د بیو نړیواله کموالی په

ګوته شوی دی. له همدې امله د پاکستان مرکزي بانک د ټیټ انفلاسیون په پام کې نیولو سره د بیو د ټیکاو د کنټرول په موخه د خپلې پالیسی نرخ د کال په اوږدو کې پنځه ځله راکم کړی دی.

۶.۳ ګراف: د پاکستان د مصرفي توکو د بیو عمومي شاخص
(کال په کال)





د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۴.۳ په هند کې انفلاسیون

د هند د مصرفي توکو د بیو شاخص کمزوره شوی دی چې له امله یې عمومي انفلاسیون د تیرو دوو کلونو له ۱۰.۱ سلنه منځني نرخ څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۵.۹ سلنې ته راښکته شوی دی. خو بیا هم په هند کې انفلاسیون د ډیسمبر په میاشت کې لوړه کچه درلوده چې د تیر کال د ورته میاشتو د ۴.۲۸ سلنې په پرتله ۵..۶۱ سلنې ته رسیږي. د ټیټ انفلاسیون له امله د هند مرکزي بانک خپل پولي سیاست ازاده پری ایښی دی.

په هند کې د انفلاسیون ټیټوالی تر ډېری بریده په نړیواله بدلونونو لګه؛ د تیلو او خوراکي توکو په ارزانه بیو پورې اړه لري.

۷.۳ ګراف: د هند د مصرفي توکو د بیې د شاخص انفلاسیون
(کال په کال)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۵.۳ د انفلاسیون لنډ مهاله لید لوری

په منځ مهاله موده کې تمه کیږي چې انفلاسیون بدلون ومومي. د افغانستان بانک د وړاندوینې پر بنسټ، انفلاسیون به د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړی نیمایي کې شاوخوا ۲.۵ سلنې ته لوړ شي. په همدې ترتیب دا بدلونونه د اقتصادي پراختیا په بهرنیو اغیزو، د مبادلې نرخ وضعیت او د نفتو او خوراکي توکو نړیوالې بیې پورې اړه لري.

تمه کیږي چې اقتصادي وده د نویو سوداګریو د ثبتیدو او د کرنې په سکتور کې د ښه فعالیت له امله زیاته شي چې په دې کار سره کیدای شي عمومي مصرف زیات او د انفلاسیون نرخ لوړ شي. همدا ډول د انفلاسیوني فشارونو د رامنځ ته کیدو اصلي لامل د مبادلې د نرخ کموالی دی. افغانستان چې په وارداتو پورې تړلی اقتصاد لري، د افغانۍ د ارزښت کموالی یې ډېری په هېواد کې د مصرفي توکو د بیو په زیاتوالي پورې اړه لري. خو تمه کیږي چې د تیلو او خوراکي توکو نړیواله بیې کمزوره پاتې شي چې په دې کار سره بنایي د بیو په عمومي شاخص باندې د مبادلې نرخ د ټیټوالي اغیزې راکمې شي.

#### ۱.۵.۳ خطرونه

په لنډ مهاله توګه د انفلاسیون خطرونو لوړیدونکی بهیر درلوده، که څه هم نړیواله بیې کمزوره شوې وې. د ۱۳۹۴ مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې د انفلاسیون تر ټولو ستره برخه د مبادلې نرخ جوړوي. د افغانستان د سوداګری بیلانس د خورا ستر کسر درلودونکی دی او له همدې امله د مبادلې نرخ له کمیدو څخه خوندي نه دی. نو ځکه دا کار په نږدې راتلونکې کې د انفلاسیون لپاره یو مهم خوځنده عامل ګڼل کیږي.

# ۴

# د بهرني سکتور بدلونونه

## ۴
# د بهرني سکتور بدلونونه

دا څېرکی د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې د هېواد په اقتصاد کې د بهرني سکتور بدلونونه رانغاړي. شته شمېرې ښکاره کوي چې د بهرني سکتور فعالیت په ۱۳۹۴ مالي کال کې کمزوره ؤ. د بهرني سکتور د کمزوره کېدو عمده لاملونه خراب امنیتي وضعیت، دوامداره سیاسي ناډاډمنتیا، په خصوصي سکتور باندې د خلکو د اعتماد کمیدل او د اقتصادي کړنو کمزوره وده ګڼل کیږي. بهرنی سکتور د ۳۵۱۱.۶۰ میلیونه امریکایي ډالرو منفي کسر په درلودلو سره د اداینو په بیلانس کې د کورني ناخالصه تولیداتو له ۱۶ سلنه سره برابر دی. د دې بدلونونو اصلي لاملونه د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د عوایدو د پانګې د بهیدنې ټیټوالی، د بهرنی پانګې د بهیدنې کموالی او نه اټکل کیدونکی سیاسي وضعیت په ګوته شوي دي.

همدا ډول د بهرنیو زېرمو د شتمنیو د ونډې نرخ۶،۹۶۵.۸۱ سلنې ته رسیږی چې د تیرې دورې په پرتله ۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي خو په ۱۳۹۴ مالي کال کې د وارداتو شاوخوا ۱۱ میاشتې رانغاړي.

د بهرنیو پوراینو (بدهی) د ونډې نرخ د راپور ورکونې په موده کې ۵.۳ سلنه راکم شوی دی چې ارزښت یې ۲،۱۳۹.۷۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

د بهرني سکتور د کمزوره فعالیت او د دې سکتور د بهرنی زیان درلودونکي شاك اصلي لامل د کرنې د سکتور کمزوره ونډه او د اقتصادې تولیداتو کموالی په ګوته شوی دی.

### ۱.۴ د تادیاتو بیلانس

#### ۱.۱.۴ د جاری حساب بیلانس

د شته شمېرو پر بنسټ، د جاري حساب کسر په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۴،۸۰۹.۹۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۴،۰۲۰.۲۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوی او په ټولیزه توګه د کورني ناخالصه تولیداتو ۲۲ سلنه جوړوي. د جاري حساب په کسر کې د دې بدلونونو ستر لاملونه د توکو او خدمتونو د صادراتو ټیټوالی، هېواد ته د جاري لیږدونو (بسپنو) کموالی او همدا ډول د خوراکي توکو او خدمتونو د وارداتو له امله د ادواینو زیاتوالی په ګوته شوي دي.

د شته شمېرو پر بنسټ؛ د جاري حساب کسر په ۱۳۹۴ مالي کې ۲۰ سلنه زیات شوی دی. د سوداګرۍ کسر (د توکو سوداګري) په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۶،۴۵۷.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۵،۸۷۱.۵۳ میلیونه ډالرو په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د خدمتونو د حساب کسر د ۲۰ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۶۷۶.۹۲ میلیونه ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۵۶۴.۱۰ میلیونه ډالرو په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د ټرانسپورټ اړوند خدمتونو له امله د ادواینو زیاتوالی په ګوته شوی دی. همدا ډول د جاري لیږدونو ډېریدنه چې په زیاته اندازه بسپنې او له بهرنیو هېوادونو څخه د کارګرانو د کورني شخصي معاشونو ورکړې رانغاړي په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲،۱۴۴.۲۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې تیر کال د ۲،۴۱۷.۷۵ میلیونه ډالرو په پرتله ۱۱سلنه کموالی په ګوته کوي.


بر عکس، د عوایدو حساب د ۱۳۹۳ مالي کال له ۲.۳۷ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱۹۷.۹۶ میلیونه امریکایي ډالره ډېریدنه لري (۱.۴ جدول).

۱.۴ جدول: د جاري حساب بیلانس

| | د ۱۳۹۲ مالي کال | د ۱۳۹۳ مالي کال | د ۱۳۹۴ مالي کال |
|---|---|---|---|
| د جاري حساب بیلانس | **-846.07** | **-4020.25** | **-4809.97** |
| د سوداګرۍ بیلانس | -1236.78 | -5871.53 | -6457.22 |
| صادرات | 177.55 | 658.29 | 579.99 |
| واردات | -1414.33 | -6529.83 | -7037.21 |
| د خدمتونو حساب | -76.00 | -564.10 | -676.92 |
| د عوایدو حساب | 7.79 | -2.37 | 179.96 |
| جاري لیږدوني | 458.92 | 2417.75 | 2144.21 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱.۴ ګراف: د جاري حساب د ادانیو، توکو، خدمتونو، عوایدو او جاري لیږدونو بیلانس (په میلیون ډالر)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۱.۴ پانګه ایز او مالي حسابونه

د پانګه ایزه حسابونو د ادانیو بیلانس د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۵۱ سلنه ټیټوالي ښکاره کوي چې د دې ټیټوالي اصلي لامل هیواد ته د پانګې کمه لیږدونه ګڼل کیږي.

د پانګه ایزه حسابونو خالصه جریانونه د ۱۳۹۳ مالي کال له ۲،۴۲۹.۹۳ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱،۱۸۸.۸۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته راټیټ شوي دي چې د دې کموالي اصلي لامل د دولت، شرکتونو او کورنیو لخوا د خالصه پانګې په لیږدونه کې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۲،۴۶۳.۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱،۲۱۵.۴۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته ټیټوالی په ګوته شوی دی.

د مالي حساب د ادانیو بیلانس (BOP) خالصه بهرنی جریان په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱۰۹.۵۰میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوی دی چې د تیر کال د ۱۰۱۷.۸۵ میلیونه امریکایي ډالرو خالص بهرني جریان په پرتله د پام وړ کموالی ښکاره کوي. د شمېرو شننه ښکاره کوي چې په بهر کې د هیواد د تولیزه شتمنیو کچه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱۵۲.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۲۱.۵۹ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله د پام وړ زیاتوالی لري.


همدا ډول تولیزه مالي پورواینې د ۱۳۹۳ مالي کال له ۱۶۲.۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲۴.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رابنکته شوي دي چې دې ټیټوالي په هیواد کې د نا امنۍ له کبله د مالي جریان د کمیدو ترڅنګ دواړه بهرنۍ مستقیې پانګونې او د پورتفولیو پانګونې اغیزمنې کړې دي.

۲.۴ جدول: پانګه ایز او مالي حسابونه

| | ۱۳۹۲ مالي کال | ۱۳۹۳ مالي کال | ۱۳۹۴ مالي کال |
|---|---|---|---|
| پانګه ایز او مالي حسابونه | 566.07 | 1412.08 | 1298.37 |
| پانګه ایز حساب | 545.53 | 2429.93 | 1188.86 |
| پانګه ایزې لیږدونې | 552.90 | 2463.32 | 1215.45 |
| مالي حساب | 20.54 | -1017.85 | 109.50 |
| شتمنه ایزه زېرمې | 35.61 | -876.53 | 117.33 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۲.۴ ګراف: پانګه ایز او مالي حسابونه





سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۳.۱.۴ بهرنۍ مستقیمه پانګونه (FDI)

د شته شمېرو له مخې، د بهرنۍ مستقیمو پانګونو (FDI) ټولیزه بهیدنې (جریانونه) په ۱۳۹۴ مالي کال کې 169.15 میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د 42.98 میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. حال دا چې د پانګې د بهیدنې پورټوفولیو د ۱۳۹۳ مالي کال له ثبت شوي ۱۴۸.۶۷ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۸۱.۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته کموالی موندلی دی.

۳.۴ ګراف: د افغانستان د بهرنیو مستقیمو پانګونو جریانونه




سرچینه: بهرنی سکتور، د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۴ د توکو سوداګري (د مال التجاره/ سوداګرۍ)

د توکو د سوداګرۍ کسر چې په ۱۳۹۳ مالي کال کې محدود شوی ؤ په ۱۳۹۴ مالي کال یو ځل بیا خپل حالت ته راوګرځیده چې له امله یې د سوداګرۍ کسر زیات شوی دی. د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د صادراتو عوایدو ۱۰ سلنه کموالی درلوده په ورته وخت کې د وارداتو لګښت شاوخوا ۵ سلنه زیات شوی ؤ؛ له همدې امله د سوداګرۍ کسر ۷ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

همدا ډول د کورني ناخالصه تولیداتو د سلنې له مخې د سوداګرۍ کسر د ۱۳۹۳ مالي کال له ثبت شوې ۳۱ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۳۳ سلنې ته زیات شوی دی.

۴.۴ ګراف: د صادراتو، وارداتو او د سوداګرۍ بیلانس




سرچینه: بهرنی سکتور، د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

#### ۱.۲.۴ صادرات

همدا ډول له صادراتو څخه ترلاسه شوي عواید په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۵۵۵.۷۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ثبت شوې ۶۲۰.۸۸ میلیونه افغانۍ په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي چې دا ټیټوالی د صادراتو په ټولو سترو کټګوریو کې ونډه لري.

د سوداګرۍ د احصائیو پر بنسټ؛ د څرمنو او وړیو، د خوراکي توکو او طبي بذرونو صادرات ټیټیدونکی بهیر ښکاره کوي، حال دا چې غالۍ او ټغرونه په ۱۳۹۴ مالي کال

کې لوړیدونکی بهیر درلوده.

د خرمنو او وړیو له صادراتو څخه تر لاسه شوي عوایـد پـه ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲۸.۴۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۴۹.۳۵ میلیونه امریکایي ډالـرو پـه پرتله ۴۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د خوراکي توکو لکه؛ تازه او وچې میوې او طبي بذرونو له صادراتو څخه ترلاسه شوي عواید په ترتیب سره شاوخوا ۲۳ سلنه او ۲ سلنه راکم شـوي دي. پـه ورته وخت کې له خوراکي توکو او طبي بذرونـو څخـه د ترلاسه شویو عوایدو ارزښت په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲۱۰.۱۷ میلیونه او ۲۰۸.۷۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې پـه ترتیب سره د تیر کال د ۲۷۲.۱۳ میلیونه او ۲۱۲.۳۶ میلیـونـه امریکایي ډالرو په پرتله کموالی ښکاره کوي.

حال دا چې د غالیو او ټغرونو له صادراتو څخه ترلاسه شـوي عواید ۱۰۸.۳۱ سلنې ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مـالي کـال د ثبت شوې ۸۷.۰۴ سلنې په پرتله ۲۴ سلنه زیـاتـوالی ښـکـاره کوي.

**۲.۲.۴ واردات**

په ورته وخت کې د توکو د وارداتو لګښت په ۱۳۹۴ مـالي کال کې ۷،۶۷۹.۰۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ثبت شوي۷،۲۹۴.۶۳ میلیونه امریکـایـي ډالـرو پـه پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

د وارداتو په لګښت کې تر ټولو ستره ونډه نفت او روغنیـات او پانګه ایزه توکي جوړوي. د نفتو او روغنیاتـو واردات پـه ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱،۶۸۸.۵۸ میلیونه امریکایـي ډالـرو تـه رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله ۴۶ سلـنـه زیـاتـوالـی ښکاره کوي او د ټولیزه وارداتو شاوخوا ۲۲ سلنه جوړوي. په ورته وخت کې، د پانګه ایزه توکو د وارداتـو لـګـښـت پـه ۱۳۹۴ مالي کال کې ۳،۵۶۶.۰۷ میلیونه امریکـایـي ډالـرو تـه رسیږي چې د تیر کال د ۲۹۲۹.۶۴ میلیونه امریکایي ډالرو پـه پرتله د ۲۲ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره د ټـولـیـزه وارداتـو ۴۶.۴ سلنه جوړوي.

**۳.۴ جدول: د توکو د سوداګرۍ اجزاوې ( په میلیون ډالر)**


| | ۱۳۹۰ مالي کال | | د ونډې (سلنه) | | ۱۳۹۱ مالي کال | | د ونډې (سلنه) | | ۱۳۹۲ مالي کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) | مجموعه | ونډه (سلنه) |
| **واردات** | **6,388.37** | **100%** | **6,419.67** | **100%** | **9,339.60** | **100%** | **7,294.63** | **100%** | **7,679.09** | **100%** |
| صنعتي مواد | 614.77 | 9.6% | 969.88 | 15.1% | 1272.14 | 13.6% | 863.19 | 11.8% | 709.19 | 9.2% |
| تیل او روغنیات | 2,184.59 | 34.2% | 1,083.65 | 16.9% | 2167.37 | 23.2% | 1155.94 | 15.8% | 1688.58 | 22.0% |
| مصرفي توکي | 857.38 | 13.4% | 1,255.48 | 19.6% | 1942.85 | 20.8% | 2345.86 | 32.2% | 1715.25 | 22.3% |
| پانګه ایزه توکي او داسې نور | 2,731.63 | 42.8% | 3,110.66 | 48.5% | 3,957 | 42.4% | 2929.64 | 40.2% | 3566.07 | 46.4% |
| **صادرات** | **375.03** | **100%** | **261.63** | **100.0%** | **499.81** | **100%** | **620.88** | **100%** | **555.71** | **100%** |
| غالي او ټغر | 46.60 | 12% | 8.43 | 3.2% | 85.5 | 17.1% | 87.04 | 14.0% | 108.31 | 19.5% |
| خوراکي توکي | 133.39 | 36% | 104.23 | 39.8% | 175.92 | 35.2% | 272.13 | 43.8% | 210.17 | 37.8% |
| خرمن او وړی | 28.07 | 7% | 26.82 | 10.3% | 59.54 | 11.9% | 49.35 | 7.9% | 28.47 | 5.1% |
| طبي بذرونه او داسې نور | 166.97 | 45% | 122.15 | 46.7% | 178.86 | 35.8% | 212.36 | 34.2% | 208.76 | 37.6% |
| د سوداګرۍ بیلانس | **-6,013.34** | | **-6,158.04** | | **-8,839.79** | | **-6,673.75** | | **-7,123.38** | |
| د کورني ناخالص تولید له مخې د سوداګرۍ د بیلانس سلنه | **-33%** | | **-31%** | | **-43%** | | **-31%** | | **-33%** | |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

برعکس، د مصرفي توکو د وارداتو لګښت په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱،۷۱۵.۲۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۳۴۵،۸۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۷ سلنه ټیټوالي په ګوته کوي او د ټولیزه وارداتو شاوخوا ۲۲.۳ سلنه جوړوي. د صنعتي موادو د وارداتو لګښت په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۷۰۹.۱۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۸۶۳.۱۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۱۸ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي او د ټولیزه وارداتو شاوخوا ۹.۲ سلنه جوړوي.

۳.۴ جدول له ۱۳۹۰ کال څخه د ۱۳۹۴ مالي کال تر پایه پورې د سوداګریزو توکو د سوداګرۍ مهمې کټګورۍ ښکاره کوي

۵.۴ ګراف: د سوداګرۍ فعالیت او د سوداګرۍ بیلانس (په میلیونه ډالر)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۳.۴ د سوداګرۍ لورې

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د افغانستان د صادراتو لپاره عمده هېوادونه پاکستان، ایران، هند، چین او د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي.


د توکو د سوداګرۍ د احصائیو پر بنسټ، **پاکستان د افغانستان د صادراتو تر ټولو لوی پیریدونکی هېواد دی.** پاکستان ته د افغانستان د ټولیزه صادارتو ونډه ۴۰.۱۹ سلنې ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۳۴.۲۴ سلنې په پرتله ۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د کال په کال مقایسې له مخې پاکستان ته د غالیو او ټغرونو ونډه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۴۴ سلنې ته زیاته شوې ده. په ورته وخت کې پاکستان ته د څرمنو او وړیو او خوراکي توکو لکه؛ تازه او وچې میوې ونډې په ترتیب سره ۲۲ سلنې او ۲۰ سلنې ته راکمې شوي دي.

هند، د افغانستان د صادراتو دویم ستر پیریدونکی هېواد دی. هند ته د افغانستان د صادراتو ونډه د ۱۳۹۳ مالي کال له ۲۵ سلنه ثبت شوې کچې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۳۰ سلنې ته زیاته شوې ده.

د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې هند ته د طبی بذرونو صادرات ۷۱ سلنې ته زیات شوي دي، خو نورې صادراتي کټګورۍ لکه؛ څرمنې او وړۍ، غالي او ټغرونه او خوراکي توکي په ترتیب سره ۸۲ سلنه، ۲۵ سلنه او ۱۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. هند ته د ټولیزه صادراتو کچه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱۶۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۱۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.


د افغانستان د صادراتو دریم ستر پیریدونکی د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي. د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) ته د افغانستان د صادراتو ونډه د تیر کال له ۵ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې شاوخوا ۸ سلنې ته زیاته شوې ده. د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو(CIS) ته د افغانستان د ټولیزه صادراتو کچه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۴۴.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۳۰.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) ته د صادراتي توکو ستره برخه تازه میوې جوړوي چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې یې د ټولیزه صادراتو شاوخوا ۵ سلنه جوړوله.

۶.۴ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۴ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۷.۴ ګراف: د صادراتو لوری ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۳ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې ایران، د افغانستان لپاره د وارداتو تر ټولو ستره سرچینه وه.** له ایران څخه افغانستان ته د ټولیزه وارداتو ونډه د تیر کال له ثبت شوي ۱۹.۵۲ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲۲.۶۹ سلنې ته زیاته شوې ده. افغانستان ته د ایران ټولیزه واردات ۱،۷۴۲.۱۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۴۲۴.۲۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ۱۳۹۴ مالي کال کې له ایران څخه ستر وارداتي توکي پترولیم (تیل) او صنعتي مواد ؤ چې په ترتیب سره د ټولیزه وارداتو ۱۸ سلنه او ۴۱ سلنه جوړوي.

**د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) په ۱۳۹۴ مالي کال کې افغانستان لپاره دویمه ستره وارداتي سرچینه ګڼل کیږي.** افغانستان ته د ګډو ګټو د خپلواکه هېوادونو (CIS) ټولیزه واردات په ۱۳۹۴ مالي کال کې د ۲۰.۵۹ سلنې ونډې په درلودلو سره ۱،۵۸۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي په داسې حال کې چې د ټولیزه وارداتو کچه په ۱۳۹۳ مالي کال کې د ۲۳.۸۴ سلنه ونډې په درلودلو سره ۱،۷۳۹.۲۰ میلیونه امریکایي ډالره وه چې په ټولیزه وارداتو کې ۹ سلنه کموالی ښکاره کوي. په ۱۳۹۴ مالي کال کې د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو مهم وارداتي توکي پترولیم، مصرفي توکي او صنعتي مواد لکه ( فلزي توکي او سره یا پارو) ؤ چې د ټولیزه وارداتو په ترتیب سره ۵۰ سلنه، ۲۰ سلنه او ۱۰ سلنه جوړوي.

**پاکستان د افغانستان لپاره په ۱۳۹۴ مالي کال کې د وارداتو دریمه ستره سرچینه ده.** له پاکستان څخه د ټولیزه وارداتو ونډه په ۱۳۹۴ مالي کال کې تقریباً ثابته پاتې ده، خو افغانستان ته د پاکستان د وارداتو کچه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱،۳۹۱.۹۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۳۶۰.۸۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲ سلنه لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي. مصرفي توکي، صنعتي مواد، پانګه ایزه توکي او پترولیم د پاکستان مهم وارداتي توکي دي.


**چین، د افغانستان څلورم ستر وارداتي هېواد دی.** د چین ټولیزه واردات د ۱۴.۲۱ سلنه ونډې په درلودلو سره ۱،۰۹۰.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۱.۳۰ سلنې ونډې او ۸۲۴.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. پانګه ایزه توکي (پرزې) او مصرفي توکي چې د ټولیزه وارداتو په ترتیب سره ۶۶ سلنه او ۳۲ سلنه جوړوي، د چین بنسټیز وارداتي توکي دي.

جاپان، د امریکا متحده ایالتونه او هندوستان د افغانستان لپاره

په ترتیب سره پنځم، شپږم او اووم ستر وارداتي هېوادونه دي. په ټولیزه وارداتو کې د دې هېوادونو د وارداتو کچې په ترتیب سره ۳.۹٤ سلنه، ۳.۱۸ سلنه او ۱.٦٦ سلنې ته رسیږي. په همدې ترتیب د جاپان ټولیزه صادرات په ۱۳۹٤ مالي کال کې ۳۰۲.۲۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۱٦.۲۷ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ٤۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د پانګه ایزو توکو، درملو د وارداتو زیاتوالی ګڼل کیږي. د جاپان او امریکې ستر وارداتي توکي پرزې، ماشینونه او موټرونه جوړوي.


همدا ډول افغانستان ته د هند د وارداتو کچه په ۱۳۹٤ مالي کال کې ۱۲۷.۲۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۱۱۷.۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي. پانګه ایزه توکي، بوره او پوښاک د هندوستان ستر وارداتي توکي جوړوي.

۸.٤ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹٤ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۹.٤ ګراف: د وارداتو لوری ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۳ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۴ جدول: د بهرنی سوداګرۍ لوری: ۱۳۹٤ مالي کال (په میلیون ډالر)**

| | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بیلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 223.36 | 40.19% | 1391.99 | 18.13% | -1168.63 |
| هند | 169.08 | 30.43% | 127.25 | 1.66% | 41.83 |
| ایران | 29.57 | 5.32% | 1742.18 | 22.69% | -1712.61 |
| جرمني | 6.87 | 1.24% | 33.09 | 0.43% | -26.22 |
| چین | 11.66 | 2.10% | 1,090.92 | 14.21% | -1079.26 |
| انګلستان | | 0.00% | 5.41 | 0.07% | -5.41 |
| سعودي عربستان | 0.25 | 0.04% | | 0.00% | 0.25 |
| د امریکا متحده ایالت | | 0.00% | 244.54 | 3.18% | -244.54 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه(CIS) | 44.13 | 7.94% | 1581.00 | 20.59% | -1536.87 |
| جاپان | | 0.00% | 302.27 | 3.94% | -302.27 |
| نور هېوادونه | 70.79 | 12.74% | 1160.47 | 15.11% | -1089.68 |
| مجموعه | **555.71** | **100%** | **7,679.12** | **100%** | **(7,123.41)** |

**۵.۴ جدول: د بهرنی سوداګرۍ لوری: د ۱۳۹۳ مالي کال ( میلیون امریکایي ډالر)**

| هېوادونه | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بيلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 212.61 | 34.24% | 1360.89 | 18.66% | -1148.28 |
| هند | 153.05 | 24.65% | 117.32 | 1.61% | 35.73 |
| ايران | 40.89 | 6.59% | 1424.21 | 19.52% | -1383.32 |
| جرمني | 18.56 | 2.99% | 76.47 | 1.05% | -57.91 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) | 30.22 | 4.87% | 1739.20 | 23.84% | -1708.98 |
| چين | 31.32 | 5.04% | 824.13 | 11.30% | -792.81 |
| سعودي عربستان | 0.43 | 0.07% | | 0.00% | 0.43 |
| جاپان | | 0.00% | 216.27 | 2.96% | -216.27 |
| انګلستان | | 0.00% | 5.73 | 0.08% | -5.73 |
| د امريکا متحده ايالات | | 0.00% | 78.13 | 1.07% | -78.13 |
| نور هېوادونه | 133.80 | 21.55% | 1452.31 | 19.91% | -1318.51 |
| مجموعه | **620.88** | **100.00%** | **7294.66** | **100.00%** | **-6673.78** |

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

**۴.۴ د سوداګرۍ ترکيب**

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د وارداتو ترکيب ښکاره کوي چې د پانګه ايزه توکو واردات د وارداتو په ټوکرۍ کې د ۴۶.۴ سلنې ونډې په درلودلو سره تر ټولو ستره برخه جوړوي چې د پانګه ايزه توکو د وارداتو کچه د راپور ورکونې په دوره کې ۳،۵۶۶.۰۷ میلیونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۲،۹۲۹.۶۴ میلیونه امريکايي ډالرو په پرتله ۲۲ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.


د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د وارداتو په ټوکرۍ کې دويمه لويه ونډه مصرفي توکو ثبت کړې ده، که څه هم د مصرفي توکو کچه د ۱۳۹۳ مالي کال له ۳۲.۲ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲۲.۳ سلنې ته راکمه شوې ده. همدا ډول د مصرفي توکو د وارداتو د لګښت کچه هم په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱،۷۱۵.۲۵ میلیونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۲۶۴۵.۸۶ میلیونه امريکايي ډالرو په پرتله ۲۷ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي.

د نفتو او روغنياتو(پټروليم) واردات د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې دريمه لويه ونډه جوړوي چې کچه يې د تير کال له ۱۵.۸ سلنې څخه د ارزونې لاندې کال کې ۲۲ سلنې ته زياته شوې ده. په ټوليزه وارداتو کې د نفتو او روغنياتو (نفتي موادو) کچه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱،۶۸۸.۵۸ میلیونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۱۴.۵ ۱،۱۵۵.۹۴ میلیونه امريکايي ډالرو په پرتله ۴۶ سلنه د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د صنعتي موادو کچه چې د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو لږه ونډه لري د ۱۳۹۳ مالي کال له ۱۱.۸ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۹.۲ سلنې ته راټيټه شوې ده. د صنعتي موادو د وارداتو کچه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۷۰۹.۱۹ میلیونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۸۶۳.۱۹ میلیونه امريکايي ډالرو په پرتله ۱۸ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي.


د دې ټيټوالی بنسټيز لامل په ټول هېواد کې د سياسي او امنيتي ناډاډمنتيا په پايله کې د پرمختيايي پروژو د شمېر کموالی دی.

۱۰.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۳ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۴ مالي کال




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د صادراتو ترکیب ښکاره کوي چې خوراکي توکو، د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې تر ټولو ستره برخه درلوده چې کچه یې د ۱۳۹۳ مالي کال له ۴۳.۸ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کې ۳۷.۸ سلنې ته راټیټه شوې ده.

د خوراکي توکو (تیلي بذرونو، تازه او وچې میوو) د صادراتو عواید په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲۰۱.۱۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلي چې د تیر کال د ۲۷۲.۱۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۳ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

په روان مالي کال کې د ټولیزه صادراتو دویمه ستره برخه طبي بذرونو ثبت کړې ده. په ټولیزه صادراتو کې د طبي بذرونو کچه د ۱۳۹۳ مالي کال له ثبت شوې ۳۴.۲ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۳۷.۶ سلنې ته زیاته شوې ده. خو د ارزښت له مخې د طبي بذرونو د صادراتو کچه ۲۰۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلې چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۲۱۲.۳۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲ سلنه لږ څه کموالی ښکاره کوي.


همدا ډول غالۍ او ټغرونه چې په تیرو څو لسیزو کې یې د افغانستان د صادراتو بنسټیزه برخه جوړوله، د ۱۳۹۴ مالي کال په ټولیزه صادراتو کې د ۱۹.۵ سلنې ونډې په درلودلو سره دریم ستر ځای لري چې په ټولیزه صادراتو کې ۵.۵ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

د غالیو او ټغرونو د صادراتو عواید په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱۰۸.۳۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلي چې د تیر کال د ۸۷.۰۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د څرمنو او وړیو کچه چې د افغانستان د صادراتو د ټوکرۍ په وروستي ردیف کې راځي، د تیر کال له ۷.۹ سلنې څخه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۵.۱ سلنې ته راټیټه شوې ده.


همدا ډول د څرمنو او وړیو د صادراتو عواید په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲۸.۴۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیدلي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۴۹.۳۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۴۲ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

۱۲.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه) د ۱۳۹۳




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۱۳.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب ( د ونډې سلنه) ۱۳۹۴ مالي کال




سرچینه: د احصائيې مرکزي اداره او د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۵.۴ بهرنی پوراينې

د افغانستان ټولیزه بهرنی پوراينې (بدهي) په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲،۱۳۹.۷۷ میلیونه امریکايي ډالرو تـه رسـېږي چـې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۲،۲۶۰.۰۴ میلیونه امریکايي ډالرو په پرتله شاوخوا ۵ سلنه یا ۱۲۰ میلیونه امریکايي ډالره ټيټوالی ښکاره کوي. د ټولیزه بهرنیو پوراينو د ټيټوالي لاملونه په اوږد مهاله ډول د بهرنی سوداګرۍ د پور په ادايني، د خالصه نړيواله شتمنيو (NIR) د امانتونو او د برداشت په ځانګړي حقـونـو (SDR) کې کموالی ګڼل کیږي. د برداشت ځانګړي حقونه (SDR) د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) لخوا ټاکل کیږي.

د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې نړیوال بـانـک، د آسـيا پرمختيايي بانک (ADB)، د پرمختـيـا لـپاره د سـعـودي صندوق، د پيسو نړيوال صندوق (IMF) او بلغاريا ته د پـور د اصلي مبلغ بیا ادایـنه شوې. حال دا چې نـړيـوال بـانـک، د آسيا پرمختيايي بانک (ADB) او د کويټ صـنـدوق تـه د خدمتونو لګښتونه هم تاديه شوي دي.

په ورته وخت کې افغانستان ته د سـتـر څـو اړخـيـزه پـور ورکوونکي په توګه نړیوال بانک د ارزونې لانـدې کـال پـه اوږدو کې د ځينو اصلي پورونو ترڅنګ د خدمتونو لګښتونه هم بخښلي دي.

افغانستان ته د پاریس کلب د پور کچه په ۱۳۹۴ مالـي کـال کې ۸۹۸.۸۴ میلیونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د روسيې فدراسیون ته ورکول کیدونکي دي. په بله وينا، افغانستان تـه کوم پورونه چې د پاریس کلب غړو ورکړي د ټولو جـاري بهرنيو پورونو شاوخوا ۴۲ سلنه جوړوي او د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله نژدې ۳ سلنه کموالی لري.

### ۶.۴ جدول: د ۱۳۹۳ مالي کال د بهرنی پوراينې اجزاوې ( په ذکر شوي واحدونو کې)


| | په میلیون ډالر | ټولیزه سلنه |
|---|---|---|
| ټولیزه بهرنی پوراينې | 2,139.77 | 100.00 |
| دوه اړخیزه | 983.63 | 45.97 |
| د پاریس کلب | 898.84 | 42.01 |
| د روسيې فدراسیون | 898.84 | 42.01 |
| متحده ايالات | - | 0.00 |
| جرمني | - | 0.00 |
| د پاریس کلب پرته | 84.79 | 3.96 |
| څو اړخيزې ټولنې: | 1,156.14 | 54.03 |
| د پرمختيا نړيواله ټولنه ( نړيوال بانک) | 357.99 | 16.73 |
| د آسيا پرمختيايي بانک | 655.33 | 30.63 |
| د پیسو نړیوال صندوق | 92.41 | 4.32 |
| اسلامي پرمختيايي بانک | 48.62 | 2.27 |
| د اوپک صندوق | 1.79 | 0.08 |

سرچینه: د پوراينې د شتمنيو د مديريت واحد، د افغانستان د ماليې وزارت

سربېره پر دې، ټولیزه پوراینې د پاریس کلب له غړو پرته لکه پرمختیا لپاره د سعودي صندوق، بلغاریا، د کویټ صندوق او د ایران د پور ورکونې کچه ۸۴.۷۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۱۲۸.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

له بلې خوا، افغانستان ته د څو اړخیزو کریډټونو کچه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱،۱۵۶.۱۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۱،۲۰۶.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د څو اړخیزو کریډټونو په ټولیزه پوراینو کې ۵۰.۷۸ میلیونه امریکایي ډالره ټیټوالی ښکاره کوي.

۱۴.۴ ګراف: د بهرنی پوراینې پرتله: د ۱۳۹۳ مالي کال دریمه ربعه او د ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د خزاینو مدیریت/ د مالیې وزارت/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۶.۴ خالصه نړیواله زېرمې

د وروستیو شمېرو پر بنسټ، خالصه نړیواله زېرمې(NIR) په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۶،۴۴۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ثبت شوي ۶،۶۹۳.۶۵ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳.۷۴ سلنه ډېر کم ټیټوالی ښکاره کوي. د خالصه نړیواله زیرمو (NIR) د کچې د ټیټیدو عمده لامل د شتمنیو د زېرمو کموالی په ګوته شوی چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۶،۹۶۵.۸۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۷۲۴۷.۷۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۳.۸۹ سلنه کموالی لري.

همدا ډول په ۱۳۹۴ مالي کال کې د پوراینې د زېرمو کچه ۵۲۲.۸۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۵۵۴.۱۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۵.۶۵ سلنه ټیټوالی ښیي. دا شمېرې ښکاره کوي چې د پوراینې د زېرمو د کچې په پرتله د شتمنیو د زېرمو کچه لوړه ده. د پوراینو زېرمو د کچې د کمیدو اصلي لامل په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه په ګوته شوي چې کچه یې په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۴۳۳.۵۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ۴۴۳.۸۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲.۳۰ سلنه کموالی ښکاره کوي.


له تمویلي منابعو څخه د ګټې اخیستنې کچه د ۱۳۹۳ مالي کال له ۱۱۰.۱۸ میلیونه امریکایي ډالرو څخه د ارزونې لاندې کال کې ۸۹.۱۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکمه شوې ده چې د تیر کال په پرتله ۱۹.۱۴ سلنه ټیټوالی په ګوته کوي. په بهرنیو اسعارو کې د نامیشتو امانتونو د پوراینې د زېرمې کچې د ارزونې لاندې کال کې هیڅ ډول بدلون نه دی موندلی.

د خالصه نړیواله زېرمو (NIR) د کچې د کمیدو عمده لامل د بهرنیو اسعارو د پام وړ بهیدنې (ورود)، په ځانګړې توګه د بهرنیو او شخصي پیسو لیږدیدنې په ګوته شوي دي. د افغانستان د خالصه نړیواله زېرمو اوسنی حالت د پولي سیاست لپاره ښه ابزار ګڼل کیږي.

اوس مهال، خالصه نړیواله زېرمې(NIR) په منځنی ډول شاوخوا د ۱۰ میاشتو وارداتو لپاره بسنه کوي، په داسې حال کې هغه هېوادونه چې د خپلو زېرمو له لارې د ۶ میاشتو واردات ترسره کولای شي د خپلو زېرمو له نسبتاً ښه وضعیت څخه خوښ ښکاري.

## ۱۵.۴ ګراف: په تیرو څو دورو کې د افغانستان خالصه نړیواله زېرمې(NIR) ښکاره کوي.

۱۵.۴ ګراف: د تیرې دورې په اوږدو کې خالصه نړیواله زېرمې
(په میلیون افغانی)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

## ۷.۴ جدول: خالصه نړیواله زېرمې؛ د ۱۳۹۴ مالي کال (میلیون امریکایي ډالر)

| د ربعې پر اساس بدلونونه | ۱۳۹۱ مالي کال | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۲ مالي کال | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۳ مالي کال | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۴ مالي کال | د بدلونونو سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خالصه نړیواله زېرمې (په میلیون ډالر) | 6,471.94 | 23.22 | 6,678.62 | 3.19 | 6,693.65 | 0.22 | 6,443.00 | -3.74 |
| شتمنه ایزه زېرمې | 6,866.79 | 22.71 | 7,183.33 | 4.61 | 7,247.76 | 0.90 | 6,965.81 | -3.89 |
| د پوراینې زېرمې | 394.85 | 10.91 | 504.71 | 27.82 | 554.12 | 9.79 | 522.80 | -5.65 |
| په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه | 245.00 | 4.00 | 367.65 | 50.06 | 443.80 | 20.71 | 433.57 | -2.30 |
| په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانتونه | 0.11 | -89.57 | 0.14 | 23.87 | 0.14 | -0.02 | 0.14 | 0.00 |
| له تمویلي منابعو څخه ګټه اخیستنه | 149.73 | 17.53 | 136.92 | -8.56 | 110.18 | -19.53 | 89.10 | -19.14 |
| ناخالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | 12.84 | | 9.23 | | 11.92289856 | | 10.88536 | |
| خالصه نړیواله زېرمې ( د وارداتو د میاشتې په اساس) | 12.10 | | 9 | | 11 | | 10 | |

سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

# ۵

# د حقيقي سکتور بدلونونه

## ۵

# د حقیقي سکتور بدلونونه

افغانستان له څو کلونو پراخه اقتصادي ودې وروسته، اوس مهال له ستونز ډک اقتصادي وضعیت تجربه کوي. د ۲۰۱۵ کال د پیل راهیسې اقتصادي بدلونونه ورو او په لوړه کچه زیان منونکي پاتې شوي دي چې اصلي لامل یې په هېواد کې د سیاسي او امنیتي وضعیت له کبله د پانګه اچونکو او مصرفوونکو د باور کموالی په ګوته شوی دی. همدا ډول د ۱۳۹۴ مالي کال په وروستۍ ربعه کې سیاسي وضعیت نسبتاً ښه شوی ؤ چې په اقتصاد باندې په بشپړه توګه مثبتې اغیزې لري.

په هېواد کې د سیاسي او اقتصادي ناډاډمنتیا له امله د اقتصادي رکود په پایله کې اقتصادي کړنې کمزوره شوي دي چې د ۱۳۹۳ مالي کال ۲.۲ سلنې ودې په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال منفي ۲.۴ سلنه وده لري.

د کرنې سکتور چې د افغانستان د کورني ناخالصه تولیداتو یوه مهمه برخه جوړوي د ۱۳۹۳ مالي کال د ۳.۷ سلنې ودې په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې منفي ۱۶.۹ سلنې ته راټیټه شوې ده. د کرنې سکتور د ودې د ټیټېدو اصلي لامل د هېواد په شمال ختیځ زون کې د ځمکو کم حاصلات په ګوته شوي دي. د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د صنعت سکتور ښه وده درلوده چې د ودې نرخ یې له ۲.۴ سلنې څخه ۴. سلنې ته لوړ شوی دی، حال دا چې د خدمتونو د سکتور د ودې نرخ له ۲.۲ سلنې ۱.۳ سلنې ته راټیټ شوی دی.

### ۱.۵ کورني ناخالصه تولیدات د تولیدي سکتور پر اساس


د افغانستان اقتصاد له پخوا څخه په کرنیز سکتور باندې ولاړ دی، که څه هم د کرنې سکتور ونډه د څو کلونو په اوږدو کې په ټولیزه کورني ناخالصه تولیداتو کې راکمه شوې ده. خو اوس هم د کرنې سکتور په افغانستان کې په بشپړ ظرفیت سره تولیدات نه لري. له بلې خوا په کورني ناخالصه تولیداتو کې د خدمتونو د سکتور ونډه د څو تیرو کلونو په اوږدو کې زیاته شوې ده.

د کورني ناخالصه تولیداتو د ټولیزه منفي ۲.۴ سلنې حقیقي ودې عمده برخه له کرنې سکتور څخه منفي ۱۶.۹ سلنه واقعي عواید ګڼل کیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله۲.۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د کرنې سکتور چې د ټولیزه کورني ناخالصه تولیداتو ۲۲.۱ سلنه جوړوي د ۱۳۹۳ مالي کال د ۳.۷ سلنې ودې په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې منفي ۱۶.۹ سلنې ته زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول خدمتونه چې د کورني ناخالصه تولیداتو تر ټولوستره ۵۲.۲ سلنه برخه جوړوي د تیر کال په پرتله لږ څه ټیټوالی ښکاره کوي او د ۱۳۹۳ مالي کال ۲.۲ سلنې ثبت شوې کچې په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې یوازې ۱.۳ سلنه زیاتوالی لري.

له بلې خوا په ټولیزه کورني ناخالصه تولیداتو کې د صنعت سکتور ونډه په تیرو څو کلونو کې د (۲۲.۱ سلنه) بدلونونو په درلودلو سره تقریباً ورته پاتې ده چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۲.۴ سلنه زیاتوالي په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال ۴.۵ سلنه زیاتوالی په ګوته کوي.

۱.۵ ګراف: په کورني ناخالصه تولیداتو کې د سکتورونو ونډه ( په سلنه)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت

اټکل کیده چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې به د کرنیز سکتور وده زیاته شي، خو د هېواد په شمال ختیځ کې د یو ناڅاپي کړکیچ په پایله کې کرنیز سکتور اغیزمن شو.

په ډېرو برخو کې بزګران د کرنیزو تولیداتو د حاصلاتو له

بېلابېلو خنډونو سره مخ شول. د يادونې وړ ده چې دې سيمې د هېواد په کچه تر ټولو زيات غله (حبوبات) توليدوله چې په سيمه کې د وروستيو سياسي ناکراريو له امله په کې کرنيزې چارې کمې شوي دي. شته شمېرې ښکاره کوي چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې د حبوباتو او ترياکو په توليد کې د پام وړ کموالي له امله د کرنيز سکتور محصولات راکم شوي دي. د ترياکو ټوليزه بالقوه توليد په ۱۳۹۴ مالي کال کې شاوخوا ۳۳۰۰ ټنه اټکل شوی دی چې د تير کال د ثبت شوې کچې په پرتله ۴۸ سلنه کموالی ښکاره کوي. د ترياکو د توليد د کچې د ټيټېدو اصلي لامل د کښت لړه ځمکه، خو تر ټولو مهم لامل يې په يو هکتار ځمکه کې د محصولاتو کموالی په ګوته شوی دی.

همدا ډول غلې دانې (حبوبات)، تازه او وچې مېوې او څاروي د تير کال په پرتله ټيټه وده ښکاره کوي. له دې ډلې تر ټولو زيات کموالی په غلو دانو (حبوباتو) کې راغلی دی چې د ۱۳۹۳ مالي کال له ۳.۷ سلنې ودې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې منفي ۱۴.۲ سلنې ته رسيږي. په ۱۳۹۴ مالي کال کې د تازه او وچو ميوو د ودې کچه د ۱۳۹۳ مالي کال له ۱۸.۹ سلنې څخه ۷.۲ سلنې ته راکمه شوې ده. د کرنې سکتور نورې برخې منفي ۲۹.۱ سلنې ته چټک ټيټوالی مونډلی دی، حال دا چې تير کال يې کچه ۰.۹ سلنه وه. له څارويو څخه ترلاسه شوي عوايد د تير کال د ۰.۱ سلنې په پرتله ۰.۴ سلنې ته زيات شوي دي.

په ورته وخت کې د صنعت او خدمتونو په سکتورونو کې کړنې هم اټکل شوې دي چې د ودې لوړ نرخ يې ثبت کړی دی، خو د سياسي کړکيچ د زياتيدو له امله پانګه اچوونکي بې زړه شوي او د مصرفوونکو باور راکم شوی دی.

د شته شمېرو له مخې د خدمتونو سکتور په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱.۳ سلنه وده کړې ده چې د تير کال د ۲.۲ سلنې په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي. د خدمتونو په سکتور کې د ټيټوالي اصلي لامل د مالي چارو، بيمې او د ملکيتونو د سوداګرۍ له لارې د عوايدو چټکه کموالی په ګوته شوی دی. د کورونو (استوګن ځاينو) مالکيت په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۴.۶ سلنې ته رسيږي حال دا چې په ۱۳۹۳ مالي کې يې کچه ۲.۴ سلنې ته رسيده. د دولتي خدمتونو د توليدوونکو د ودې کچه د ۱۳۹۳ مالي کال له ۸.۰ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۲.۳ سلنې ته راکمه شوې ده. د ټرانسپورټ، زېرمه کونې او اړيکو د ودې کچه د ۱۳۹۳ مالي کال د ۱.۸ سلنې په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۴.۲ سلنې ته زياته شوې ده.

په ورته وخت کې، د صنعت سکتور د کرنې د سکتور په پرتله پياوړې کړنې درلودې، توليدات چې د صنعت سکتور تر ټولو ستر فرعي سکتور ګڼل کيږي، کچه يې د تير کال له منفي ۲.۵ سلنې څخه ۱.۰ سلنې ته لږ څه زياتوالی ښکاره کوي.

د ټوليزه کورني ناخالصه توليداتو په اړوند صنعتي سکتورونو کې د پام وړ زياتوالی راغلی دی. د بېلګې په توګه له ودانيز سکتور څخه ترلاسه شوي عوايد چې (د ټوليزه کورني ناخالصه توليداتو ۱۰.۰۳ سلنه جوړوي) له ۷.۰ سلنې څخه ۸.۱ سلنې ته زيات شوي دي.

همدا ډول د صنعت د ځينې نورو فرعي سکتورونو لکه؛ برېښنا، غاز او اوبو د ودې کچه د تير کال له ۲.۷ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال کې منفي ۱.۵ سلنې ته راکمه شوې ده چې د کورني ناخالصه توليداتو ډېره کمه برخه جوړوي، نو ځکه په ټوليزه پايلې باندې د پام وړ اغيزه نه اچوي.

**۱.۵ جدول: د سکتورونو له مخې کورني ناخالصه توليدات (GDP) (د سلنې له مخې)**

| | ۱۳۹۲ (۲۰۱۳_۱۴) | ۱۳۹۳ (۲۰۱۴_۱۵) | ۱۳۹۴ (۲۰۱۵ _ ۱۶) |
|---|---|---|---|
| کرنه | 24.7 | 24.3 | 22.1 |
| صنعت | 19.6 | 20.9 | 22.1 |
| خدمتونه | 51.7 | 51.3 | 52.3 |

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره

**۲.۵ جدول: د تولیداتو د سکتورونو لخوا د حقیقي کورني ناخالصه تولیداتو وده (د سلنې له مخې)**

| | ۱۳۹۲ (۱۴ ـ ۲۰۱۳) | ۱۳۹۳ (۱۵ ـ ۲۰۱۴) | ۱۳۹۴ (۱۶ ـ ۲۰۱۵) |
|---|---|---|---|
| کرنه | 8.3 | 3.7 | -16.9 |
| غلې (حبوبات) | 2.3 | 3.7 | -14.2 |
| میوې | 2.8 | 18.9 | 7.2 |
| څاروي (کورنی ژوي) | -0.2 | 0.1 | 0.4 |
| نور | 16.7 | 0.9 | -29.1 |
| **صنعت** | 4.5 | 2.4 | 4.5 |
| کان او کان کیندنې | -1.8 | -2.2 | -7.9 |
| تولیدات | 1.3 | -2.5 | 1.0 |
| خوراکي توکي، څښاک او تمباکو | 1.2 | 0.7 | 1.5 |
| منسوجات(نساجي)، پوښاک او څرمن | 0.4 | -35.7 | -15.7 |
| د فرنیچر په شمول لرګي او د لرګیو تولیدات | 3.7 | -25.2 | -21.2 |
| کاغذ، د کاغذونو تولید، چاپول او خپرول | 7.7 | 8.9 | 0.1 |
| کیمیاوي مواد، پترولیم، ډبرو سکاره، ربړ او پلاستیک | 0.7 | -16.2 | 1.1 |
| د پترولیم او ډبرو سکارو پرته نا فلزي منرالي مواد | 4.6 | -26.1 | 9.3 |
| اصلي فلزونه | 5.9 | -76.9 | -41.0 |
| برېښنا، غاز او اوبه | 15.6 | 2.7 | -1.5 |
| بیا رغونه | 8.0 | 7.0 | 8.1 |
| **خدمتونه** | 6.4 | 2.2 | 1.3 |
| غونډ(عمده) پلورنه او پرچون پلورنه، ریسټورانټونه او هوټلونه | 0.4 | -1.0 | 3.8 |
| غونډ پلورنه او پرچون پلورنه | -1.5 | -2.7 | 2.9 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 13.6 | 9.2 | 8.9 |
| ټرانسپورټ، زېرمې او مخابرات | 11.9 | 1.8 | 4.2 |
| ټرانسپورټ او زېرمې | 9.1 | -1.7 | 0.7 |
| پُست او پُستي مخابرات | 17.0 | 7.8 | 9.8 |
| مالي چارې، بیمه، املاک او سوداګري | -10.9 | -8.2 | -15.3 |
| بانکوالي | -11.3 | -8.5 | -16.0 |
| بیمه | 2.3 | 2.3 | 3.8 |
| املاک یا جایدادونه او د سوداګرۍ خدمتونه | -8.3 | -4.5 | -6.3 |
| مالکیت او استوګنځایونه | -6.3 | -2.4 | -4.6 |
| د ټولنې، ټولنیز او شخصي خدمتونه | 12.9 | -1.2 | -2.2 |
| دولتي خدمتونه | 4.2 | 8.0 | -2.3 |
| نور خدمتونه | 4.8 | -0.6 | -10.1 |

**سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/** * لومړني معلومات

### ۱.۱.۵ کورنـــي ناخالصه تولیدات د لګښتونو د کټګوریو پر اساس


د لګښتونو د کټګوریو پر اساس کورني ناخالصه تولیدات د نهایي مصرف ټولیزه لګښت، کورنی ناخالصه پانګونې، خالصه صادرات او د توکو په موجودئ کې بدلونونه رانغاړي. په افغانستان کې کورني ناخالصه تولیدات په اسمي توګه د دې میتود له لارې محاسبه کیږي. د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د بازار په نرخ ټولیزه کورني ناخالصه تولیدات ۲.۵ سلنې ته زیات شوي دي چې د دې زیاتوالي اصلي لامل په ټولیزه لګښت او کورنی پانګونه کې زیاتوالی دی. همدا ډول د سوداګرۍ د ستر کسر له امله په اقتصادي پرمختیا باندې فشارونه راکم شوي دي.

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د کورني ناخالصه تولیداتو د زیاتیدو اصلي لامل ټولیزه مصرفي لګښتونه ګڼل کیږي چې له ۱.۸ سلنې څخه ۶.۴ سلنې ته زیات شوي دي. شخصي لګښتونه د زیاتې ودې په درلودلو سره له ۰.۹ سلنې څخه ۷.۲ سلنې ته زیات شوي دي او همدا ډول د تیر کال د ۸۰ سلنه ټولیزه کورني ناخالصه تولیداتو په پرتله ۸۴ سلنه تر ټولو زیاته ونډه ښکاره کوي. له بلې خوا دولتي لګښتونه له ۷.۶ سلنې څخه ۱.۵ سلنې ته راکم شوي دي. د ودانیز سکتور وده د تیر کال له ۱۲.۸ سلنې څخه په ۱۳۹۴ مالي کال ۱۴.۱ سلنې ته زیاته شوې ده. د دوامداره پانګه ایزه توکو وده منفي ۲۷.۹ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د منفي ۴۴.۸ سلنې ثبت شوې ودې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په دې برخو کې د بدلونونو بنسټیز لامل له ۷.۱ سلنې څخه ۱۱.۹ سلنې ته د ټولیزه ناخالصه پانګونو زیاتوالی ګڼل کیږي.

د توکو او نافکتوري خدمتونو صادرات له ۶.۴ سلنې څخه ۱۱.۲ سلنې ته زیات شوي دي چې اصلي لامل یې د نافکتوري خدمتونو ( له ۲.۱ سلنې څخه ۱۱.۲ سلنې) او تر یوه حده پورې د توکو د صادراتو (له ۷.۴ سلنې څخه ۱۱.۲ سلنې) ته زیاتوالی ګڼل کیږي.

د توکو او نافکتوري خدمتونو واردات هم زیات شوي دي چې کولای شي د صادراتو زیاتوالی جبران کړي. په ۱۳۹۴ مالي کال کې د ټولیزه وارداتو د ودې نرخ د ۱۳۹۳ مالي کال له منفي ۶ سلنې څخه ۱۲.۳ سلنې ته لوړ شوی دی چې بنسټیز لامل یې د دواړو برخو توکو او نافکتوري خدمتونو د وارداتو په ترتیب سره ( له منفي ۶.۸ سلنې څخه ۱۱.۲ سلنې) او ( له ۲.۰ سلنې څخه ۲۲.۱ سلنې) زیاتوالی ګڼل کیږي.

۲.۵ ګراف: د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( د سلنې بدلونونه)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره

۳.۵ جدول: د لګښت د کټګوریو له مخې اسمي کورني ناخالصه تولیدات (کال په کال٪ **۵** )

| کټګوري | ۱۳۹۳ | ۱۳۹۴ |
|---|---|---|
| **د نهایي مصرف ټولیزه لګښتونه** | 1.8 | 6.4 |
| خصوصي لګښتونه | 0.9 | 7.2 |
| دولتي لګښتونه | 7.6 | 1.5 |
| **ثابتي کورنی ناخالصه پانګونې** | 7.1 | 11.9 |
| د ثابتې ناخالصه پانګې جوړښت | 7.1 | 11.9 |
| بیا رغونه | 12.8 | 14.0 |
| دوامداره پانګه ایزه توکې | - 44.9 | - 27.9 |
| د بیلانس منابع | - 7.8 | 12.5 |
| **د توکو او نافکتوري خدمتونو صادرات** | 6.4 | 11.2 |
| د توکو صادرات | 7.4 | 11.2 |
| نا فکتوري خدمتونه | 2.1 | 11.2 |
| **کم شي: د توکو او نافکتوري خدمتونو واردات** | - 6.0 | 12.3 |
| د توکو واردات | - 6.8 | 11.2 |
| نافکتوري خدمتونه | 2.0 | 22.1 |
| د توکو په موجودی او د معلوماتو په اختلافونو کې بدلونونه | -15.2 | - 2.6 |
| **د بازار په نرخ ناخالصه کورني تولیدات** | 1.0 | 2.5 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره

## ۲.۵ د ۱۳۹٤ کال لید لوری

تمه کیږي چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې سوداګری لپاره د مناسب چاپیریال د رامنځ ته کولو او د اقتصادي بېخبنستونو د زیاتولو په برخه کې د دولت د ژمنو په پام کې نیولو سره د افغانستان اقتصادي کړنې د پام وړ ښې شي.

په کرنیز سکتور کې به دولت له بزګرو سره خپلو تخنیکي او مشورتي مرستو ته چې د بهرنیو بسپنه ورکوونکو لخوا تمویلیږي، دوام ورکوي. دا مرستې ډېری د کرنیز سکتور په ګټورتوب باندې تمرکز کوي. همدا ډول د غنمو، وریجو او سبزیجاتو د تولید په اړه ځانګړې خرګندونې شوي دي چې دولت به همدې اړه په ځانګړې توګه په شمال ختیځ زون، ننګرهار، هرات او کندهار ولایتونو کې نوې پروژې اعلان کړې دي څو په دې برخو کې د کښت او حاصلاتو کچه ښه او زیاته کړي.

تمه کیږي چې په ۱۳۹۵ مالي کال کې به د صنعت او خدمتونو د سکتورونو کړنې د ۱۳۹٤ مالي کال په پرتله ښې شي چې اصلي لامل یې د دولت لخوا ملي او نړیوالو پانګوالو ته د مناسب چاپیریال د برابرولو ژمنتیا ګڼل کیږي، څو پانګوال وکولای شي په افغانستان کې خپلې سوداګرۍ پیل او پراخه کړي.

په ۱۳۹۵ مالي کال کې د دولت د لومړیتوبونو څخه یو هم په کور دننه د برېښنا د بندونو جوړول او ښه والی دی چې دا کار کولای شي په اقتصادي کړنو باندې د پام وړ مثبتې اغیزې ولري. سربېره پر دې د کور جوړونې په سکتور کې ډېری لویې پروژې لکه؛ په ۱۳۹۵ مالي کال کې چینایي پروژې او د شخصي امنیت لپاره د کور جوړونې پروژې طرحه شوي دي چې د دولت لخوا پلي کیږي. د تاپي (TAPI) او کاسا (CASA-1000 ) پروژې هم د کورني ناخالص تولیداتو په وده کې مهمه برخه لري.

# ٦

## د مالي سکتور بدلونونه

# ۶

# د مالي سکتور بدلونونه

د مالي سکتور د بدلونونو څېړکی د عوایدو د راټولېدو په برخه کې د دولت د کړنو ارزونه او څېړنه، د دولت لګښتونه، بسپنې او پورونه رانغاړي. په ۱۳۹۴ مالي کال کې په بنسټیزه توګه د عواید په راټولېدو کې ښه والی راغلی دی. د عوایدو د راټولېدو د ښه والي اصلي لاملونه د عوایدو د راټولېدو په سیستم کې سمونونه، په مالیاتي کوډ کې اغېزناکه بدلونونه، د مالیې وزارت د بې دریغه هلو ځلو په پایله کې د ګمرکونو او د عوایدو د ادارو عصري کول په ګوته شوي دي.

همدا ډول د افغانستان عامه لګښتونه د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې نامتوازنه پاتې شوي دي چې اصلي لاملونه یې د خراب امنیتي وضعیت په پایله کې د شخصي پانګونې کموالی، د بودجې په اجراء کې ځنډ او د پانګې تیښته ګڼل کیږي. دې عواملو د عملیاتي لګښتونو د زیاتوالي ترڅنګ حکومت د مالي ټیکاو په ساتلو کې له جدي ستونزو سره مخ کړی دی.

د عوایدو په راټولېدو کې له زیاتوالي سره سره اوس هم کورني عواید له دولتي عوایدو دواړو عادي او پرمختیایي لګښتونو څخه د پام وړ کم دي.

همدا ډول د عوایدو په پام کې نیولو سره د دولتي لګښتونو د تطبیق او د مالي تشو د ډکولو په موخه دولت د احتیاطي لګښتي توکو د کموالي په شمول ټینګ اقدامات ترلاس لاندې نیولي دي. د دولت ټولیزه بیلانس په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱۴.۷۰ میلیونه افغانۍ کسر درلودلی دی.

### ۱.۶ د بودجې د اجراء نرخ

په ۱۳۹۴ مالي کال کې د دولتي بودجې د اجراء نرخ په معتدله توګه ښه شوی دی. د افغانستان دولت د تیر کال د ۶۷ سلنې په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال کې یوازې ۷۳ سلنه اصلي بودجه تطبیق کړې ده. د عادي بودجې د اجراء نرخ ۸۳ سلنې ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۷۹ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د پراختیایي لګښتونو د اجراء نرخ ۵۴ سلنې ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۴۶ سلنې په پرتله زیات شوی دی.

د اصلي بودجې د اجراء په نرخ کې کموالي ډېر لاملونه لري چې ډېر مهم یې په ولایتونو کې خراب امنیتي شرایط، د پروژو په پلان او تطبیق کې د وزارتونو او دولتي ادارو کمزوره ظرفیت، د بودجې په تصویب او تدارک کولو کې ځنډ او د بسپنه ورکوونکو د مرستو کموالی ګڼل کیږي.

### ۲.۶ د بودجې کسر


په ۱۳۹۴ مالي کال کې په ټولیزه توګه بودجې کسر درلوده چې دا کسر د ۱۳۹۳ مالي کال له ۱۸.۱۳ میلیونه افغانۍ څخه په ۱۳۹۴ مالي کال ۱۴.۷۰ میلیونه افغانۍ ته راښکته شوی دی. داسې باور کیږي چې د بودجې د کسر د ټیټوالی بنسټیز لامل له اټکل شوې حد څخه د عوایدو د راټولېدو زیاتوالی دی.

### ۳.۶ د عوایدو راټولول

د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې د نوي مالیاتي اقداماتو په پلي کیدو او په ګمرکونو او د عوایدو په ادارو کې د بنسټیزو سمونونو په راوستلو سره د عوایدو د راټولیدو په سیستم کې سمونونه رامنځ ته شو.


د دواړو مالیاتي عوایدو او غیر مالیاتي عوایدو په شمول ټولیزه کورني عوایدو کچه په ۱۳۹۴ مالي کال کې له اټکل شوې ۱۱۴.۲ میلیونه افغانۍ څخه ۱۲۳.۴ میلیونه افغانۍ ته لوړه شوې ده چې د ۱۳۹۳ مالي کال ۱۰۰.۴ میلیونه افغانۍ راټول شویو عوایدو په پرتله ۲۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په همدې ترتیب کورني عواید د دولت د اړتیاوو په پرتله اوس هم د پام وړ کم دي چې عادي او پرمختیایي لګښتونه تأمین کړي.

۱.۶ ګراف: د ۱۳۹۳ کال په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال کورني عواید




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

۲.۶ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال د ټولیزه عوایدو ترکیب





سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

### ۱.۳.۶ مالیاتي عواید

مالیاتي عواید د ټولیزه عوایدو تر ټولو ستره برخه ( د ګمرکونو د عوایدو په شمول شاوخوا ۷۳ سلنه) جوړوي. ټولیزه مالیاتي عواید د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ۱۳۹۴ مالي کال په پای کې ۱۵ سلنه زیات شوي دي. ټولیزه مالیاتي عواید ( د ګمرکي محصول په شمول) ۵۹.۳ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کې د ثبت شوي ۵۲.۱ میلیونه افغانۍ په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

ګمرکي محصول چې د ټولیزه مالیاتي عوایدو دویمه ستره برخه جوړوي په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۳۰.۴۲ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۵.۹۶ میلیونه افغانۍ په پرتله ۱۷ سلنه زیاتوالی ښیي.

۳.۶ ګراف: د مالیاتي عوایدو پرتله




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

۴.۶ ګراف: دکورني عوایدو ترکیب: د ۱۳۹۴ مالي کال له پیل څخه تر اوسه (حقیقي)




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

### ۲.۳.۶ غیر مالیاتي عواید

غیر مالیاتي عواید د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې په دوامداره توګه لوړ اټکل شوي دي او په دې کټګورۍ کې حقیقي عواید ۲۹.۲ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۱۷.۹ میلیونه افغانۍ په پرتله ۶۳ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

استخراجي صنایع چې د غیر مالیاتي عوایدو ستره برخه جوړوي، په ۱۳۹۴ مالي کال کې د کمزوره فعالیت په درلودلو سره ۰.۶۱ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال ۰.۷۰ میلیونه افغانۍ په پرتله ۱۳ سلنه ټیټوالی په ګوته کوي.

سربېره پر دې په ۱۳۹۴ مالي کال کې د ځمکې او ودانیو په پلورلو کې ۲۹ سلنه د پام وړ ټیټوالی راغلی دی.

د غیر مالیاتي عوایدو نورې بنسټیزې برخې د پانګې او جایدادونو، د توکو او خدمتونو د پلورلو، اداري فیسونو، د امتیاز د حق او له غیر مالیاتي جریمو او مجازاتو عواید رانغاړي.


ټولنیزې بسپنې چې د ټولیزه کورني عوایدو یوازې ۴ سلنه جوړوي د تیر کال په پرتله ۲ سلنه ډېر کم زیاتوالی ښکاره کوي. ټولیزه راټول شوي عواید د ۱۳۹۳ مالي کاله له ۴.۳۷ میلیونه افغانۍ څخه ۴.۴۴ میلیونه افغانۍ ته زیات شوي دي.

### ۴.۶ د بسپنه ورکوونکو مرستې

د افغانستان حکومت له بېلابېلو بسپنه ورکوونکو لخه د پیسو له صندقونو او نړیوالو کمیټو څخه په دواړو عملیاتي او پرمختیایي لګښتونو کې د مختلفو پروګرامونو د تمویل په موخه مالي مرستې ترلاسه کوي. ټولیزه مالي مرستې د ۱۳۹۳ مالي کال په پرتله په ۱۳۹۴ مالي کال یوه اندازه ټیټوالی ښکاره کوي.

ټولیزه پرمختیایي او عملیاتي بسپنې په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۱۸۰.۱۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۱۸۱.۹۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۲۴ سلنه کموالی په ګوته کوي. په همدې ترتیب، د افغانستان د بیا رغونې د پیسو صندوق د پروګرام (ARTF) لاندې ترلاسه شوې بسپنې د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې ۵۲.۱۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۹ سلنه کموالی ښکاره کوي. بر عکس د افغانستان د قانون او نظم لپاره وجهي صندوق (LOTFA) څخه ترلاسه شوې مالي مرستې د ارزونې لاندې کال کې ۲۷.۵۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۲۵.۹۴ میلیارده افغانۍ په پرتله ۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې کورنۍ عواید د ټولیزه اصلي بودجې یوازې ۲۹ سلنه جوړوي او پاتې ۷۱ سلنه یې بهرنۍ بسپنې (مالي مرستې) تمویلوي.

۵.۶ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال د ملي بودجې مالي سرچینې





سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

### ۵.۶ لګښتونه

د ۱۳۹۴ مالي کال لپاره تخصیص شوې بودجه ۴۳۸.۵۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۴۵۳.۵۹ میلیارده افغانۍ ټولیزه تخصیص شوې بودجې په پرتله ۳.۳ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

۶.۶ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې پرتله





سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

د دولت ټولیزه بهرنی لګښتونه د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې ۳۱۸.۲۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۳۰۰.۵۲ میلیارده افغانۍ په پرتله ۶ سلنه زیاتوالی لري. له بلې خوا، د کورنی ناخالصه تولیداتو یوازې ۲۶ سلنه لګښتونه جوړوي.

عادي یا عملیاتي لګښتونه د ۱۳۹۴ مالي کال په اوږدو کې ۲۳۵.۳۵ میلیارده افغانۍ ته زیات شوي دي چې د تیر کال د ۲۲۷.۸۷ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او د کورنی ناخالصه تولیداتو ۱۹ سلنه جوړوي.

په ورته وخت کې پرمختیایي لګښتونه ۸۲.۹۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ۷۲.۶۵ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۴ سلنه یا ۱۰.۲۶ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. په همدې ترتیب پرمختیایي لګښتونه د کورنی ناخالصه تولیداتو ۷ سلنه جوړوي.

۷.۶ ګراف: د ۱۳۹۴ مالي کال د ملي بودجې ترکیب




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست د لوی آمریت محاسبه

# ۷

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

## ۷

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

د بانکي نظام شتمنی د ۲۰۱۴ زیږدیز کال د ډیسمبر د میاشتې د ۴.۴۲ سلنه زیاتوالی په پرتله د ارزونې لاندې کال کې ۵.۴۸ سلنې یا ۱۳.۹۹ میلیارده افغانی ته زیاته شوې ده. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو اصلي لامل د بانکي نظام د امانتونو او د اسعارو د مبادلې د نرخ زیاتوالی ګڼل کیږي.

د بانکي نظام د ناخالصه پورونو پورټوفولیو د تیر کال د ۷.۸۹ سلنې کموالي په پرتله د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ۵.۰۳ سلنه یا ۲.۱۷ میلیارده افغانی ته زیاته شوې ده.

د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د پور د پورټوفولیو د زیاتیدو اصلي لاملونه د مبادلې نرخ، د نوي پورونو اداینه او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه ګڼل کیږي.

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي او ارزښت یې ۲۳۷.۰۰ میلیارده افغانی ته رسیږي او د ټولیزه پوراینې په سلو کې ۹۶.۳۴ جوړوي، د تیر کال (۲۰۱۴ ډیسمبر) د ۵.۳۰ سلنه زیاتوالي په پرتله ۸.۲۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د جاري امانتونه او د اسعارو د مبادلې د نرخونو زیاتوالی دی.

د بانکي نظام ډیری امانتونه په امریکایي ډالرو (۶۷.۹۰سلنه) او وریسې افغانی امانتونه ۲۷.۸۶ سلنه دي. د بانکي نظام افغانی امانتونه د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر میاشت د ۱۲.۶۴ سلنه زیاتوالی پر وړاندې په سلو کې ۱۱.۴۶ درجې کموالی موندلی، په داسې حال کې چې ډالري امانتونه د ۲۰۱۴ کال په ډیسمبر کې د ۱.۱۵ سلنه زیاتوالي په پرتله په دې کال کې ۱۷.۴۵سلنه زیات شوي دي.

د بانکي نظام پانګه په ۱۳۹۴ مالي کال کې پیاوړی وضعیت درلود، سره له دې هم د ۱۷.۶۱ سلنه کموالي په درلودلو سره ۲۴.۶۷ میلیارده افغانی ته رسیږي. د بانکي نظام په مالي پانګه کې دا ټیټوالی عمدتاً د ۱۱ میلیارده افغانی[۱] د تسویې ترڅنګ د اسعارو د نوي ارزښت ټاکنې له کبله (چې مخکې د پانګې د یو قلم په توګه راپور ورکول کیده) په یو بانک کې د بهرنیو پلټونکو ګټې د حساب د تسویې په پایله کې په مالیې وزارت باندې د هغه بانک د طلباتو له حساب سره منځ ته راغلی دی.

د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت (CAR) ۱۹.۹۴ سلنه ثبت شوی دی. د ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت له ټاکلي حد څخه پورته دی، خو دوه بانکونه ټاکلي حد ته نژدې او د یو بانک د کفایت نسبت منفي دی[۲].

بانکي نظام په ۲۰۱۵ کال (۱۳۹۴ مالي کال) کې ۵۲۲ میلیونه افغانی خالصه ګټه کړې ده چې د تیر کال د ۲.۰۲ میلیارده افغانی خالصې ګټې په پرتله کموالی ښکاره کوي. د شتمنی ترلاسه شوې ګټه ۰.۲۰ سلنې او د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه ۱.۶۹ سلنې ته رسیږي، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۴ زیږدیز کال په ډیسمبر کې د شتمنی ترلاسه شوې ګټه ۰.۸۳ سلنه او د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه ۶.۸۴ سلنه وه. خصوصي بانکونه او د بهرنیو بانکونو نمایندګی د ارزونې لاندې کال له ګټې سره پای ته رسولی دی، په داسې حال کې چې دولتي بانکونو په دې کال کې زیان کړی دی.

---

[۱] د نوی کابل بانک پانګه د ګټې د حساب د زیان او تسویې په پایله کې په مالیې وزارت باندې د دې بانک د طلباتو له حساب سره د اسعارو د بیا ارزښت ټاکنې او له بهرنی څېړنې وروسته ټیټوالی موندلی او د هغه د مقرراتي پانګې نسبت منفي دی.


[۲] د نوي کابل بانک پانګه د زیاتې خسارې له امله منفي ده.

## ۱.۷ د بانکي نظام شتمنی

د بانکي نظام شتمنی د تیر کال د ۴.۴۲ سلنه زیاتوالي په پرتله د ارزوني لاندې کال کې ۰.۰۵۴۸ سلنه وده ښکاره کوي. د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو اجزاء ښکاره کوي چې تر ټولو ښکاره زیاتیدنه د پانګوني په برخه کې ثبت شوې چې په ۱۳۹۴ مالي کال کې ۳.۷۷ میلیارده افغانۍ (۵۲.۱۲ سلنه) زیاتوالی لري. ورپسې په ترتیب سره د بانکونو ترمنځ طلبات ۱۰.۲۳ میلیارده افغانۍ (۱۵.۰۵ سلنه)، ثابتې شتمنی ۷۵۸ میلیونه (۱۱.۵۰ سلنه)، په خزانه کې نغدې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۳.۱۶ میلیارده افغانۍ ( ۲.۸۰ سلنه) او نګه (خالصه) پورونه د ارزوني لاندې کال په اوږدو کې ۱.۰۷ میلیارده افغانۍ (۲.۶۷ سلنه) زیاتوالی ښکاره کوي. په داسې حال کې چې د شتمنیو نورې کټګورۍ د ارزوني لاندې کال کې۴.۹۴ میلیارده (۳۵.۲۳ سلنه) کموالی لري.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د پورټوفولیو مهمې برخې په خزانه کې نغدې پیسې/ په افغانستان بانک باندې طلبات (۴۲.۸۵ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۲۸.۹۱ سلنه)، نګه (خالصه) پورونه (۱۵.۲۲ سلنه)، پانګونې (۶.۹۵ سلنه)، "نورې شتمنۍ" (۳.۳ سلنه) او ثابتې شتمنی د ټولیزه شتمنیو (۲.۷۲ سلنه) جوړوي. ۱.۷ جدول

**۱.۷ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

**۱.۷ جدول: د بانکي نظام د شتمنی او پورواینې ترکیب**

| | ۱۳۹۲ لینډۍ ۲۰۱۳ ډیسمبر | ۱۳۹۳ لینډۍ ۲۰۱۵ ډیسمبر | د ټولیزه شتمنیو/ پوراینو سلنه | کال په کال وده |
|---|---|---|---|---|
| **شتمنی** | | | | |
| په خزانه کې نغدې پیسې او په افغانستان بانک باندې طلبات | 101,374 | 112,820 | 43.93% | 11.29% |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | 68,809 | 68,025 | 26.49% | -1.14% |
| پانګونې | 11,430 | 15,038 | 5.85% | 31.56% |
| پورونه (خالصه) | 44,834 | 40,281 | 15.69% | -10.15% |
| ثابتې شتمنی | 6,797 | 6,594 | 2.57% | -2.98% |
| نور | 12,507 | 14,037 | 5.46 | 12.23% |
| مجموعه | 245,751 | 256,795 | | 4.50% |
| **پوراینې** | | | | |
| امانتونه | 207,822 | 218,847 | 96.57% | 5.31% |
| پور اخیستنې | 5,620 | 3,981 | 1.76% | -29.16% |
| نور | 4,000 | 3,790 | 1.67% | -5.25% |
| مجموعه | 217,442 | 226,618 | | 4.21% |


سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک

### ۲.۷ ناخالص پورونه

د بانکي نظام ناخالصه پورونه د تیرې ربعې راهیسې ۲.۱۷ میلیارده افغانۍ یا ۵.۰۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۶.۷۸ سلنه جوړوي. د پور په پورتوفولیو کې د مبادلې نرخ، د نوي پورونو اداینه او د اضافه برداشت[۳] پورونو کمه کارونه د زیاتوالي ستر لاملونه ګڼل کیږي.

سربېره پر دې د پور د پورتوفولیو په ډېرولو کې ۹ بانکونه مخکښه دي، په داسې حال کې چې ۵ بانکونو خپله پورتوفولیو راټیټه کړې ده. همدا ډول پاتې یو بانک (نوی کابل بانک) په پور ورکولو کې ونډه نه ده اخیستې. د ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه زیاته شوې ده. خصوصي بانکونو د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د ټولیزې پورتوفولیو د ۹۲.۴۴ سلنې ونډې په لرلو سره ۹.۰۲ سلنه یا ۳.۴۷ میلیارده افغانۍ زیاتوالی، دولتي بانکونه د ۶.۰۵ سلنې ونډې په درلودلو سره ۲۷.۸۸ سلنه یا ۱.۰۶ میلیارده افغانۍ کموالی او د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د پورتفولیو د ۱.۵۰ سلنې ونډې په درلودلو سره ۲۵.۷۱ سلنه یا ۲۳۶ میلیونه افغانۍ کموالی ثبت کړی دی.

**۲.۷ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په پورتوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۱.۲.۷ د پور د زیان زیرمې

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پر مهال، بانکونه باید د خطر د کمولو د اداني له مخې د اعتباري خطر د کمولو ابزارونو ته پاملرنه وکړي. بانکونه اړ دي چې د دواړو عمومي زیرمو (معیاري شتمنیو) او د ځانګړي تدارکاتو (غیر معیاري شتمنیو) د چمتو کولو له لارې خپل اعتباري خطرونه راکم کړي.

د ۲۰۱۵ زیږدیز کال د ډیسمبر (۱۳۹۴ لیندۍ) په پای کې د بانکي نظام ټولیزه تدارکاتي زیرمې د تیر کال (۲۰۱۴ ډیسمبر) په پای کې د ۷.۲۱ سلنې په پرتله د ټولیزه ناخالصه پورونو ۹.۲۹ سلنه جوړوي.

### ۲.۲.۷ د کریډټ وېشنه

د دې لپاره چې د پور د پورتوفولیو کچه پراخه او د خطر متنوع والې ارتوالي وومومي او د نویو عوایدو د ترلاسه کولو سربېره مالي منابعو ته لاسرسی زیات شي، د افغانستان بانک د نورو سوداګریزو پورونو د وېش سکتور په ۳۰ نورو سکتورونو وېشلی دی[۴]. په بیلابېلو سکتورونو کې د کریډټ له تجزیې څخه معلومیږي چې د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر د ۸۱.۷۷ سلنې په پرتله ۹۲.۷۸ سلنه، د پور پورتفولیو ستره برخه "د نورو سوداګریزو پورونو" په توګه ډله بندي شوې چې په عمده ډول د "غونډ پلورنې" لپاره (۹.۸۹ سلنه)، "د تیلو او روغنیاتو" سکتور لپاره (۹.۸۰ سلنه)، د "خوراکي توکو" لپاره (۸.۲۴ سلنه) او د "نورو ټولو خدمتونو" د سکتورونو لپاره ( ۷.۵۶ سلنه) ځانګړي شوې ده. د پورونو شاوخوا ۷۴.۸۴ سلنه لومړی په کابل او بیا په هرات او بلخ ولایتونه کې ورکړل شوي، حال دا چې په نورو ولایتونو کې د پورونو د وېش په تناسب کې انډول په پام کې نه دی نیول شوی. د بانکي نظام د پورونو په جغرافیایي، سکتوري او اداري وېش کې لازمه تنوع راغلې نه ده، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي. دا به ښه وي چې ټول بانکونه په پور ورکولو کې فعاله ونډه واخلي او د پور ورکولو خدمتونه متنوع او په مالي نظام کې خپل رول په ښه توګه ترسره کړي.

---

۳. (OD) اضافه برداشت

۴. د ۱۳۹۳/۶/۲۶ نېټې ۹۳/۰۱ ګڼې د محاسبې او راپور ورکولو متحد المال

۲.۷ جدول: د کریډټ سکتوري وېش

| | د ۱۳۸۸ کب ۲۰۱۰ مارچ | د ۱۳۸۸ کب (د ۲۰۱۰ مارچ) | د ۱۳۸۹ کب (د ۲۰۱۱ مارچ) | د ۱۳۹۰ کب (د ۲۰۱۲ مارچ) | د ۱۳۹۱ لیندۍ (د ۲۰۱۲ ډسمبر) | د ۱۳۹۱ لیندۍ (د ۲۰۱۳ ډسمبر) | د ۱۳۹۳ لیندۍ (د ۲۰۱۴ ډسمبر) | د ۱۳۹۴ لیندۍ (د ۲۰۱۵ جون) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ملکیتونو او د ودانیزو برخې پورونه | 0.19 | 19.92 | 25.98 | 2.85 | 2.29 | 2.02% | 1.80% | 1.90% |
| نور سوداګریز پورونه | - | - | - | - | - | - | | |
| کان کیندنه | - | - | 0.02 | 0.72 | 0.11 | 0.07% | | |
| تولیدات | 0.01 | 1.22 | 2.72 | 13.32 | 11.88 | 9.36% | | |
| سوداګري | 0.51 | 32.29 | 34.16 | 27.84 | 28.3 | 29.81% | | |
| اړیکي | 0 | 1.04 | 1.23 | 0.94 | 2.35 | 3.70% | | |
| خدمتونه | 0.09 | 4.84 | 6.72 | 11.95 | 15.94 | 22.11% | | |
| اسانتیاوې | 0.01 | 2.47 | 0.03 | 0.3 | 0.07 | 0.05% | | |
| کرنیز پورونه | | | | | | | 0.27% | 0.33% |
| څاروي او فارمونه | | | | | | | 0% | 0.03% |
| تولیدات او صنعت ( د فلزونو، لرګیو، پلاستیک او ربړ تولید) | | | | | | | 2% | 4.42% |
| تولیدات، لاسي او ماشیني تولیدات | | | | | | | 4% | 4.24% |
| سمینټ او ودانیز مواد | | | | | | | 3% | 1.96% |
| منسوجات ( نساجي) | | | | | | | 2.59% | 0.52% |
| بریښنا | | | | | | | 0.35% | 0.22% |
| ودانیز او تعمیرات | | | | | | | 12.52% | 7.54% |
| خدمتونه | | | | | | | 4.79% | 3.80% |
| هوټلونه او ریستورانتونه | | | | | | | 1.20% | 1.46% |
| مخابرات | | | | | | | 2.92% | 5.70% |
| ځمکنی ترانسپورټ | | | | | | | 4.87% | 5.31% |
| هوايي ترانسپورټ | | | | | | | 4.18% | 2.66% |
| روغتیا | | | | | | | 0.71% | 1.16% |
| رسنی، اعلانونه، او چاپ | | | | | | | 0.04% | 0.04% |
| نور ټول خدمتونه | | | | | | | 1.41% | 7.56% |
| غوړ پلورنه | | | | | | | 4.93% | 9.89% |
| ماشینونه | | | | | | | 0.12% | 0.25% |
| نفت او روغنیات | | | | | | | 8.74% | 9.80% |
| پرزه جات | | | | | | | 0.24% | 1.42% |
| الکترونیک | | | | | | | 1.40% | 1.58% |
| سمینټ او نور ودانیز مواد | | | | | | | 1.87% | 2.73% |
| خوراکي توکي | | | | | | | 4.52% | 8.24% |
| نور ټول توکي | | | | | | | 5.72% | 3.47% |
| پرچون پلورنه | | | | | | | 3.92% | 3.28% |
| لارې او ریل پټلی | | | | | | | 2.41% | 1.17% |
| بندونه | | | | | | | 0.61% | 0.09% |
| کانونه | | | | | | | 0.08% | 1.48% |
| نورې بېخبنستیزې پروژې | | | | | | | 1.81% | 2.44% |
| مالي او پور ورکونکې اداري | | | | | | | 0.00% | 0.00% |
| کرنیز پورونه | 0 | 0.88 | 0.75 | 2.06 | 2.66 | 2.38% | 2.34% | 2.35% |
| مصرفي پورونه | 0.02 | 1.33 | 1.01 | 0.82 | 0.74 | 0.24% | 0.26% | 0.30% |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | 0.01 | 7.3 | 8.95 | 15.65 | 14.46 | 10.84% | 7.14% | 2.68% |
| نور ټول پورونه | 0.05 | 3.69 | 10 | 12.65 | 10.71 | 9.41% | 6.68% | 0.00% |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت/ د افغانستان بانک


### ۳.۲.۷ د پورونو ډله بندي

#### ۱.۳.۲.۷ صعب الحصول پورونه

د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر د میاشتې په پای کې د صعب الحصول پورونو کچه د ۲.۱۰ میلیارده افغانۍ زیاتوالي په درلودلو سره ۵.۶۰ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۲.۳۴ سلنه جوړوي او د بانکي نظام مقرراتي پانګه د تیرې کال د ټولیزه ناخالصه پورونو د ۳.۴۹ میلیارده افغانیو یا ۰۹.۸ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې کال کې ۲۶.۳۲ سلنې ته رسیږي. له ۶۰ سلنه زیات صعب الحصول پورونه په دوو خصوصي بانکونو پورې تړاو لري چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۴۷.۹۳ جوړوي.

د بانکي نظام د صعب الحصول پورونو پراخه وېش ښکاره کوي چې د صعب الحصول پورونو عمده برخه په سوداګریزو پورونو په زیاته اندازه د سوداګرۍ، تولیداتو او خدمتونو په سکتورونه پورې تړاو لري. د تولیداتو او سوداګرۍ، اسانتیاوو او اشخاصو ته د استوګنې د پورونه کچه زیات شوې ده، حال دا چې د خدمتونو په پورونو کې کموالی راغلی دی.

۳.۷ ګراف: د پورونو د کیفیت پورتوفولیو




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

#### ۲.۳.۲.۷ معکوس ډله بندي شوي پورونه[۵]

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعیار، مشکوکه) پورونه د تیر کال په اوږدو کې د ۲.۱۴ میلیارده افغانۍ زیاتوالی په درلودلو سره ۸.۶۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو ۱۹.۱۶ سلنه جوړوي.

#### ۳.۳.۲.۷ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه[۶]

تر نظر لاندې کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه ۴.۸۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۱۰.۶۹ جوړوي او د تیر کال (۲۰۱۴ ډیسمبر) راپدېخوا ۵۷.۵۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی د بانکي نظام په دوو سوداګریزو بانکونو پورې تړاو لري.

#### ۴.۳.۲.۷ په خساره کټګورۍ کې پورونه[۷]

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۴۰۸ میلیونه افغانۍ یا ۰.۸۹ سلنه جوړوي چې د تیر کال راهیسې ۲۴۰ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې په زیاته اندازه په دوو بانکونو پورې تړاو لري.

### ۳.۷ د بانکونو ترمنځ طلبات

د بانکونو تر منځ طلبات چې د شتمنیو د بېلابېلو کټګوریو په منځ کې دویم ځای لري، د تیر کال ( د ۲۰۱۴ ډیسمبر) راهیسې د ۱۰.۲۳ میلیارده افغانۍ زیاتوالي په درلودلو سره د ټولیزه شتمنیو ۷۸.۲۶میلیارده افغانۍ یا ۲۸.۹۱ سلنه جوړوي چې دا زیاتوالی په څلورو بانکونو پورې اړه لري، بانکي نظام که چېرې معتبره پور اخیستونکي ترلاسه نه کړي د خپلو امانتونو یوه برخه په نورو مالي ادارو کې، د هېواد دننه او یا له هېوادو څخه بهر د امانتونو په توګه ږدي چې وروسته د


۵. معکوس ډله بندي شوي پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۳۱ الی ۹۰ ورځې (تحت المعیار) او ۹۱ ــ۵۳۹ ورځې (مشکوکې) تېرې شوي وي.

[۶] تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سررسید له موعد څخه یې ۱ـ۳۰ ورځې تیرې شوي وي.

[۷] په خساره کټګورۍ کې پورونه: د ۹۲/۰۳ ګڼې ۱۳۹۲/۰۹/۱۶ نېټې مکتوب له مخې هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۵۴۰ یا زیاتې ورځې تیرې شوي وي.

اړتیا په صورت کې دا شتمنې د نقدینه ګۍ یا د لږ خطر لرونکو پور اخیستونکو لخوا د پور د غوښتنلیکونو د ترلاسه کولو سره، په لوړه کچه عاید راوړونکو شتمنیو باندې بدلیدای شي. (۴.۷ جدول)

۴.۷ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د خپل منځي طلباتو ونډه




## ۴.۷ پانګه اچونه[۸]

د بانکي نظام د پانګې پورتوفولیو چې په اړوندو کمپنیو کې پور پانګې، دولتي بیه لرونکي پاڼې او پانګه رانغاړي. د بانکي نظام د پانګې پورتوفولیو په ۱۳۹۴ مالي کال کې د ۲۵.۱۲ سلنې یا ۳.۷۷ میلیارده افغانۍ زیاتوالي په درلودلو سره ۱۸.۸۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ټولیزه شتمنیو ۶.۹۵ سلنه جوړوي. د بانکي نظام د پانګونې ستره برخه له هېواد څخه بهر ترسره کیږي. د پانګونې په پورتوفولیو کې دا زیاتوالي په پنځو سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو په دوه نمایندګیو پورې تړاو لري.

## ۵.۷ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د ټولیزه شتمنیو بله ستره کټګوري ده چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴۲.۸۵ سلنه جوړوي چې د تیر کال (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) د پای راهیسې د ټولیزې شتمنۍ په دواړه مطلق او همدا ډول سلنه ایز کې ۳.۱۶ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.


بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زېرمې له مقرري سره په تطابق کې دی او په محتاط او ورو ډول راجلب شوي پیسې د شتمنیو نورو ډولونو کې ځای په ځای کوي.

## ۶.۷ پوراینې

د بانکي نظام ټولیزه پوراینې ۲۴۶.۰۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال(د ۲۰۱۴ ډیسمبر) د ۲۲۶.۶۷ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۹.۳۳ میلیارده افغانۍ یا ۸.۵۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. له "نورو پوراینو" پرته د ټولیزه پوراینو د کټګورۍ نورې برخې د تیرې ربعې په پرتله زیاتې شوي دي.

امانتونه د بانکي نظام د پوراینې تر ټولو لویه برخه (۹۶.۳۴سلنه) جوړوي چې دا په بانکي نظام د خلکو د ډاډ، د عامه اړیکو او د بازار موندنې د ښو پالیسیو ښکارندوي کوي، "نورې پوراینې" او "پور اخیستنې" په ترتیب سره دویم او دریم ځای لري. (۵.۷ ګراف)

**۵.۷ ګراف: پوراینې ۱۹.۳۳ میلیارده افغانۍ یا ۸.۵۳ سلنه**




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

(۸)پانګې اچونې چې په پور پاڼو، په اړوندو شرکتونو، په یو فرعي شرکت او په یو بانک کې پانګه اچونې رانغاړي

### ۱.۶.۷ امانتونه

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمويلي سرچينه جوړوي، د ارزونې لاندې کال کې ۲۳۷.۰۰ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د ۲۰۱۴ کال د ډيسمبر د ۵.۳۱ سلنه زياتوالي په پرتله ۱۸.۱۵ ميلیارده افغانۍ يا ۸.۲۹ سلنه زياتوالی ښکاره کوي؛ د بانکي نظام د امانتونو د زياتيدو عمده لامل د اسعارو د مبادلې د نرخ زياتوالی دی.

د اسعارو شننه ښکاره کوي چې په امريکايي ډالرو او نورو اسعارو امانتونو کې ۲۶.۷۰ ميلیارده افغانۍ زياتوالی راغلی دی چې شاوخوا ۶ سلنه د پيسو د بهيدنې او پاتې ۹۳ سلنه يې د اسعارو د مبادلې په نرخ کې د زياتوالي له امله ترلاسه شوي دي. د امريکايي ډالرو نرخ د تير کال په پرتله شاوخوا ۹ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

په بانکي نظام کې کوم امانتونه چې په افغانۍ اينښودل شوي د ۲۰۱۴ کال د ۱۲.۶۴ سلنې زياتوالي په پرتله ۱۱.۴۶ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۲۷.۶۴ سلنه جوړوي، حال دا چې په ډالرو اينښودل شوي امانتونه ۱۷.۴۵ سلنې ته لوړ شوي دي چې د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۶۷.۹۰ سلنه جوړوي.

خصوصي بانکونو د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو تر ټولو زياته برخه ۱۵۶.۹۱ ميلیارده افغانۍ راجذب کړې، خو د تير کال د ۸.۹۹ سلنه زياتوالي په پرتله ۱۱.۵۲ سلنه زياتوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۶۶.۲۰ سلنه جوړوي.

د بانکي نظام په ټوليزه امانتونو کې د دولتي بانکونو ونډه د ارزونې لاندې کال کې ۵۸.۵۲ ميلیارده افغانۍ يا ۱.۹۱ سلنې ته زياته شوې چې د بانکي سيستم د ټوليزه امانتونو په سلو کې ۲۴.۶۹ جوړوي.


د بانکي نظام په ټوليزه امانتونو کې د بهرنيو بانکونو د نمايندګيو ونډه ۲۱.۵۷ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۹.۰۴ سلنې کموالي په پرتله ۴.۰۹ سلنه زياتوالی ښکاره کوي او د بانکي نظام د ټوليزه امانتونو ۹.۱۰ سلنه جوړوي.

د امانتونو د ډولونو له مخې، د بانکي نظام جاري امانتونه د ټوليزه امانتونو ۷۷.۲۴ سلنه جوړوي چې د ۶.۹۰ سلنه زياتوالي په درلودلو سره لومړی مقام لري، د بانکي نظام د سپما امانتونه په ټوليزه امانتونو کې د ۳.۹۲ سلنه زياتوالي او ۱۷.۶۰ سلنې ونډې په درلودلو سره په دويم مقام کې راځي، حال دا چې د بانکي نظام موديزه (ميعادي) امانتونه، د امانتونو د پورټوفوليو ۵.۱۶ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۵ کال راهيسې ۶۳.۶۷ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

**۶.۷ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکيب**





**۷.۷ ګراف: په افغانۍ اينښودل شوي امانتونه**





سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت / د افغانستان بانک

**۸.۷ ګراف: امانتونه ۸.۲۹ سلنه یا ۱۸.۱۵ میلیارده افغانی زیات شوي دي**




**۹.۷ ګراف: د امانتونو ډله بندي**




### ۲.۶.۷ پور اخیستنې

د بانکي نظام د تمویل په ټولیزه جوړښت کې د پور اخیستنې ونډه د ۱۱.۸۳ سلنې زیاتوالي سره د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر میاشتې په پای کې ۴.۴۵ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د تیر کال د ۲۹.۱۶ سلنه کموالي په پرتله د بانکي نظام د ټولیزه پوراینې ۱.۸۱ سلنه جوړوي. اوس مهال د بانکي نظام څلور بانکونه پوروړي دي.

### ۷.۷ نقدینه ګی (سیالیت)

د نقدینه ګی خطر کولای شو د پور اخیستونکو او امانتونو ایښودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سیالو شتمنیو نه درلودل تعریف کړو. ټول بانکونه اړ دي څو د نقدینه ګی څخه د راولاړېږي شویو ستونزو د مخنیوی لپاره سیالیت په مطلوب حد کې وساتي.

په همدې ترتیب، بانک بایـد د شتمنیو یـوه مسئوله کمېټه (ALCO) ولري چې د دې کمېټې دنده د بانک د سیاستونو په پام کې نیولو سره د نیمګړتیاوو د تحلیل او تجزیې له لارې د بانك د نقدینه ګی، د حساسیت د ټیسټ، د سناریو د شنني، د نغدي جریان د شنني او داسې نورو له مدیریت څخه عبارت دي.

### ۸.۷ پانګه

بانکي نظام کافي پانګه لري، د بانکي نظام پانګه ۲۴.۶۷ میلیارده افغانی ته رسیږي چې د تیر کال په پرتله ۰.۱۷۶۱ سلنه یا ۵.۲۷ میلیارده افغانی ټیټوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام په مالي پانګه کې دا ټیټوالی عمدتاً د ۱۱ میلیارده افغانی تسویې په پام کې نیولو سره د اسعارو د نوي ارزښت ټاکنې له کبله ( چې مخکې د پانګې د یو قلم په توګه راپور ورکول کیده) په یو بانک کې د بهرنیو پلټونکو لخوا د ګټې د حساب د تسویې په پایله کې په مالیې وزارت باندې د هغه بانک د طلباتو له حساب سره منځ ته راغلی دی

په ټولیزه توګه، د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت ۱۹.۹۴سلنې ته رسیږي.

خو ناټولیزه شننه او تجزیه ښکاره کوي چې د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوې شتمنې په سلو کې ۱۲) څخه لوړ دی. خو دوه بانکونه ټاکل شوي حد ته ډېر نږدي دي. د بازل معیار د پانګې او د خطر په اساس د عیار شوي شتمنی لپاره په سلو کې ۸ دی.

### ۱.۸.۷ د سیالیت نسبت (پراخه کچه)

بانکونه مکلف دي چې د نغدي (سیالو) شتمنیو نسبت له ۱۵ سلنې ټیټ ونه ساتي. دا کار د سیالیت د کمیدو د مخنیوی لپاره ښه لاره ګڼل کیږي.

د بانکي سکتور د نقدینه ګۍ کچه په ټولیزه توګه په دې دوره کې زیاته شوې ده چې د ټولیزه شتمنیو ۶۹ سلنه نغدې شتمنې جوړوي. په منځنې ډول د ټول بانکي نظام د نقدینه ګۍ کچه ۶۸.۲۲ سلنې ته رسیږي. د ټولو بانکونو د نقدینه ګۍ نسبت له ټاکلي حد څخه لوړ دی. (۵.۷ جدول)

| ۳.۷ جدول: د بانکي نظام د مالي ټینګښت مهم شاخصونه | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نسبتونه | ۱۳۸۸ (د ۲۰۱۰ مارچ) | ۱۳۹۰ (د ۲۰۱۱ مارچ) | ۱۳۹۰ (د ۲۰۱۱ مارچ) | ۱۳۹۰ (د ۲۰۱۲ مارچ) | ۱۳۹۱ (د ۲۰۱۲ ډیسمبر) | ۱۳۹۲ (د ۲۰۱۳ ډیسمبر) | ۱۳۹۳ (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) | ۱۳۹۴ (د ۲۰۱۵ ډیسمبر) |
| نسبتونه | 25.81 | -14.46 | 30.39 | 23.06 | 21.84 | 26.34 | 26.46 | 19.94 |
| د پانګې د کفایت د نسبت مجموعه | 24.19 | -14.51 | 30.29 | 23.98 | 19.97 | 24.65 | 26.09 | 19.66 |
| په ۱ ردیف کې د پانګې د کفایت نسبت | 0.5 | 48.4 | 3.75 | 5.15 | 5.31 | 5.10 | 8.09 | 12.34 |
| په ټولیزه ناخالص پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | 1.41 | -20.08 | 0.24 | -1.21 | -0.54 | 0.74 | 0.90 | 0.20 |
| له شتمنیو څخه ترلاسه شوې ګټه(ROA) | 10.35 | -520.66 | 1.9 | -17.9 | -7.17 | 10.03 | 7.35 | 1.69 |
| د پانګه اچوونکو د پانګې ترلاسه شوې ګټه(ROE) | 59.19 | 63.32 | 63.83 | 57.37 | 72.13 | 67.93 | 73.60 | 68.22 |
| د سیالیت نسبت ( پراخه منځنۍ کچه ) | 0.38 | 40.58 | 47.01 | 55.82 | 63.75 | 73.18 | 73.28 | 75.05 |

*له کابل بانک پرته

سرچینه: د مالي چارو د خارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

### ۹.۷ ګټورتیا (نافعیت)

بانکي نظام د ۱۳۹۴ مالي کال په پای کې په ټولیزه توګه ۵۲۲ میلیونه افغانۍ خالصه ګټه کړې دی چې د ۱۳۹۳ مالي کال د ۲.۰۲ میلیارده افغانۍ خالصه ګټې په پرتله ۷۴ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ګټورتیا کموالی په ۵.۷ جدول کې څرګند شوی چې ډېری یې د شتمنیو د خرابیدو د کیفیت په جوړ شوي حساب کې د کریډېټ په چمتو کولو پورې اړه لري، که څه هم د دې کال په اوږدو کې د ټکټانې په خالصه عوایدو کې کموالی او د معاشونو په بیو کې زیاتوالی راغلی دی، حال دا چې غیر ټکټانې عواید زیاتوالی او غیر ټکټانه لګښت کموالی ښکاره کوي.

په پایله کې له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې نسبت د تیر کال له ۰.۸۳ سلنې څخه ۰.۲۰ سلنې ته او د پانګه اچونکو له پانګې څخه ترلاسه شوې ګټې نسبت لـه ۶.۸۴ سلنې څخه ۱.۶۹سلنې ته کم شوی دی.

په ټولیزه توګه څلورو بانکونو ۱.۲۸ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کې ۳۶۶ میلیارده افغانۍ زیان د دوو بانکونو لخوا شوی ؤ.

د اصلي عاید (Core Income) پر بنسټ، دوه بانکونه په زیان کې دی، حال دا چې په تیر کال کې یو بانک په زیان کې ؤ.

د ګروپ پراخه شننه ښکاره کوي چې خصوصي بانکونه او د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ارزونې لاندې کال له ګټې، حال دا چې دولتي بانکونو دا کال له زیان سره پای ته رسولی دی.

د بانکی نظام د ګټورتیا تر ټولوستره برخه د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ جوړوي چې ۳۶۶ میلیونه افغانۍ ته


رسیږي او ۶ میلیونه یا ۱.۶۱ سلنه کموالی ښکاره کوي، په دویمه درجه کې خصوصي بانکونه راځي چې د ۲۲۴ میلیونه افغانۍ ګټې په درلودلو سره ۱.۰۶ میلیونه ټیټوالی ښکاره کوي، حال دا چې دولتي بانکونه په زیان کې دي چې ۶۷ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې اصلي لامل يې د کریډټ تدارکاتي زیاتوالی دی.

### ۴.۷ جدول: د بانکي نظام ګټه/ زیان


| | ۱۳۹۳ ( ۲۰۱۴ ډیسمبر) | ۱۳۹۴ ( ۲۰۱۵ ډیسمبر) | د کال له مخې د سلنې بدلونونه |
|---|---|---|---|
| د ټکتاني عاید | 9,658 | 9,076 | -6.02 |
| د ټکتاني لګښت | 1,893 | 2,044 | 7.97 |
| د ټکتاني خالص عاید | 7,765 | 7,032 | -9.44 |
| غیر ټکتاني عاید | 5,310 | 5,981 | 12.63 |
| غیر ټکتاني لګښتونه | 5,791 | 5,612 | -3.09 |
| د معاشونو مصارف | 3,551 | 3,687 | 3.83 |
| کریډټ (اعتبار) چمتو کول | 1,289 | 2,952 | 129.01 |
| له مالیې څخه مخکې ګټه/زیان | 2,444 | 762 | -68.82 |
| له مالیې څخه وروسته ګټه/زیان | 2,027 | 522 | -74.24 |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

۱۰.۷ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا





۱۲.۷ جدول: د بانکي نظام نهایي خالصه ټکتانه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت / د افغانستان بانک

۱۱.۷ ګراف: له شتمنی ترلاسه شوې ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه



**۱۰.۷د اسعارو خطر**

د اسعارو پرانیستی عمومي وضعیت د خطر کچه تر ډېره حده پورې په هغه محدوده کې د بانکونو لخوا په پام کې نیول شوی چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانك لخوا د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې قرار لری، پرته له شپږو بانکونو څخه چې د اسعارو د پرانیستي عمومي وضعیت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعیت (امریکایي ډالرو) له ټاکل شویو حدودو څخه سرغړونه کړې ده.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغیزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړیدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۹.۰۳ میلیارده افغانۍ ډیریږي او د دې برعکس راکمیدلی شي. په ورته وخت کې ۴ سلنه بدلون ۱.۸۰ میلیارد افغانیو په کچه بدلون راولي او کمېدل یې د دې عکس بدلون راوستلی شي.

**۱۱.۷د ټکټانې د نرخ خطر**

ټول بانکي نظام د ټکټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت د مهال وېش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکټانې خالص عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ټکټانې د ۰.۰۳ سلنې نرخ د زیاتوالي (د ټکټانې د زیاتیدونکي نرخ د شاک) له امله ۱.۷۲ میلیارده افغانۍ ته زیات شي. برعکس، که چېرې د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه ټیټوالی (د ټکټانې د ټیټیدونکي نرخ شاک) ومومي له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۱.۷۲ میلیارده ټیټ شي. که چیرې د یو بانك د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه زیات شي دا کار به د ۱۲ راتلونکو میاشتو په ترڅ کې د دې بانك د خالصې ټکټانې عاید راکم کړي.

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پوراینې د ټکټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ګټه زیاتوي، او په بازار کې د نرخونو د ناثابې کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

**مدیره پلاوی**

| | |
|---|---|
| د پولي سیاست د لوی آمریت آمر: | سید اسحاق علوي |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | مرتضی مظفري |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | نایب خان جمال |
| د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: | عبدالله مسعود |

**د کارکوونکو ونډه**

| | |
|---|---|
| اقتصادي څېړونکی: | میر توفیق انصاري |
| د بهرني سکتور شنونکی: | ولي الله روحي |
| د پولي سکتور احصائیه پوه: | محمد جواد |
| د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت | |
| د داخلي برخې مدیره: | انیسه اثیر |
| د حقیقي سکتور شنونکی: | شفیق احمد فقیر زاده |
| د مالي سکتور شنونکې: | زرلشت معصوم |
| ژباړه: | عین الله عیان |
| ایډیټ: | ایمل هاشور، د اسنادو او اړیکو لوی آمر |
| د سمون چارې: | یما عفیف، د نشراتو مدیر |
| ډیزاین: | خالد احمد فیضي |
| عکس: | زیرک ملیا |

د زیاتو معلوماتو لپاره:

| | |
|---|---|
| ټلیفون: | 020-210-3932 |
| فکس: | +93 (0) 202100305 |
| برښنا لیک: | info@dab.gov.af |
| ویب پاڼه: | www.dab.gov.af |
| فیس بوک: | https://www.facebook.com/AFGCentralbank |
| ټویټر: | https://twitter.com/AFGCentralbank |

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت
برېښنالیک: info@dab.gov.af
ټلیفون: +۹۳ ۲۰ ۲۱۰۴۱۴۶









د اسنادو او اړیکو لوی آمریت
برېښنالیک: info@dab.gov.af
ټلیفون: +۹۳ ۲۰ ۲۱۰۴۱۴۶